## ترپوښتنولاندی د استخباراتي ادارو نیول:

# قانوني معیارونه
# او د استخباراتي ادارو
# د څارنې لپاره غوره چالچلند


هانس بورن  او یان لی
Hans Born and Ian Leigh



د وسلوالو ځواکونو
دیموکراتیک کنترول
لپاره د جینوا مرکز

د بشر د حقوقو مرکز
د قانون ځانگه،
د دورهام Durhamپوهنتون

د ناروئ په پارلمان
کی د استخباراتو
د څارنې کمیته

**ليکوالان:**

Hans Born and Ian Leigh

**د ليکوالې مرستيالان:**

Thorsten Wetzling and Ingrid Beutler

**مشورتی بورد:**

Ian Cameron, Alistair Corbett, Alain Faupin, Hakon Huus-Hansen, Kalman Kocsis, Fredrik Sejersted, Fred Schreie .

**مشوره ورکونکي:**

Andrew Butler, Marina Caparini, Richard B. Doyle, Willem F. van Eekelen, Peter Gill, George Lotz, Barry Wickersham

**د انګليسی متن اديتور:**

Oliver Wates

**طرح و ديزاين:**

Publishing House of the Parliament of Norway, Oslo.

**دچاپ حقوق:**

ټول حقوق خوندي دي. د وسلوالو ځواکونو د ديموکرتيک کنترول لپاره د جينوا د مرکز، يا د ناروی په پارلمان کی د استخباراتو د څارنې د کميټې او يا په انګلستان کی د دورهام د پوهنتون د قانون د څانګې له اجازه څخه پرته د دی کتاب د هيڅ برخې خپرول او همدا راز په يو حافظوی سيستم کی دهغی ساتل، ليږدول، کاپی کول او ثبتول څه په الترونيکی او يا ميکانيکی توګه اجازه نه شته. د دی رسالی د توزيع لپاره يواځی په دی شرط اجازه ورکول کيږي چی د سوداګری،پلورلو او پيرودلو، کرايه او يا داسی نورو ګټو اخيستلو په موخه نه وی. همداراز د خپرونکي د مخکی له مخکی خوښې څخه پرته د رسالی خپرول او يا د راتلونکی خپرونکي له خوا د هغی په محتوا کی بدلون راوستل او يا دکومی ضميمی د زياتولو اجازه نه شته.

د دعوا ردول:
کوم نظرونه او فکرونه چی په دی رساله کی د ليکوالانو له خوا څرګند شوی، هرمرو نه ده چی د وسلوالو ځواکونو د ديموکراتيک کنترول لپاره د جينوا د مرکز، يا د ناروی په پارلمان کی د استخباراتو د څارنې د کميټې او يا په انګلستان کی د دورهام د پوهنتون د قانون د څانګې له نظرونو سره دی سمون ولری.

خپرونکی مؤسسه:

**اصلی متن:** انګليسی، اسلو ، ۲۰۰۵
**پښتو ژباړه:** عبدالباری حکيم
**مصحح :**

# سریزه

د استخباراتی اداريِ تر پوښتونو لاندی نیولو او یا د ځواب ورکونې لپاره د هغه یو سیستم جوړول چې هم اغیزمن او هم دیموکراتیک وی د خورا ډیرو مهمو ننګونو(چلنجونو) څخه شمیرل کیږی چې ننی عصری دولوتونه ورسره مخامخ دي. خو له دغی خورا درندې دندې څخه سرې نه شی کولای چې مخ واړوی، ځکه سیاسی لاربنوونې او په استخباراتی ادارو کی د سمون راوستلو لپاره هڅې د زورزیاتیو په مخ نوی او د حکومتي ټولو څانګو دتوانمندی د زیاتولو سره مرسته کوی.

که څه هم د استخباراتی ادارو د دیموکراتیکې ځواب ورکونې لپاره لږی نړیوالی هڅې شوی، خو تر اوسه پوری په دی برخه کی نړیوال معیارونه جوړ شوی نه دی. د وسلوالو ځواکونو د دیموکراتیک کنترول لپاره د جینوا د مرکز، د ناروی په پارلمان کی د استخباراتو د څارنې د کمیټې او په انګلستان کی د دورهام د پوهنتون د بشر د حقوقو مرکز یو بل ته لاس ورکړی ترڅو د دغی رسالې په خپرولو سره چې په هغی کی د استخباراتی ادارو د دیموکراتیکې ځواب ورکونې په هکله د اوسنیو قانونی معیارونو کتګوری او ارزونه شوی ده، دغه نیمګړتیا له مینځه یوسی. دغی موخې ته د رسیدو لپاره، همدا راز په دی رساله کی هغه ښې عملی لاری چاری هم په ګوته شوي او سپارښتنه ئی شوی چې نه یواځې په هغو هیوادونو کی چیرته چې دیموکراسی د لیږدیدو په دوره کی ده، بلکه هغو هیوادونو کی هم چیرته چې مضبوطی دیموکراسې موجودې دی، د تطبیق وړ دی.

البته ادعا نه کیږی چې د عملی لارو چارو دغه معیارونه او مثالونه په ټولو هیوادونو کی د استخباراتي دیموکراتیکې څارنی لپاره یواځنی نمونه وګڼل شی، بلکه د استخباراتی ادارو د دیموکراتیکې څارنې سیستم د یو هیواد، تاریخ، اساسی قانون، قانونی نظام او همدا راز دیموکراتیکې سابقې او سیاسی فرهنګ پوری اړه لری.

ځینی مقررات او عملی لاری چاری چې په یوه ځای کی منل شوی او اغیزمن وی ، ښائی په یو بل ځای که نه وی. د دی واقیعت په پام کی نیونی سره په دی رسله کی ځینی یادونې ښائی د ځینو هیوادونو لپاره مناسبت ونه ولری. باید وویل شی چې د دیموکراتیکې واکمنې له نظره، پر استخباراتی ادارو څارنه د هر هیواد د اجرائیه، مقننه او قضائیه قوې ګډ مسؤلیت دئ. د یو څارونکې او انډول سیستم جوړول ضروری دی تر څو اجرائیه قوه یواځنئ ارګان نه وی چې پر استخباراتی ادارو د څارنې امتیاز ولری. په دی وجه په خپله استخبارتی اداريِ، ملی پارلمانونه او بهرنی کتونکې ارګانونه هر یو په خپل وار سره په دی برخه کی نقش لری.

هیله ده چې دغه کتاب د واکمنی د دغی پیچلې او مهمی برخی په برخه کی د خلکو خبرتیا زیاته کړی او په دی لاره کی مرسته وکړی چې امنیتی پالیسې او چالچلندونه دهغو خلکو د غوښتنو ربښتینئ غبرګون وې چې هغو ته د خدمت ادعا کیږی.

سفیر لایف میویک Leif Mevik
د ناروی په پارلمان کی
د استخباراتي کمیټې مشر

سفیر داکتر تیودور وینکلر Theodor Winkler
د وسلوالو ځواکونو د دیموکراتیک کنترول لپاره
د جینوا د مرکز مدیر

# د مطالبو فهرست


| فهرست | د موضوع عنوان | پاڼه |
|---|---|---|
| | سریزه | 3 |
| | د مطالبو فهرست | 5 |
| | د چوکاټونو فهرست | 7 |
| | د مخففاتو فهرست | 10 |
| **لومړی برخه** | **وړاندوینه** | |
| لومړی فصل | د امنیتی او استخباراتی ادارو د دیموکراتیکی څارنې تعریف | 13 |
| دوهم فصل | د امنیتی او استخباراتی ادارو د څارنې لپاره اړتیا | 16 |
| دریم فصل | د څارنی لپاره د قانونی معیارونو او دښو عملی لاری چارو لټول:هدفونه، حدود او د لارو چارو پیژندنه | 22 |
| **دوهمه برخه** | **اداره** | |
| څلورم فصل | د واک درلودلو تعریف | 31 |
| پنځم فصل | د استخباراتی او امنیتی اداری د رئیس ټاکنه | 36 |
| شپږم فصل | د خاصو اختیاراتو له صلاحیت څخه کار اخیستل | 39 |
| اووم فصل | معلومات او دوسیې | 45 |
| اتم فصل | داخلی لارښونه او د اداری کنترول | 47 |
| **دریمه برخه** | **د اجرائیه قوې نقش** | |
| نهم فصل | د اجرائې دکنترول لپاره موضوع | 57 |
| لسم فصل | د وزیر مقام خبرتیا او د استخباراتو کنترول | 59 |
| یولسم فصل | په پټو عملیاتو کنترول | 62 |
| دوالسم فصل | نړیواله همکاری | 66 |
| دیارلسم فصل | د وزارت د مقام له خوا د ناوړه استفادی پرضد ساتنه | 70 |
| **څلورمه برخه** | **د پارلمان نقش** | |
| څوارلسم فصل | د پارلمانی څارنې لپاره موضوع | 81 |
| پنځلسم فصل | د پارلمانی څارنې د ارگانونو اختیارات | 84 |
| شپاړسم فصل | د پارلمانی څارنې د ارگان جوړښت | 89 |
| اوولسم فصل | د څارنی د ارگان پلټنه او تصفیه | 92 |
| اتلسم فصل | د معلومات او اسنادو د لاس ته راوړنی لپاره پارلمانی صلاحیتونه | 95 |
| نولسم فصل | پارلمان ته رپوټ ورکول | 98 |
| شلم فصل | د بودجی کنترول | 100 |

# د مطالبو فهرست

**پنځمه برخه** **د بهرنيو پلټونکو ارګانونو نقش**

يوويشتم فصل د خلکو د شکاياتو د حل لارى چارى 113

دوه ويشتم فصل د خپلواکو چارواکو له خوا د حکومت په دننه کی د ادارو څارنه 119

درويشتم فصل د حسابی چارو د پلټنې خپلواک دفترونه 122

**غوره چالچلندونو ته يو لنډه کتنه** 131

**د وسلوالو ځواکونو د ديموکراتيک کنترول لپاره د جينوا مرکز** 138

**د بشر د حقوقو مرکز، د قانون ځانګه، د دورهام Durham پوهنتون** 139

**د ناروى په پارلمان کى د استخباراتى څارنى کميته** 140

**وېډه اخيستونکی** 141

**د اصطلاحاتو د معناو فهرست** 144

# د چوکاټونو فهرست


| شمیره | د چوکاټ عنوان | پاڼه |
|---|---|---|
| ۱ | د نړیوالو سازمانونو له خوا د امنیتی او استخبارتی ادارو د دیموکراتیکې څارنې لپاره ټاکل شوي نورمونه او معیارونه | 14 |
| ۲ | د څارنې تأسیسات او لوبغاړي | 15 |
| ۳ | بشری حقوق کموالی او محدویت نه منی | 18 |
| ۴ | د (ECHR)د ترون له مخی د استخباراتی ادارو لپاره د قانون جوړونی اړتیا (بریتانیا) | 19 |
| ۵ | د قانون کیفیت آزموینه | 20 |
| ۶ | د بشر دحقوقو لپاره اروپائی محکمه | 32 |
| ۷ | د ملی امنیت قانونی تعریف په بوزنیا و هرزګووینا کی | 33 |
| ۸ | د کورني سیاسی مخالفینو پر ضد دحکومتی چارواکو له خوا د استخباراتی او امنیتی ادارو څخه د کار اخیستو د مخ نیوی لپاره دقانون ساتونکي احکام (ارجنتاین) | 34 |
| ۹ | د استخباراتی او امنیتی اداری د رئیس په ټاکنه کی د پارلمان لاس وهنه (آسترالیا) | 36 |
| ۱۰ | د استخباراتی او امنیتی اداری په ټاکنه کی د اجرائیه قوې لاس وهنه (هنګری) | 37 |
| ۱۱ | د استخباراتی اداری د ګوښه کولو لپاره دلایل (پولند) | 37 |
| ۱۲ | د امنیتی او استخباراتی ادارو ځانګړي اختیارات | 39 |
| ۱۳ | د بشر د حقوقو او تروریزم پر ضد د مبارزی په هکله د اروپا د وزیرانو د شورا د ۲۰۰۲ کال ټاکل شوې کړنلاره | 40 |
| ۱۴ | د شخصی حقوقو په هکله د اروپا د بشرد حقوقو د محکمی موضوع | 42 |
| ۱۵ | د معلوماتو د پلټنی حق (هالند) | 45 |
| ۱۶ | په بوزنیا کی د استخباراتی او امنیتی ادارو د قانون د احکامو له مخی د غیر قانونی عمل په هکله ریپوټ ورکونه | 47 |
| ۱۷ | د بربنډولو په وړاندی ساتونکي مقررات | 48 |
| ۱۸ | د جنوبی افریقا د استخباراتی کار کونکو لپاره د کار د څرنګوالی لارښونه | 49 |
| ۱۹ | د استخباراتی او امنیتی اداري په هکله د بوزنیا- هرزیګووینا قانون | 49 |
| ۲۰ | د وزیر او استخباراتی اداری د صلاحیتونو تر منځ د بیلتون کرښه (ولند) | 58 |
| ۲۱ | د وزیر حقوق او د اداری مسؤلیتونه | 59 |
| ۲۲ | له وزیر یا د هغه له مرستیال سره د استخباراتی اداری د رئیس مشوره | 60 |
| ۲۳ | د پټو عملیاتو تعریف(امریکا) | 62 |
| ۲۴ | د پټو عملیاتو اجازه په بهر کی (ریتانیا) | 63 |
| ۲۵ | رہړونه | 64 |
| ۲۶ | د وزیرانو له خوا د پټو فعالیتونو دکنترول لپاره قانون | 65 |
| ۲۷ | د استخباراتی همکاری لپاره مختلفی عملی لاری چاری: دوه اړخیزه همکاری | 66 |
| ۲۸ | په څواړخیزوتوګه د استخباراتی معلوماتو شریکول: د اروپا د اتحادیې او متحده ایالاتو تر منځ د ترون نوي کول | 67 |

# د چوکاټونو فهرست


| شمیره | د چوکاټ عنوان | پاڼه |
|---|---|---|
| ۲۹ | د خپلو اتباعو په هکله بهرنیو استخباراتی ادارو ته معلومات ورکول: د آلمان له استخباراتی قانون څخه مثال | 69 |
| ۳۰ | د پخوانۍ یوګوسلاویا په هکله له نړیوالی جنائی محکمی سره د بوزنیا د استخباراتی اداری دندې | 69 |
| ۳۱ | په هنګری کی د ملی امنیت د ادارو کنترول او اداره | 71 |
| ۳۲ | د امنیتی او استخباراتی ادارې په اړوند د وزیر دندې (آسترآلیا) | 71 |
| ۳۳ | د امنیتی او استخباراتی ادارو د نا پلویتوب د ساتنی لپاره اقدامات | 72 |
| ۳۴ | صدراعظم سره د استخباراتی اداری د رئیس د اړیکو درلودو حق(بریتانیا) | 72 |
| ۳۵ | په ځینو هیوادونو کی د بهرنیو څارونکو او پارلمانی ارګانونو پرتله کول | 82 |
| ۳۶ | د پارلمانی څارنی ارګان لپاره د هر اړخیزو دند یو فهرست | 85 |
| ۳۷ | د پارلمانی څارنی عناصر (آلمان) | 85 |
| ۳۸ | پارلمانی څارنی ارګان ته د سمدلاسه اوپراتیفی موضوعاتو وړاندی کونه | 87 |
| ۳۹ | د قانون واکمنی او بشری حقوق د پارلمانی څارنی د پام وړ موضوع: بیلګه ناروی | 87 |
| ۴۰ | د څارنی د ارګان د غړو ټاکنه | 90 |
| ۴۱ | د ناروی د پارلمان استخباراتی څارنی د کمیتی د سوابقو تصفیه | 92 |
| ۴۲ | د بوزنیا او هرزګووینا د پارلمانی غړو د امنیتی تصفیې د ردولو سره چارچلند | 93 |
| ۴۳ | په ارجنتاین کی د معلوماتو د حق ګډه کمیته | 95 |
| ۴۴ | کانګرس ته د روانو او بشپړو استخباراتی فعالیتونو په هکله د خبرتیا ورکونی دنده (متحده ایالات) | 95 |
| ۴۵ | د امریکا متحده ایالاتو د کانګرس استخباراتی کمیتو ته د پټو عملیاتو رپوټ | 96 |
| ۴۶ | له غیر حکومتی یا بهرنیو کار پوهانو سره مشوره ( لوکزامبورګ) | 97 |
| ۴۷ | څارنی کمیتی د فعالیتونو په هکله پارلمان او اجرائیی ته معلومات ورکول (جنوبی افریقای) | 98 |
| ۴۸ | پارلمان ته د اسناد او رپوټونو د بربندولو پر سر محدودیت(آسترالیا) | 99 |
| ۴۹ | د آلمان د پارلمان د مالی کنترول د هیأت له خوا مالی څارنه | 102 |
| ۵۰ | د پارلمان له خوا د بودجی بشپړ کنترول (هنګری) | 103 |
| ۵۱ | شکایتونو ته ځواب ورکونه: د هالند ملی خپلواک رپوټ ورکونکی | 114 |
| ۵۲ | شکایتونو ته ځواب ورکونه: د پارلمانی استخباراتی څارنی کمیته | 114 |
| ۵۳ | شکایتونو ته ځواب ورکونه: د کانادا د امنیتی استخباراتو د پلټنی کمیته | 115 |
| ۵۴ | د کانادا د عمومی پلټونکی دندې | 119 |
| ۵۵ | د محاسباتو عمومی پلټونکۍ | 123 |
| ۵۶ | عمومی پلټونکي ته د استخباراتی خدماتو د معلوماتو د قانونی بربندونه (بریتانیا) | 124 |
| ۵۷ | د مالی حساب ورکول (لوکزامبورګ) | 125 |
| ۵۸ | د پروژو خپلواکه پلټنه: مثال: د کانادا د محاسباتو د عمومی پلټونکی له خوا د هغه هیواد د استخباراتی خدماتو دملی مقر د ودانی د پروژې محاسباتی پلټنه | 126 |

## په دی کتاب کی د یاد شوو نړیوالو ترنونو، سازمانونو او د یو شمیر هیوادونو استخباراتی اداری

| نوم | مخفف | ژباړه |
|---|---|---|
| Arts and Humanities Research Board | AHRB | د بشری او فرهنگی څیړنو بورد |
| Australian Security IntelligenceOrganisation | ASIO | د آسترالیا داستخباراتو امنیتی سازمان |
| Australian Secret Intelligence | ASIS | Serviceد آسترالیا د پټو استخباراتو خدمات |
| Convention against torture | CAT | د ربړنی ضد ترون |
| Central Intelligence Agency (US) | CIA | دامریکا متحده ایالاتو د مرکزی استخباراتواداره |
| Council of Europe | CoE | د اروپا شورا |
| Commonwealth | Cth | مشترک المنافع |
| Canadian Security Intelligence Service | CSIS | د کانادا د امنیتی استخباراتو خدمات |
| European Committee on Crime Problems | CDPC | د جنائی جرمونو د ستونزو اروپائی کمیته |
| Development Assistance Committee(OECD) | DAC | د پراختیائی مرستو کمیته |
| Geneva Centre for the Democratic Control of Armed Forces | DCAF | د وسلوالو ځواکونو د دیموکراتیک کنترول لپاره د جینوا مرکز |
| Defence Signals Directorate (Australia) | DSD | د دفاعی سیگنالونو مدیریت |
| European Convntion for the Protection of Human Rights and Fundamental Freedoms | ECHR | د بشر د حقوقو او د بنسټیزو آزادیو د ساتنی لپاره د اروپا منشور |
| European Court of Human Rights | ECtHR | د بشری حقوقو اروپائی محکمه |
| European Human Rights Reports | EHRR | د اروپائی بشری حقوقو رپوټونه |
| Norwegian Parliamentary Intelligenc Oversight Committee | EOS | د استخباراتی څارنی لپاره د ناروی پارلمانی کمیته |
| European Union | EU | د اروپا اتحادیه |
| Federal Republic of Germany | FRG | د آلمان فیدرالی جمهوریت |
| Government Communications Headquarters UK | GCHQ | د بریتانيي د حکومت مخابراتی قرارگاوې |
| International Covenant on Civil and Political Rights | ICCPR | د مدنی او سیاسی حقوقو په هکله نړیوال منشور |
| International Covenant on Economic, Social and Cultural Rights | ICESCR | د اقتصادی، ټولنیز او فرهنگی حقوقو په هکله نړیوال منشور |
| Inter-Parliamentary Union | IPU | بین الپارلمانی اتحادیه |
| Security Service (UK) | MI5 | د بریتانیي امنیتی خدمات |
| Secret Intelligence Service (UK) | MI6 | د بریتانیي د پټو استخباراتو خدمات |
| Organisation for Economic Cooperation and Development | OECD | د اقتصادی او پراختیا د همکاری سازمان |
| Organisation for Security and Cooperation in Europe | OSCE | په اروپا کی د امنیت او همکاری سازمان |
| Parliamentary Assembly of the Council of Europe | PACE | د اروپا د شورا پارلمانی مجمع |
| Group of Specialists on Internal Security Services (CoE) | PC-S-SEC | د کورنی امنیت د کارپوهانو ډله |
| Law on the German Parliamentary Control Panel | PKGrG | د آلمان د پارلمانی کنترول دهیأت قانون |
| German Parliamentary Control Panel | PKGr | دآلمان د پارلمانی کنترول هیأت |
| Royal Canadian Mounted Police | RCMP | کانادائی سواره نظام پولیس |
| Republic of South Africa | RSA | د جنوبی افریقا جمهوریت |
| Security Intelligence Review Committee Canada | SIRC | د کانادا د امنیتی استخباراتو د پلټنی کمیته |
| United Kingdom | UK | د بریتانیي متحد سلطنت |
| United Nations | UN | ملگری ملتونه |
| Universal Declaration of Human Right | UNDHR | د بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه |
| United Nations Development Programme | UNDP | د ملگرو ملتو پراختیائی پروگرام |
| United Nations GeneralAssemby | UN GA | د ملگرو ملتو عمومی مجمع |
| United StatesCode | USC | د امریکی متحده ایالاتو مقررات |
| Western European Union | WEU | د لویدیځی اروپا اتحاد |

# لومړی برخه

# وړاندوینه

## لومړی فصل

# د امنيتی او استخباراتی ادارو ديموکراتيک تعريف

مناسب وخت رارسيدلی چی د امنيتی او استخباراتی ادارو د څارنی مسألې ته ځانګړی پاملرنه وشی. د سپتمبر د ۱۱ نيټی دپيښی، د عرا ق د دوهمی جګړی او په مادريد کی د ۲۰۰۴ کال د مارچ د يولسمی نيټی د تروررېستی بريدونو څخه وروسته ډير هغه کسان چی د هيوادونو په پارلمانونو او اجرائيه قواوو کی د استخباراتی سازمانونو د څارنی مسؤليت په غاړه درلود، اوس د استخباراتی مسائلو په اړوند دهغو سازمانونو او د سياسی رهبرانو د چالچلندونو په تحقيقاتو کی برخه لری. د استخباراتی چارو څارونکی چی په هغو کی نه يواځی پارلمانی غړی او وزيران، بلکه قضائی ارګانونه، ډله ايزې خبری رسنې (البته په غير منظمه توګه) او مدنی سازمانونه هم ګډون لری، له يوې ډيرې ستړې دندې سره مخامخ دی. د امنيت او ديموکراسی په وړاندی د خپلو ژمنو په پام کی نيونی سره هغوی بايد قضاوت وکړی چی آيا د استخباراتی ادارو وړانديزونه د هغو ادارو د خپل اغيزمن توب له لحاظه او هم د ځواب ورکوني له لحاظه د قانون په چوکاټ کی څرګندوالئ لری که نه.

### نړيوال موافقت

په عين وخت کی د استخباراتی ادارو د ديموکراتيکی څارنی د موضوع پر سر مخ په زياتيدو نړيوال موافق نظر موجود دئ. ځينی سازمانونه، لکه د اروپا د اقتصادی او پراختيا د همکاری سازمان [1] OECD، ملګری ملتونه [2] UN، د اروپا د همکاری او امنيت سازمان [3] OSCE، د اروپا د شورای پارلمانی مجمع [4] PACE او بين الپارلمانی اتحاديه [5] ټول په همدی نظر دی چی استخباراتی اداری بايد ځواب ورکونې ته وړاندی شی. لومړئ چوکاټ د هغو نورمونو او معيارونو جزئيات څرګندوی چی د امنيتی او استخباراتی ادارو د څارنې لپاره د سيمه ايزو او نړيوالو سازمانونو له خوا طرح شوی دی. [6]

### ديموکراتيکه څارنه: تأسيسات او بيلابيل لوبغاړی

د استخباراتی ادارو دمسؤل ګنلو لپاره پکاره ده چی پارلمانی کنترول او څارنه موجوده وی او په دی برخه کی مدنی ټولنه ونډه واخلی او همکاری وکړی. په ټوليزه توګه موخه دا ده چی امنيتی او استخباراتی ادارې له سياسی سرغړونو او تيرو څخه خوندی وساتل شی، پرته له دی چی دهغو د اجرائی واکمنی مخه ونيوله شی [7]. امنيتی او استخباراتی ادارې بايد د منتخبو استازو له لاری، که په کابينه کی دی او که په پارلمان کی، کوم چی پر هغو ادارو د سياسی کنترول او څارنې واک لری، د خلکو دغوښتنو په وړاندې مسؤل وګڼل شی. لنډه داچی د استخباراتی او امنيتی ادارو په ديموکراتيکه څارنه کی يو لړ تأسيسات او لوبغاړی ګډون لری (په دی اړه دې دوهم چوکاټ وکتل شی).[8]

### ۱ چوکاټ:
### د نړیوالو سازمانونو له خوا د امنیتی او استخبارتی ادارو د  دیموکراتیکې څارنې لپاره ټاکل شوي نورمونه او معیارونه

| سازمان | نورم او معیار | سرچینه |
|---|---|---|
| **UNDP** | **د پوځ، پولیسو او نورو ځواکونو د یموکراتیک ملکی کنترول (دغه رپوټ په امنیتی برخه کی د دیموکراتیک صلاحیت اصول څرگندوی)** | **د بشری پراختیا رپوټ (۲۰۰۰) OSCE** |
| **OSCE** | **"د پوځی ځواکونو، نیمه پوځیانو (ملیشه)، د کورنی امنیت د ځواکونو او همداراز د استخباراتو او پولیسو د دیموکراتیک سیاسی کنترول "(د یو لړ تفصیلی احکامو له مخی  مشخص شوی دی)** | **د امنیت د سیاسی ـ پوځی اړخونو په هکله چالچلند (۱۹۹۴)** |
| **د اروپا شورا (پارلمانی  غونډه)** | **»کورني امنیتی اداری باید د بشر د حقوقو په هکله اروپائی منشور مراعات کړی. د بشری حقوقو د امنیتی ادارو هر ډول مداخله باید د قانون له واکمنی څخه برخه منه وی. قانون جوړونکې مرجع باید روښانه او بشپړ قانونونه تصویب کړی ترڅو کورني امنتیي ادارې پر ټینګ قانونی بنسټ ولاړې وی.«** | **۱۴۰۲ مه سپارښتنه (۱۹۹۹)** |
| **د اروپا اتحادیه (اروپائی پارلمان)** | **د »کوپنهاګن دمعیار» تعینول ترڅو په هغه کی په قانونی توګه د پولیسو، پوځ او مخفی ادارو مسؤلیت ته ګوته ونیوله شی.** | **د ۲۰۰۰ کال د اجندا ۹ §** |
| **د امریکایی هیوادونو د مشرانوغونډه** | **د اساسی قانون له مخی زمونږ د دولتونو د مسؤلو چارواکو تر صلاحیت لاندی د وسلوالو او امنیتی ځواکونو راوستل د دیموکراسی اساسی بنسټ دئ.«** | **د Quebec د عمل پلان** |
| **بین  الپارلمانی اتحادیه** | **د استخباراتی جوړښتونو دیموکراتیکه څارنه باید له یو روښان او څرګند قانونی چوکات درلودو سره پیل شی، هغه چی د پارلمان له پریکړو سره سم د استخباراتی ادارو د جوړیدو لپاره لاره اواره کړی.  په دغه قانونی چوکاټ کی باید د استخباراتی ادارو د صلاحیتونو حدود، د عمل څرنګوالئ  او  هغه امکانات چی د هغو له مخی استخباراتی ادارې ترپوښتنو لاندی نیول کیږی، مشخص کړای شی.** | **د امنیت برخی پارلمانی څارنه. میکانیزم او چالچلندونه، د پارلمانی غړو لپاره د لارښونې کتاب ، پنځمه شمیرنه، جینوا IPU/DCAF، ۲۰۰۳، ۶۴ پاڼه** |
| **د لویدیځی اروپا د اتحاد اسامبله (WEU)** | **« دغه اسامبله له ملی پارلمانونو څخه غوښتنه کوی چی: (۱) د استخباراتی سیستمونو د اصلاحاتو له پروسی حخه ملاتړ وکړی، دا په داسی حال کی چی د پارلمان له قانونی امتیازاتو څخه دفاع کوی، په دی موخه چی له راتول کړای شوو استخباراتی  معلوماتو او له هغو څخه د کار اخیستو څرنګوالئ تر اغیزمنی  دیموکراتیکی څارنی لاندی نیول کیږی.«** | **۱۱۳ مه پریکړه ( د اسامبلی په نهمه غونډه له خوا د ۲۰۰۲ کال د دسمبر په ۴. رائیو په اتفاق سره پرته له بدلونې څخه تصویب شوه )** |
| **OECD** | **د امنیتی او استخباراتی ادارو په ګډون امنیتی سیستم باید د ځواب ورکونې او شفافیت د هغو اصولو له مخی تنظیم شی چی په عامه چارو کی تری کار اخیستل کیږی، په خاصه توګه  پر امنیتی پروسې باندی د پراخې اولسی څارنی  له لارې.** | **د DAC تګ لاره او ریفرینس » د امنیتی سیستم اصلاحات او د صلاحیتونو حدود: پالیسی او سم چالچلند« ۲۰۰۴** |

هر لوبغاړئ یا د څارنې ارګان بیلابیله دنده لری. اجرائیه قوه د دندو سپارلو، بودجې برابرولو او د هدایاتو له ورکولو سره استخباراتی اداری کنترولوی. پارلمان هم په خپل وار سره پر استخباراتو څارنه لری. دغه ډول څارنه تر زیاتی کچی عمومی مسایلو او د بودجی منلو پوری محدوده ده. کله چی د استخباراتی فعالیتونو په چوکاټ کی کومه ناوړه قضیه پیښه شی، نو پارلمان د مسؤلیت احساس کوی او

د قضیې د پلټنې لپاره یوه کمیته ټاکی. قضائیه قوه دنده لری چی د استخبارتی ادارو د ځانګړو صلاحیتونو څخه څارنه وکړی ( پر ناوړه چالچلندونو قضاوت کول). مدنی ټولنه، څیړن ایزې مؤسسی او عام وګړي کولای شی په بیلابیل ډول د استخباراتی ادارو چالچلندونه کنترول او وڅاري: د بیلګې په توګه څیړن ایزی مؤسسی د یو نوي نظر له وړاندې کولو سره، ډله ایزی رسنې د ناوړو پیښنو او کړکیچونو د بربنډولو سره او عام وګړی د غلطو کارنو په وړاندی د غبرګون ښودلو سره دغه ډول څارنې کولای شی.

## ۲ چوکاټ:
## د څارنې ارګانونه او لوبغاړي

- د پارلمان د تصویب شوي قانون له مخی د استخباراتی ادارو د چارو د قانونی کولو له لارې په خپله د هغو ادارو په واسطه داخلی کنترول، داخلی لارښونې او د مسلکی چارو د سرته رسولو لپاره هڅونه؛
- اجرائیه قوه چی په مستقیمه توګه د څارنې دنده په غاړه لری، د استخباراتی ادارو لپاره بودجه، عمومی تګلاره او د هغو ادارو د ړمبنیو فعالیتونو ټاکنه کوی؛
- مقننه قوه د پارلمانی څارنه دنده به غاړه لری، څرنګه چی د هغو قوانینو پریکړه کوی چی د هغو له مخی امنیتی او استخباراتی اداری تعریفیږی، د هغو د صلاحیتونو حدود او ورته مناسبه بودجه ټاکله کیږی؛
- قضائیه قوه نه یواځی د امنیتی او استخباراتی ادارو د ځانګړو صلاحیتونو څارنه کوی، بلکه د هغو د کارکونکو سرغړونی ترپلټنو لاندی هم نیسی؛
- د مدنی ټولنو ډلی، د ډله ایزو رسنیو وسایل، نظریاتی او څیړنه ایزی مؤسسې د عامه سرچینو له لاری د امنیتی او استخباراتی ادارو جوړښت او د کار څرنګوالئ تر څارنې لاندی نیسی. عام وګړی کولای شی چی د ځینو خاصو محکمو، خپلواکو څارونکو یا کمینشرانو اویا عمومی پلټونکو له لاری د استخباراتی ادارو د ځانګړو صلاحیتو څارنه وکړی.
- په نړیواله سطحه داسی ارګان نه شته چی د امنیتی او استخباراتی ادارو څارنه وکړی. د اروپا د بشر د حقوقو محکمه ECHR یواځنئ ارګان دئ چی د تقریبا ټولو اروپایی دولتونو د حکومتی ارګانونو د چالچلندونو په هکله د وګړو شکایتونو ته غوږ نیسی.

داچی د استخباراتی ادارو په دیموکراتیکه څارنه کی مختلف لوبغاړی برخه لری، نو په دی وجه دغه ډول څارنه د اړوندو هیوادونو د ټولنو سیاسی فرهنګ پوری هم اړه لری. شفافیت، مسؤلیت، حساب ورکونه، د خلکو ونډه او هغو ته د ځواب ورکونه دا ټول د دیموکراتیکی حساب ورکونې د بنسټ ډبرې دي. دغه ارزښتونه د هغه یو فرهنګ او اخلاق غوښتنه کوی چی له قانون او مقرراتو څخه لوړ ځای لری. سره له دی، قانون باید د کار هغه یو چوکاټ جوړ کړی چی د هغه دننه کی د څرکند ویلو او پرانیستئ فرهنګ او د بشر حقوقو ته درناوئ وده وکړي.

## دوهم فصل

# پر امنيتی او استخباراتی ادارو
# د څارنې لپاره اړتيا

امنيتي او استخباراتي اداری د يو ديموکراتيک دولت د ملی امنيت او آزاد نظم په ساتلو کی خورا مهم خدمتونه سرته رسوی. داچی دغه ادارې په پټه توګه کار کوی او د استخباراتی ماموريتونو له غوښتنې سره سم خپلی دندې پټی ساتی، هغوی د پرانيستې ټولنې د اصل له مخالفت سره مخامخ کيږی. نو په همدی وجه د امنيتی او استخباراتی ادارو دغه ضد او نقيض دريځ ( د پټو امکاناتو له لاری د يوی پرانيستی ټولنې ساتنه) بايد تر ديموکراتيکی پوښتنی او اولسی څارنې لاندې ونيول شی. د لږ تر لږه پنځو لاملونو له کبله پر دغو ادارو اولسی کنترول د اهميت وړ دی.

**لومړئ :** د پرانيستی او شفافيت د اصل پر خلاف چی د ديموکراتيکی څارنی په زړه کی ځای لری، امنيتي او استخباراتی اداری تر زياتی کچی په پټه توګه کار کوی. داچی په عملياتو کی په پټه توګه کار دغه اداری د عامو خلکو له نظره ليری ښائی وساتی، غوره ده چی پارلمان او په خاصه توګه اجرائيه قوه دغه فعاليتونه له نژدی وڅاری.
**دوهم:** استخباراتی او امنيتی اداری له خاص قدرت حخه برخه من دي، لکه د خلکو په شخصی شتمنيو، مخابراتی او ليکی اړيکو کی لاس وهنه. دغه ډول لاس وهنی کيدای شی چی بشری حقوق محدود کړی. نو په دی وجه د څارنی ارګانونه دنده لری ترڅو په دی برخه کی څارنه وکړی. څرنګه چی د اروپا د پارلمانی شورا عمومی غونډه (CoE) په دی اړه وايی:

> **داسی انديښنی شته دي چی د (CoE)د غړو هيوادونو د کورنی امنيت اداری ډيری ګټي چی د هغو په نظر د اړوندو هيوادونو ملی او کورني ګټي دی، د بشر حقوقو ته له درناوي څخه لوړ ګڼی. سر بيره پر دی، داچی د کورنی امنيت اداری ډير زيات نه کنټروليږی، له قدرت څخه دناوړه استفادی او همدا راز د بشر له حقوقو څخه د سر غړونی خطر ډير زيات دئ، مګر داچی قانونی څارنه موجوده وی.**[9]

دغه ستونزی هغه وخت نوری هم زياتيږی چی کورنی امنيتی ادارې ځينی نور صلاحيتونه لکه ځان ساتونکی او اجرائی ميتودونه لاس ته راوړی او بيا په خاصه توګه چی هغوی د دری ګونو ارګانونو(اجرائيه، مقننه او قضائيه) له خوا په ښه توګه تر څارنی لاندی ونه نيول شی او يا دا چی په يوه هيواد کی ډيرې مخفی اداری موجودې وی.[10]

**دريم:** د سړی جګړی څخه وروسته زمانه کی او بيا په خاصه توګه د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د ۱۱ پيښې څخه وروسته د تقريبا ټولو دولتونو استخباراتی ټولنی د نوو امنيتی ګواښونو په وړاندې ځانونه تياروی. د يادونې وړ ده چی په اوسنی وخت کی ديموکراتيکو ټولنو ته ګواښ د بهرنيو پوځی تيريو له خوا نه بلکه ډير زيات د تنظيم شوو جنائی جرمونو، تروريزم، سيمه ايزو لانجو او يا د دولتونو د له مينځه تلو او هم د انسانی او مالی قاچاق له امله احساسيږی. د دا ډول ګواښونو په وړاندې د استخباراتی ادارو تيارئ بايد تر اولسی څارنی لاندی وی ترڅو خلک ډاډه شی چی د هغو ادارو بيارغاونه د خلکو له غوښتنی سره سم سرته رسول کيږی. داچی استخباراتی اداری د حکومت د سترو بيروکراسيو څخه

شمیرل کیږی او زیاته مینه نه لری چې په خپلو جوړښتنو کې سمون راولې، نو پارلمانونو ته ښائی ډاد ورکړی چې په هغو ادارو کې غوښتل شوی اصلاحات په رښتینی توګه د عمل جامه اغوندی.

**څلورم:** امنیتی او استخباراتی اداری دنده لری چې د یو احتمالی خطر په هکله معلومات راټول کړی او د هغو ارزونه وکړی. داچې د یو خطر ارزونه د دولت د نورو امنیتی ځواکونو ( پوځ، پولیس، سرحدی قواوې....) لپاره د عمل کولو لامل ګرځی، نو د یو خطر ارزونه باید د دیموکراتیکو لارښوونو لاندی وشی. دغه ارزوني له دې کبله هم د پاملرنې وړ دی چې ښائی د هغو ګواښونو وړاندوینی هم وکړی چې سیاسی بدلونونه ورسره جوخت دي.

**پنځم:** پنځم دلیل چې ولی امنیتی او ستخباراتی اداری باید ترڅارنی لاندی وی، هغو هیوادونو پوری اړه نیسی چې تر څه مودې مخکی مطلق العنان رژیمونه په کی واکمن ؤ اواوس انتقالی دیموکراسې په دوره کی دي. پخوا هلته د استخباراتی ادارو مهمه دنده دا وه چې د اولس په وړاندې د دیکتاتورو مشرانو څخه ساتنه وکړی. په داسی رژیمونو کی امنیتی او استخباراتی ادارو تر زیاتی اندازی د زور پالني ماموریت ترسره کړئ دئ. په دی وجه د زورپالني د دورې د یوې ادارې په یوی پرمختللی او دیموکراتیکې ادارې بدلول د ډیر زیات زیار غوښتنه کوی. د دی لپاره چې د پرون ورځی د زورزیاتیو یوه اداره په یوې پرمختللی پالیسی لرونکې اداری بدله شی، اجرائیه قوه او پارلمان باید په یوی دقیقی څارنې لاس پورې کړي.

## د قانون جوړونې لپاره اړتیا

د قانون واکمني د دیموکراسی د بنسټیزو اصولو څخه شمیرل کیږی. امنیتی او استخباراتی اداري یواځی هغه وخت قانونی بڼه لری چې د قانون بر بنسټ جوړې شوې وي او د یو قانونی رژیم له خوا ورته واک او صلاحیت ورکړ شوئ وي. که چیری د کار داسی یو چوکاټ وجود ونلری، نو بیا د هغو چارو تر مینځ چې د یو دولت په استازیتوب سرته رسول کیږی او د ترورستانو په ګډون د قانون سرغړونکو له خوا، کوم توپیر نه شته. «ملی امنیت» باید له قانون څخه د سرغړونو لپاره پلمه ونه ګرځی او نه د قانون واکمنی حخه سترګی پټې کړای شی، ځکه د دیموکراتیکو دولتونو نښانه د قانون واکمني ده، حتی په بیړنیو حالاتو کی هم. په داسی حالاتو کی هم د امنیتی ادارو استثنایی صلاحیتونه باید د قانون په چوکاټ کی ترتیب او تنظیم شی.

قانون جوړونه د دیموکراتیکو غوښتنو د عمل جامه ده. په ډیري دولتونو کی (د دولت د چالچلند د پلټنې او کنترول تر څنګ) د قانون تصویب د پارلمان له دندو څخه شمیرل کیږی. په دی وجه لازمه ده چې په دیموکراسیو کی، چیرته چې د قانون واکمنی لاس برتوب لری، امنیتی او استخباراتی اداری خپل شته والئ او خپل واک او اختیار د قانون پر بنست ودروی، نه داچې د مهمو چارو د سرته رسولو په پلمه، له ځانګړو صلاحیتونو څخه کار واخلی. د قانون پر بنسټ د هغو ادارو درول د هغو قانونی شته والئ غښتلئ کوي او دیموکراتو استازو ته لاره اواروی چې هغو اصولو ته پاملرنه وکړی چې د حکومت پر دی مهمی برخی کی باید واکمن وي. سر بیره پردی، د دی لپاره چې د ملی امنیت قانونی

صلاحیتونه د بشر د حقوقو معیارونو ته هم ګټور وی، امنیتی سکتور باید خپله واکمنی د قانون پر بنسټ ودروي. د امنیتی ادارو د جوړولو، قدرت او صلاحیتونو لپاره پارلمانی پریکړې حتمي دي، خو د قانون د واکمنی د ضمانت لپاره بسیا نه کوی. د یو قانونی بنسټ درلودل د هغو ادارو قانونی شته والی او قانونی صلاحیتونو ته ( چې ډیري استثنایی دی) قوت ورکوی. د مقننیې یوه بله دنده دا ده چې د نور ساحو په څیر هغو ادارو ته هم صلاحیتونه ورکوی. خو په عین وخت کی په قانون کی د خپل سرو اختیاراتو او صلاحیتونو مخ نیوئ هم کوی.

## د بنسټیزو او بشری حقوقو محدودول

د قانون جوړونی ارګانونو شته والی له دی کبله هم ضروری دي چې دولتونه غواړی د ملی امنیت د ګټو خوندی ساتلو په پلمه د خلکو بنسټیز او بشری حقوق تر پوښتنی لاندی راولی او یا هغه محدود کړی. دا کار له دوو لارو ممکن دئ. لومړئ د ټولنیزو ګټو تر نامه لاندې په منظمه توګه د بشری حقوقو محدودول [11] او د استخباراتی مامورینو د بیان پر حق بندیز لګول، په دی پلمه چې ګواکی د هغوی فعالیتونه باید پټ وی. دوهم، په بیړنی حالاتو کی چې د دولت امنیت سخت اغیزمن شوئ وي، کیدای شي چې د قانونی لارو چارو څخه په کار اخیستو سره پر دغو حقوقو باندی سختی راوستل وشی. حال داچې په دریم چوکاټ کی لیدل کیری چې بشری حقوق هیڅ ډول حالاتو کی محدودیت منلی نه شی.

| |
|---|
| **۳ چوکاټ:**<br>بشری حقوق چې کموالئ او محدودیت نه منی<br><br>د ICCPR د ۴ مادې د ۲ پاراګراف له مخی د دغو لاندې حقوقو له مینځه وړلو یا کمولو اجازه نه شته:<br>• د ژوند حق ( ۶ ماده)؛<br>• د انسان نه ربړول، یا هغه سره د ناوړه چالچلند نه کول یا د هغه نه سپکول یا هغه ته سزا نه ورکول( ۶۷ماده)؛<br>• نه مریتوب یا شاقه یا زور کار ته نه اړول ( ۸ ماده)؛<br>• د یو قراردادی مکلفیت په تر سره کولو کی د نیمګړتیا په وجه نه بندی کول ( ۱۱ ماده)؛<br>• د پخوانی جزایي مقرراتو نه وړ ګرځول( ۱۵ ماده)؛<br>• د قانون په وړاندی د هغه حقوقی شخصیت پیژندل( ۱۶ ماده)؛<br>• د فکر، وجدان او دین آزادی درلودل ( ۱۸ ماده)؛<br>سرچینه: د مدنی او سیاسی حقوقو په هکله نړیوال منشور ( له ۱۹۷۶ کال څخه را په دی خوا نافذ دئ). |

په نړیواله سطحه د بشری حقوقو د محدودولو په برخه کی، د بیلګی په توکه د بشری حقوقو اروپایی منشور، په دغو لاندو مسایلو کی د قانون له احکامو سره سم د محدودیت اجازه ورکوی: د عامه محکمی حق، شخصی ژوند ته درناوی،د دین آزادی، د بیان او ټولنی آزادی ( د قانون د کیفیت د آزموینی په برخه کی پنځم چوکاټ دی وکتل شی) او کیدای شی په »دیموکراتیکه ټولنه کی« د عامو ګټو په وجه دغه ډول حقوقو کی محدودیت راوستل شی.[12] سر بیره پردی، که چیری امنیتی او استخباراتی اداری په شخصی شتمنیو، مخابراتو او لیکی اړیکو کی د لاس وهنی قانونی صلاحیت ولری، خلک باید هم د قانون له مخی اجازه ولری چې په دی برخو کی د سرغړونو په هکله اړوندو

چارواکو ته عرض وکړای شی. له دی لاری د ECHR د تړون لاس لیک کونکی دولتونه کولای شی چی خپلی کړي ژمنی تر سره کړی او د ۱۳ مادی له مخی لاندی د شخړه ایزو بشری حقوقو سرغړونو کی سمون راوړي ( ۲۱ فصل دی وکتل شی).

که چیری د ضرورت له مخی مقننه قوه سیاسی او بشری حقوق محدود کړی، نو په دی حالاتو کی دوه مسألی باید په پام کی ونیولی شي لومړی داچی استخباراتی اداري باید د قانون له مخی جوړی شوی وی او دوهم دا چی له هغو خاصو صلاحیتونو حخه چی هغه اداری تری کار اخلی باید د قانون په چوکاټ کی څرګند شوی وی.

## امنیتی اداری باید د مقننی له خوا جوړی شوی وی

اوس ډیر دولتونو په هغو اقداماتو لاس پوری کړی چی غواړی د خپلو امنیتی څواکونو قانونونه د خپلو اساسی قانونو په چوکاټ کی څرګند او قید کړی. په دی اړه د بوزنیا او هرزیګووینا، لتوانیا، استونیا او جنوبی افریقا هیوادونه د یادونی وړ دی.[13] خو سره له دی، ځینی نور حالتونه هم موجود دی. د حیرانتیا خبره نه ده چی د هیوادونو په دننه کی د امنیتی ادارو له خوا په بشری حقوقو باندی د تیریو په هکله اندیښنی مخ په زیاتیدو دی، دغه ډول تیری حتی په هغو هیوادونو کی هم کیږی چی د مضبوطو دیموکراسیو سابقه لری. په انتقالی دیموکراسیو کی د هغوی کورنی امنیتی اداری لا تر اوسه د پخوانیو کلونو د زورزیاتیو تر اغیزو لاندی دی.

په همدی وجه ډیرو دولتونو د خپلو امنیتی ادارو لپاره نوی قانونی بنستونه جوړ کړی دی، البته دغه کار په تیرو دوو لسیزو کی شوئ دئ. ډیری هیوادونه نه غواړی چی خپلو جاسوسی ادارو ته یو قانونی بنسټ ورکړی. بریتانیا یواځنی هیواد دئ چی د انتظار پر خلاف د خپلی جاسوسی اداری (M16) لپاره د ۱۹۹۴ کال له یوی پریکړی سره یی دا کار وکړ. د یادونی وړ ده چی ډیر لږ هیوادونه د خپلو پوځی استخباراتو[15] یا استخباراتی همغښږیو [16] لپاره قانونی بنسټ لری.

**۴ چوکات:**

د ECHR ژمنې ل مخی استخباراتی ادارو لپاره د قانون جوړونې اړتیا (بریتانیا)

د بریتانیا د Herman او Hewitt قضیه [17] چی د ECHR ژمنې پر بنسټ تر څیرنی لاندی ونیول شوه، د بریتانیا د (M15) لپاره د یو مشخص قانونی بنست د نشتوالی له کبله هغه ادعاوی ثابتی نه شوی چی ګواکی په نوموړې قضیه کی دڅارنې شکایتونه د ځواب ورکونې اود دوسیو د ساتنی لپاره د هغی اداری عملیات د قانون پر بنسټ ولاړ ؤ، هغه څه چی د شخصی حق په هکله د نوموړې ژمنی د ۸ مادی سره تناقص لری. په دی اړه د ۱۹۵۲ کال د the Maxwell-Fyfe Directive په نامه یوه اداری پریکړه چی د څارنې او د دوسیو د ساتنی لپاره شوې وه، یو غیر قانونی سند ؤ او د هغه محتوا قانونی مکلفیتونه نه درلودل. سر بیره پر دی دغه سند په پیچلو جملو بیان شوئ ؤ چی نه یی څرکندتوب درلود او نه د مسؤلو چارواکو لپاره یی د یو چالچلند لارښونه کوله چی وکړای شی د هغه له مخی د مخفی څارنو فعالیتونه په لاره واچوی.[18] په پایله کی د بریتانیا دولت د خپل (M15) د اداري د قانونیت لپاره به ۱۹۸۹ کال د قانون پر بنسټ یو سند تصویب کړ چی1989 The Security Service Act په نامه یادیږی او وروسته د مخفی استخباراتی اداري او د GCHQ لپاره یی په ورته اقداماتو لاس پوری کړ ( په دی اړه د استخباراتی خدمتونو د ۱۹۹۴ کال سند دی وکتل شی).

## مخصوص صلاحیتونه چی امنیتی او استخباراتی اداری تر کار اخلی باید د قانون پر بنسټ ولاړ وی

قانون غوښتنه کوی چی امنیتی څواکونه باید یوائی د هغو صلاحیتونو په چوکاټ کی عمل وکړی چی په ملی قانون کی څرګند شوی دی. په همدی وجه د اروپایی منشور له مخی د بشری حقوقو په مسایلو کی لاس وهنه یوائی د قانونی اقدام سره د توجیه وړ ده. د بیلګی په توګه، کله چی بربنډه شوه چی د یونان استخباراتی اداري د » جیهووا شاهدانو« مذهبی فرقه په غیر قانونی توګه تر پلټنی لاندی نیولی ده، ثابته شوه چی هغی اداری د ۸ مادی خلاف عمل کړی دئ، دغه ماده شخصی ژوند ته د درناوی ضمانت کوی.[19]

د قانون واکمنی باید یوائی ظاهری اړخ ونه لری. په دی اړه د بشر د حقوقو اروپایی محکمه د «قانون د کیفیت آزمایښت» اشاره کوی. د قانون کیفیت غوښتنه کوی چی د قانون نظام باید روښانه، د وړاندوینی وړ او هغه ته د لاس رسیدو وړ وی. د بیلګی په توګه د هالند یو سلطنتی فرمان د هغه هیواد پوځی استخباراتو دندی تعریف کړی خواولسی خلکو باندی د څارنی صلاحیتو ته اشاره یی تری حذف کړه. که څه هم دغه فرمان قانونی اړخ لری، خو د قانون د کیفیت له نظره په هغه کی نیمګړتیا لیدله کیږی.[20] همدا راز د Rotaru v Romania د سند په اړه د شتراسبورګ محکمه په دی نظر ده چی په دی سند کی د امنیتی دوسیو قانون په کافی اندازی څرګندوالئ نه لری، څکه د دوسیو د وخت او له هغو څخه د کار اخیستو د لارو چارو په پام کی نیونی سره، دغه قانون د څارنی لاره چاره او کوم میکانیزم نه وړاندی کوی.

د ECHR د قانون د کیفیت آزمایښت تقنینی ارګانونو ته خاص مسؤلیت سپارلئ دئ. د دغه مسؤلیت په وړاندی یو احتمالی څواب دا دئ چی په قانون ګی باید داسی عمومی احکام قید شی چی د هغو پر بنسټ د امنیتی او استخبارتی ادارو صلاحیتونه یوائی د اړتیا په وخت کی د کار اخیستو وړ وی، دا په داسی حال کی چی د بشری حقوقو درناوی تل غوره والئ ولری او د انډول اصل په پام کی ونیول شی.[22] د بیلګی په توګه هغه یو بدیل چی د هالند په قانون کی بیان شوئ دئ، کیدای شی چی د نمونې په توګه ومنل شی دغه بدیل هغه احکام بیانوی چی امنیتی اداری له هغو څخه د پلټنو په چالچلندونو کی تری کار اخلی ( ۶ چوکاټ دی وکتل شی). [23]

| |
|---|
| **۵ چوکاټ:**<br>**د کیفیت له اړخه د قانون آزمایښت**<br><br>د بشری حقوقو اروپایی منشور وایی چی په یوه دیموکراتیکه ټولنه کی کیدای شی چی شخصی حقوق(۸ماده)، د فکر، وجدان او دین آزادی (۹ ماده) او همداراز د بیان آزادی(۱۰ ماده)، د ټولنو او انجمنونو آزادی(۱۱ ماده) د ملی امنیت او عامه نظم د ګټو په وجه محدودی کړای شی. خو منشور دا هم څرګندوی چی دغه ډول محدودیتونه باید د قانون د احکامو له مخی ولګول شی. د بشری حقوقو اروپایی محکمی ویلی دی چی امنیتی او استخباراتی اداری یوائی هغه وخت کولای شی چی له خاصو صلاحیتونو څخه کار واخلی چی د قانون په چوکاټ کی تنظیم شوی وی. په دی اړه د اروپایی محکمی له نظره:<br><br>• قوانین له قانونی احکامو، مقرراتو او فرعی قانونو حخه عبارت دی. په دی اړه هغه محکمه څرګندوی چی: یو نورم هغه وخت قانون ګڼل کیږی چی د لاس رسیدو وړ وی او هغه احکام بیان کړی چی د هغو له مخی د ټولنی یو وګړی دعوا وړاندی کړای شی.<br>(Sumday Times v UK 26 April 1979,2 EHRR, para47); => |

- يو قانون چې په يوه ځانګړی قضيه کی د نامحدودو اختياراتو څخه د کار اخيستو اجازه ورکوی د وړاندوينی خصوصيت څخه بی برخی دئ، نو په دی وجه قانون ګڼل کيدای نه شي او د اوسنی وخت غوښتنی پوره کولای نه شی. د صلاحيتونو حدود بايد پر يو معقوليت ولاړ وی.

  (Silver and Others v UK, 25 Mar. 1983, 5EHRR 347. par 85);

- د بشری بنستيزو حقوقو سره د سمون لپاره بايد د کنترول هغه چالچلندونه او ضمانتونه موجود وی چې امنيتی اداری ونه شي کړای چې له خپلو صلاحيتونو څخه ناوړه ګټه واخلی. د ناجائزو استفادو په وړاندی بايد د قانون ساتونکي چالچلندونه موجود وی.

  (Silver and Others v UK, para 88-89);

- داچې دغو ساتونکو چالچلندونو ته په قانون کی ځای نه دی ورکړ شوئ، قانون بايد لږ ترلږه د لاس وهنی لپاره شرايط او لاری چاری برابری کړی.

  (Klasse v FRG, No. 5029/71, Report of 9 March 1977 par 63, Kruslin v France, 24 April 1990, A/176-A, para 35, Huving v France, 24 April 1999, A/176, para. 34).

سرچينه: د بشری حقوقو اروپايی محکمه

Website http://www.echr.coe.itn/lan cameron, national Security and the European Convention on Huan Rights, 2000, Kluwer Law International.

## دریم فصل

# د څارنی لپاره د قانونی معیارونو او غوره چالچلندونو په لټه کی: هدفونه، حدود او میتودولوژی

د څارنی د څرنګوالي  او دغوره چالچلندونو د خپرولو په پروسه کی د مرستی په موخه په جینوا کی د وسلوالو ځواکونو د دیموکراتیک کنترول مرکز (DCAF)، د بریتانیا د دورهام د پوهنتون د بشری حقوقو مرکز او دناروی د پارلمانی څارنی کمیتی په ګډه هڅه کړی ده ترڅو په دیموکراتیکه توګه د امنیتی او استخباراتی ادارو تر پوښتنی لاندی نیولو او د څارنی د غوره چالچلندونو د میندلو لپاره د ځینی قانونی معیارونو مسوده وړاندی کړی. په دغی رسالي کی د امریکا، اروپا، افریقا او آسیا کی د واکمنو لیبرال دیموکراسیو د اوسنیو قانونی څارونو د ارزونو په بنسټ د ځینو میعارونو وړاندیز شوئ دئ. اصلی موخه دا ده چی د بیلابیلو دیموکراتیکو دولتونو د استخباراتی څارونو له قانونو څخه غوره چالچلندونه او لاری چاری لاس ته راوړل شی او هغه د پارلمانی استازو، د څارنی د نورو ارګانونود اړوندو حکومتی چارواکو، خپله د استخباراتی ادارو او همداراز د مدنی ټولنو( خبری رسنیو، څیړن ایز انستیتونو او داسی نورو....) لپاره ریفرینس وګرځی. پر امنیتی او استخباراتی ادارو د څارنی اساسی ارګانونه دری ګونی قواوی (اجرائیه، مقننه او قضائیه) او خپلواک سازمانونه لکه خپلواک رپوټ ورکونکی او عام پلټونکي جوړوی.

## غوره واکمنی

قانونی معیارونه او غوره چالچلندونه  پر دی بنسټ ټاکل شوی دی چی آیا هغوی کولای شی امنیتی چاری په ښه وجه وڅاری او اداره کړی که نه. په دیموکراتیکه توګه د امنیتی برخی څارنه د واکمنی یو فعال سیستم ته خورا اهمیت لری. څرنګه چی نړیوال بانک په دی اړه وایی:

**«غوره او ښه واکمنی هغه ده چی د وړاندوینی وړ،  پرانیستی او د څرګنده او روښانی پالیسی څخه برخه منه وی. غوره واکمنی له فنی لارو چارو سره جوخت ده چی د خلکو عامه ګټی، د قانون واکمنی، شفافیت او په عامه چارو کی د مدنی ټولنی  فعال نقش خوندی ساتی».** [24]

دغه لاندی اصلونه د غوره واکمنی په زړه کی ځای لری:

- **انصاف او عدالت**
- **ونډه**
- **پلورالیزم**
- **ملګرتیا**
- **مرسته**
- **روښانتیا (شفافیت)**
- **حساب ورکونه**
- **د قانون واکمنی**

- **د بشر حقوق**
- **اغیزمنتوب**
- **ګټورتوب**
- **مسؤلیت**
- **پايښت.** [25]

په داسی حالیکه چی په یوه حکومت کی د قانون، جوړښتونو او اغیزمنواو دیموکراتیکو چالچلندونو (د بشر د حقوقو په ګډون) شته والی د غوره واکمنی نښانی دی، استبدادی پالیسی جوړونه، بی مسؤلیته بیروکراسی، د نه پلی کیدو وړ یا غیر عادلانه قانونی نظام، له قدرت حخه ناوړه استفاده، په عامه ژوند کی د مدنی ټولنی نه ګډون، فساد او بدی اخیستنی دا ټول په یوه حکومت کی د یوی کمزوری واکمنی د شته والی څخه ویندویی کوی.[26] د غوره واکمنی اصولو ته د یوه حکومت ژمنه د منلو وړ سیاسی او قانونی حدودو ټاکلو په موخه خورا اهمیت لری ترڅو امنیتی او استخباراتی اداری فعالیت وکړای شی.

## حدود

خو د دغو حدودو اجرایی ساحه له دوو اړخو تنګه ده. لومړی دا چی، وړاندی شوی قانونی معیارونه یوازی استخباراتی ادارو پوری اړه لری، نه د حکومت اجرایی ارګانونو پوری. دوهم، د ډیرو حکومتی مسایلو جزئیات او تفصیل د اجرائیه قوی د احکامو او فرمانونو له لاری ترتیب او تنظیم کیږی، نو په دی معیارونو کی د دیموکراتیکی څارنی یوازي عمومی مسایلو ته اشاره شوی.

دڅارنی لپاره د قانونی معیارونو راخیستل او ارزونه چی کیدای شی د نوو قوانینو په جوړولو او یا په اوسنیو کی د بدلون راوستلو لپاره مرسته وکړی، د څارنی د ټولو ستونزو د حل لاره نه ده. اصلی لامل دا دئ چی قانونونه یوازی تر یوی کچی ستونزی حل کولای شی، البته هغه هم په دی شرط چی په بشپړه توګه پلی کړای شی. لنډه دا چی سیاسی او اداری فرهنګ، د دله ایزو رسنیو وسایل او عام نظر د دیموکراتیکو ارزښتنو ډیر ښه ساتونکی دي. ننی دولتونه په داسی حال کی چی د بشری حقوقو قوانینو او تړونونو ته ژمنی لری، د عمل په ډګر کی هغه پښو لاندی کوی. د داسی ستونزو سره سره، د دغو ارزښتونو د پلی کولو لپاره د یوقانونی چوکاټ درلودل ښایی مرسته وکړی او ښایی هم د قدرت خاوندان دی ته وهڅوی چی دغو ارزښتنونو ته درناوی ولری. په خاصه توګه د یو قانونی چوکاټ درلودل هغه وخت ډیر ضروری دی چی نوی ارګانونه جوړیږی. د قانون چوکاټ د یو نوی دیموکراتیک نظم د پلی کولو او د اصلاحاتو د ټیګښت لپاره یوه ډیره مهمه وسیله ده.

د بیلابیلو سیاسی او فرهنګی پس منظرونو په پام کی نیونی سره د هغو اصولو د جوړلو لپاره چی په نړیواله کچه د پلی کیدو وړ وی، هڅی ښایی ګټوری نه وی. د پخوانیو لویدیځو او اوسنیو نوو دیموکراسیو تر مینځ د توپیرونو سربیره ، د سیاسی نظامونو تر مینځ هم توپیرونه میندل کیږی. د بیلګی په توګه، په امریکا متحده ایالاتو کی ریاستی جمهوری سیستم، په فرانسه کی ریاستی او پارلمانی او په ځینو نورو هیوادونو کی یوازی پارلمانی سیستمونه واکمن دی. ځینو هیوادونو د خپلو قانونی څارنو واک محکمو ته سپارلئ دئ، لکه په متحده ایالاتو کی او په ځینو نورو، لکه بریتانیا کی، محکمی له پارلمان حخه جلا عمل کوی. د دغو نظامونو په خپله دننه کی هم د بیلابیلو تأسیساتو تر منیځ توپیرونه شته دي. څرنګه چی په بریتانیا، آسترالیا، کانادا او نوی زیلاند کی د امنیتی او استخباراتی ادارو د څارنی لپاره ه مختلفو لارو چارو څخه کار اخیستل کیږی.[27]

په همدی وجه مونږ د قانون داسی مسوده یا نمونه نه ده وړاندی کړی چی هغه باید هرمرو د هر هیواد له ملی قانون سره جوړښت ولری ، بلکه زمونږ هڅه دا ده چی د هیوادونو د بیلابیلو د قانونی نظام له

پام نیونی څخه پرته د څارنی مسایل په عمومی توګه مطرح کړو او د داسی معیارونو وړاندیز وکړو چی د څارنی په برخه کی اوسنی نیمګړتیاوی له مینځه ولاړی شی. په دی لاره کی مونږ هغه بیلګی وړاندی کړی دی چی په مختلفو هیوادونو کی د غوره څارنی په توګه تری کار اخیستل کیږی. په مختلفو دیموکراسیو کی د امنیتی او استخباراتی ادارو د څارنی لپاره د غوره قانونی چالچلندونو د ټاکلو سره زمونږ پیشنهادی معیارونه د ودی په حال او هم په پرمختللو دیموکراسیو کی د قانون جوړونکو، حکومتی چارواکو او مدنی ټولنو استازو ته د قانون جوړونی لپاره ښه امکانات او ښیی لارښونی برابروی. د یادونی وړ ده چی دغه پیشنهادی معیارونه د دیموکراتیکی څارنی لپاره باید د یوائحنی لاری او وسیلی په توګه ونه ګڼل شی. دا په حقیقت کی هغه اصول دی چی کیدای شی د هغو پر بنسټ د هیوادونو ملی قوانین او مقررات وده او پراختیا ومومی. لېډه دا چی ادعا نه کیږی چی د ریښتینی دیموکراتیکی څارنی لپاره په مطلقه توګه قانونونه شته دی او یا به رامینځ ته کړای شی.

## د کار لارې چارې

د استخباراتی او امنیتی څارنی لپاره قانونی معیارونه او غوره چالچند باید په څلور برخو کی وده ورکړای شی:

- داخلی کنترول د هغو ادارو په سطحه
- د اجرائیه قوې له خوا کنترول
- پارلمانی څارنه
- د خپلواکو څارونکو ارګانونو له خوا څارنه

لومړئ، باید د هغو ادارو په خپله سطحه کی څارنه سرته ورسیږی. دغه کنترول کیدای شی چی دغو لاندو مسایلو په پام کی نیونی سره وشی: په ښه وجه د حکومت د قوانینو او پالیسو پلی کول، د هغو ادارو د مشری صلاحیتونه او د کار څرنګوالئ، له معلوماتو او موضوعاتو څخه مناسبه کار اخیستنه او همداراز د هغو ادارو د داخلی قانون او پالیسو سره له خاصو صلاحیتونو څخه کار اخیستل. د امنیتی او استخباراتی ادارو په خپله سطحه د څارنی لاری چاری د بهرنیو ارګانونو لکه اجرائیه قوه، پارلمان او خپلواکی مؤسسو پر مخ د څارنی ور پرانیځی. د داخلی کنترول میکانیزم د دی ډاډ ورکوی چی د حکومت پالیسې او قوانین په اغیزمنه، مسلکی او د قانونی لارو چارو سره سم پلی کیږی.

د کنترول دوهم بنسټ اجرائیی قوې پورې اړه نیسی چی امنیتی او استخباراتی ادارو ته دندی سپاری. دغه کنترول عبارت ده له: د حکومت لوړ پوړو چارواکو ته معلومات ورکول او د هغو له خوا پر هغو ادارو پام ساتل، پر پټو عملیاتو کنترول، پر نړیوالو همکاریو کنترول او د لوړ پوړو چارواکو له خوا د ناوړو استفادو مخ نیوئ. د کنترول دریم مهم بنسټ پارلمان جوړوی چی د څارنی سیستم او انډول ساتنی کی مهم نقش لوبوی. پارلمان خپل دغه ماموریت د عمومی پالیسیو، د مالی او د هغو ادارو د قانونیت د پلټنو له لاری سرته رسوی. په ډیری هیوادونو کی د هغو ادارو د کارڅرنګوالئ د هغو قوانینونو پر بنسټ ولاړ دی چی د پارلمان له خوا تصویب شوی دی. د خپلواکو ارګانونو د څارنی نقش چی د کنترول څلورم بنسټ جوړوی، ډیر زیات د عامو خلکو د مراقبت، د څیرن ایز رپوټ ورکونکو او د پارلمان د خپلواکو کمیسیونو له خواسرته رسول کیږی. همدا رازپه دغه ډول کنترول کی د عاموخلکو، د حکومت د اجرائیه پالیسی(د مثال په توګه د عمومی پلټونکی له لاری) او د مالیه ورکونکو ( د خپلواک مالی حسابی دفترونو له لاری) نظر هم شامل دئ.

د دیمکوکراتیکی څارنی په دغی طرحی کی دوه نور مهم بنسټونه شامل کړای شوی نه دی چی هغه د قضائیه قوی او مدنی ټولنی څخه عبارت دی. قضائیه قوه په دی وجه شامله شوی نه ده چی د هغی

دندې د څلورو نوممومول شوو بنسټونو په چوکات کې روښانه کړای شوې دي. د بیلګې په توګه د خاصو صلاحیتونو څخه د کار اخیستو او یا شکایتونو ته د ځواب ورکونې په فصل کې د هغې قوې دندې بیان شوې دي. د څارنې د یو بنسټ په توګه مدنې ټولنه په دې وجه په ځانګړې توګه بحث لاندې نه ده نیول شوې چې په دې رسالې کې تر زیاته حده د دولت خپلواکو ارګانونو ته پام اړول شوی دی، د بیلګې په توګه پر دوسیو باندې د کار کونې او معلوماتو په موضوع کې او یا د خلکو د استازیتوب په توګه د پارلمان نقش او یا شکایتونو ته د ځواب ورکونې تر عنوانونو لاندې، د مدنې ټولنې نقش روښانه کړای شوی دی.

په دیموکراتیکو ټولنو کې د قانونې معیارونو او د کارلارې چارې مثالونه د هراړخیز مقایسوی څیړنې پر بنسټ ولاړ دي. د څیړل شوو نورو هیوادونو ترڅنګ ددغو هیوادونو معیارونه د بیلګې په توګه راخیستل شوي دي: ارجنتاین، آسترالیا، بلجیم، بوزنیا او هرزیکووینا، ستونیا، آلمان، هنګری، لوکزامبورګ، هالند، ناروی، پولند، جنوبې افریقا، ترکیه، بریتانیا او د امریکا متحده ایالات. دا هغه هیوادونه دي ، چیرته چې د هغو تقنینې ارګانونو د استخباراتی څارنو قوانین جوړ او تصویب کړي دي. سر بیره پردې، دا د هغو هیوادونو بیلګې هم دي چیرته چې ریاستې یا پارلمانې سیستمونه واکمن دي. همدا راز هغوی د پخوانیو او یا نوو دیموکراسیو مثالونه دي او په پای کې هغوی هغه بیلګې دي چې د مختلفو سیاسی فرهنګی پس منظر لري.

## د لومړی برخی لمن لیک - وړاندیز

1. د اقتصادی او پراختیا د همکاری سازمان، د پراختیا لپاره د مرستی کمیته، د۲۰۰۰ کال د پراختیا لپاره د همکاری رپوټ، ۸۷ پاڼه، دغه رپوټ په لاندی انترنتی پاڼه کی میندل کیږی:
2. OECD, Development Assistance Committee, Development Co-operation Report 2000, p. 8. Report available at:

> http://www.oecd.org/home.</

2. د ملګرو ملتو پراختیایی پروګرام، د ۲۰۰۰ کال د پراختیا رپوټ، په یوی ټوټی ټوټی نړی کی د دیموکراسی ژورول، ۸۷ پاڼه، ، دغه رپوټ په لاندی انترنتی پاڼه کی میندل کیږی: .

UNDP, Development Report 2002, Deepening democracy in a fragmented world, p. 87. Report available online at:

<http://hdr.undp.org/reports/global/2002/en.<

3. په اروپا کی د امنیت او همکاری سازمان، د سیاسی - پوځی امنیت په هکله د چالچلند مقررات،۱۹۹۴، له ۲۰ تر ۲۱ پاراګرافونه

OSCE, Code of Conduct on Politico-Military Aspects of Security, 1994, paragraphs 20-21.

4. د اروپا د شورا پارلمانی غونډه، ۱۴۰۱ سپارښتنه، ، په لاندی انترنتی پاڼه کی میندل کیږی:.

Parliamentary Assembly of the Council of Europe, Recommendation 1402. Available online at:

<http://assembly.coe.it/Documents/AdoptedText/ta99/EREC1402.htm.<

5. ښاغلی

Born,H.,FlurimPh.,Johnsson,A.(eds) ، پر امنیتی برخی پارلمانی څارنه، اصول، میکانیزم او چالچلندونه( جینوا: بین الپارلمانی اتحادیه، په جینوا کی د وسلوالو ځواکونو د دیموکراتیک کنترول مرکز، ۲۰۰۳)، له ۶۴ تر ۶۹ پاڼی

Born, H., Fluri, Ph., Johnsson, A. (eds.), Parliamentary Oversight of the Security Sector; Principles, Mechanisms and Practices, (Geneva: IPU/DCAF, 2003), pp. 64-69.

6. همدا راز د دغو ښاغلو لیکنی دی هم وکتل شی:

See also Hänggi, H., ‘Making Sense of Security Sector Governance’, in: Hänggi, H., Winkler, T. (eds.), Challenges of Security Sector Governance. (Berlin/Brunswick, NJ: LIT Publishers, 2003.

7. د دغو ښاغلو لیکنی.....

Leigh, I., ‘More Closely Watching the Spies: Three Decades of Experiences’, in: Born, H., Johnson, L., Leigh, I., Who’s watching the Spies? Establishing Intelligence Service Accountability (Dulles, V.A.: Potomac Books, INC., 2005

8. د ښاغلی .....

Based on Born, H. et al., ‘Parliamentary Oversight’, p. 21.

9. مجمع پارلمانی شورای اروپا، سفارش ۱۴۰۲ .....

Parliamentary Assembly of the Council of Europe, Recommendation 1402, pnt. 2.

10. وکتل شی.....

Ibid., pnt. 5.

11. همدا راز د ملکی او سیاسی حقوقو په نړیوال منشور کی دی د محدودولو او کملو د احکامو په هکله د Siracusa اصول وکتل شی....
See also the Siracusa Principles on the Limitation and Derogation Provisions in the International Covenant on Civil and Political Rights (UN Doc, E/CN.4/1985/Annex 4), available at: <http://www1.umn.edu/humanrts/instree/siracusaprinciples.html>; Lillich, R. B., 'The Paris Minimum Standards of Human Rights Norms in a State of Emergency', American Journal of International Law, Vol. 79 (1985), pp. 1072-1081.

12. د بشری حقوقو په هکله اروپایی منشور، ۶،۸،۹،۱۰، ۱۱ مادې
European Convention on Human Rights, Arts. 6, 8, 9, 10, and 11.

13. سلوانیا: د دفاعی مسایلو په هکله قانون، ۱۹۹۴ کال د دسمبر ۲۸، ۳۳ تر ۳۶ مادې؛ د لتوانیا د ملی امنیت بنسټونه، ۱۹۹۶، استونیا: د امنیتی ارگانونو د قانون سند چی د ۲۰۰۰ کال د دسمبر په ۲۰ تصویب شو؛ د جنوبی افریقا جمهوریت: د استخباراتی خدمتونو د قانون سند، ۱۹۹۴
Slovenia: Law on Defence, 28 December 1994, Arts. 33-36; The Basics of National Security of Lithuania, 1996; Estonia: Security Authorities Act passed 20 December 2000; RSA: Intelligence Services Act, 1994.

14. د زیگنالونو د استخباراتی اداری د ورته سند، د حکومت مخابراتی مرکزونه (بریتانیا)
The same Act also covers the signals intelligence agency, GCHQ.

15. د بیلگی په توگه د هالند د ۲۰۰۲ کال د استخبارتی او امنیتی خدمتنو د سند ۷ مه ماده دی وکتل شی.
See, for example, the Netherlands, Intelligence and Security Services Act 2002, Art. 7.

16. د هالند د ورته قانون ۵ ماده؛ د جنوبی افریقا د جمهوریت د ملی ستراتیژیک استخباراتو د ۱۹۹۴ کال د قانون سند.
Article 5 of the same Netherlands Act; National Strategic Intelligence Act 1994 of the Republic of South Africa.

17. وکتل شی.....
Harman and Hewitt v UK (1992) 14 E.H.R.R. 657 .

18. وکتل شی.....
Ibid., para. 40.

19. وکتل شی.....د یونان په اړه
Tsavachadis v Greece, Appl. No. 28802/95, (1999) 27 E.H.R.R. CD 27.

20. مختلفی سرچینی دی وکتلی شی.....
V and Others v Netherlands, Commission report of 3 Dec. 1991; and see also in applying the 'authorised by law' test to various forms of surveillance: Malone v UK (1984) 7 E.H.R.R. 14; Khan v UK, May 12, 2000, European Ct HR (2000) 8 BHRC 310; P G. and J.H. v UK, European Court of Human Rights, 25 Sept. 2001, ECtHR Third Section.

21. د می دخلورمی ۲۰۰۰ کال ۹۵/۲۸۳۴۱ شمیره. همدا راز د سویدن قانون دی وکتل شی(۱۹۸۷)، په هغه کی راغلی دی: د دی لپاره چی د قانون سره سم عمل وشی،په شخصی مسایلو کی لاس وهنه

باید د وړاندوینی وړ وی او هر وګړئ قانون ته د لاس اوږدولو حق ولری. د امنیتی پلټنی په اړه دا قانون د دی غوښتنه نه کوی چی عرض کونکی دی د ټولی پروسی وړاندوینه وکړای شی، بلکه قانون باید په خپله له کافی څرګندونی څخه برخه من وی چی د چالچلند لپاره لارښونه وکړی.

No. 28341/95, 4 May 2000. See also Leander v Sweden (1987) 9 E.H.R.R. 433, holding that in order to be 'in accordance with law' the interference with privacy must be foreseeable and authorised in terms accessible to the individual. In the context of security vetting this did not require that the applicant should be able to predict the process entirely (or it would be easy to circumvent), but rather that the authorising law should be sufficiently clear as to give a general indication of the practice, which it was .

22. دغه لاره د ستونیا په هیواد کی ټاکله شوی ده ( د امنیتی چار واکو د قانون سند، ۳ پارګراف)
This is the approach taken in Estonia (Security Authorities Act, paragraph 3.

23. د ۲۰۰۲ کال د استخباراتی او امنیتی خدمتونو د سند د قانون ۱۷ تر ۳۴ مادی
Intelligence and Security Services Act 2002, Articles 17-34.

24. نړیوال بانک، د نړیوال بانک تجربه......
The World Bank, ‘Governance: The World Bank’s Experience,’ cited in Born, H. et al, ‘Parliamentary Oversight’, p. 23.

25. د دیموکراتیکی واکمنی د تمرین د منیجری، Magdy Martinez Soliman د UNDP د پراختیا د پالیسی لپاره د د فتر، د لیکنی په هکله باید خاصه یادونه وشی، هغی په دی برخه کی غوره واکمنی په هکله ارزښت لرونکی کتنه کړی ده. په دی اړه د دی رسالی د اصطلاحاتو د معنی فهرست ته مراجعه وشی. همدا راز په دی موضوع کی ځینی نوری طرحی د UNDP په انترنتی پاڼه کی کتلای شی:
Special mention must be made of Magdy Martinez Soliman, Democratic Governance Practice Manager, Bureau for Development Policy UNDP, for her valuable insights on the principles of good governance. For the purpose of this publication, refer to the Glossary which features a selection of the most relevant concepts for intelligence accountability. Regarding the other concepts, refer to, for example the UNDP glossary, available at:
<http://www.undp.org/bdp/pm/chapters/glossary.pdf<

26. وکتل شی....
Ibid.

27. دغه لاندی سرچینی:
Lustgarten,L, Leigh, I, In From the Cold: National Security and Parliamentary Democracy (Oxford: Oxford University Press, 1994), Chapters 15 and 16, which gives a fuller treatment of the issue of accountability.

# دوهمه برخه

# اداره

## څلورم فصل

# د واک او اختیار تعریف

د امنیتی او استخباراتی ادارو د ځواب ورکونی مهم اړخ دا دئ چی د هغو نقش او د عمل ډګر په روښانه او څرګنده توګه تعریف شی. دغه کار باید د تقنینی ارګانونو له خوا سرته ورسیږی ـ څرنګه چی ټینګار پر دی وی چی د امنیتی او استخباراتی ادارو د دندو د تعریف مسؤلیت د پارلمان د صلاحیت په حد کی دئ او دغه نقش د تقنینی ارګانونو له لارښونی څخه پرته باید بدلون ونه مومی. په انتقالی دیموکراسی لرونکو دولتونو کی دغه کار له هغو ادارو څخه د حکومت د ناوړو استفادو په مخ نیوی کی مرسته کوی. د یو قانونی بنسټ لرل له دی امله هم ضروری دی چی هغو ادارو ته خاص صلاحیتونه سپارل کیږی.

دا مسأله هم د اهمیت وړ ده چی امنیتی او استخباراتی اداری د دولت د نورو ارګانونو په پرتله توپیر لری. په دی وجه هم د یو قانونی لارښودـ لیک لرل ضروری دی. پرتله له دی د هغو ادارو د ځواب ورکونی مسؤلیت ګډوډیږی او د دی خطر شته دئ چی هغه اداری په نا بیرنیو حالاتو کی هم چی دولت ته کوم ګواښ نه وی، له خپلو ځانګړو صلاحیتونو څخه کار واخلی.

ډیری وختونه د ملی امنیت د ګواښ او جنایی عملونو تر مینځ توپیر کول ډیر ګران وی.[1] تروریزم او جاسوسی هغه جنایی قضیی دی چی د دیموکراسی پروسی ته نیغ تاوان رسوی. دغه عملونه د دیموکراسی پرضد دی او د هغی بشپړتیا او مهمو ارګانونو ته ګواښ پیدا کوی. خو سازمان شوی جنایی اعمال بل څه دی. د اروپا شورا دغه اعمال داسی تعریفوی:

> **جنایی سازمان شوی اعمال: هغه غیرقانونی فعالیتونه دی چی د دری یا ډیر کسیزو سازمان شو ډلو له خواد یوی اوږدی مودی لپاره په لاره واچول شی او هدف یی دا وی چی د ګواښ کونی، زورزیاتیو، اختلاس یا نورو داسی لارو څخه په کار اخیستو او یا د یو لړ جنایی اعمالو په سرته رسولو سره په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه مالی یا مادی ګټه ترلاسه کړی.[2]**

د ځینو دولتونو په نظر سازمان شوی جنایتونه او همدا راز د نشه یی توکو او انسانانو قاچاق د ډیرو سختو ټولنیزو او اقتصادی تاوانونو څخه شمیرل کیږی، خو تر اوسه پوری یی د یو حکومت جوړښت او ثبات ته ګواښ پیدا کړی نه دئ. سره له دی هم په ځینو هیوادونو، په خاصه توګه انتقالی دیموکراسیو کی، دغه جرمونه کیدای شی چی یو ګواښ وګرځی، همدا ده چی هغو سره ملی امنیت ته د خطر په توګه مقابله کیږی.[3] په ډیرو حالاتو کی سازمان شوی جرمونه د هغو د ستروالی، وخت او د هغو بنستیز پلان له مخی تشخیص او له نورو جرمنو څخه یی توپیر کیږی، خو هیڅ کله په دی کچه ورته نه لیدل کیږی چی هغو سره دی د استخباراتی امکاناتو په کار اخیستو سره مقابله وشی. سره له دی هم البته په ټولو حالاتو کی داسی فکر نه کیږی. همدا ده چی په ځینو هیوادونو کی، په داسی حال کی چی له سازمان شو جرمونو سره د مقابلی لپاره امنیتی او استخباراتی اداری مسؤلیت نه لری، خو هغو ته واک ورکول کیږی چی د حکومت له اجرائیی ارګانو سره په دی برخه کی ملګرتیا وکړی.[4]

**۶ چوکاټ:**
**د بشر د حقوقو اروپایی محکمه او«ملی امنیت»**

د دغی محکمی د قوانینو له مخی د یو شمیر نورو تر څنګ دغه لاندی فعالیتونه کیدای شی چی ملی امنیت ته د ګواښ په توګه وپیژندل شی:

- جاسوسی (د بیلګی په توګه د اتحادی آلمان د کلاس قضیه، د ۱۹۹۸ کال د سپتمبر د ۶ نیټی قضایی حکم، ۴۸ پاراګراف)؛
- تروریزم (idem)؛
- د تروریزم هڅول یا هغه سره ملګرتیا (د ۱۹۹۷ کال د دسمبر د ۱۹ د Zana قضایی حکم، ۴۸-۵۰ پارګراف)؛
- د پارلمانی دیموکراسی نسکورول ( د ۱۹۸۷ کال د مارچ د ۲۶ دLeander نومی قضایی حکم، ۵۹ پارګراف)
- جلاغوښتونکی افراطی سازمانونه چی د زورزیاتیو او تیریو له لاری د یو دولت یووالی او امنیت ته ګواښ پیدا کوی ( د ترکیی د کمونست یووالی ګوند او د نورو په قضیه کی د ۱۹۸۸ کال د جنوری د ۳۰ نیټی قضایی حکم، ۳۹-۴۱ پارګراف)
- د ناراضیتوب لپاره د پوځی افرادو هڅول

(Application N 7050/75 Arrowsmith vs. United Kingdom-
د اروپایی کمیسیون د بشر د حقوقو ۱۹۷۸ کال د اکتوبر د ۱۲ تصویب شوئ رپوټ)
سرچینه: د بشری حقوقو اروپایی محکمه

په هر حالت کی غوره ده چی د ملی امنیت د مختلفو اړخونو تفصیلی قوانین روښانه شی، نسبت ودی ته چی د«دولتی امنیت د ساتنی» تر عنوان لاندی فقرو په څیر د امنیتی او استخباراتی ادارو واک او اختیارات او مجهول پریښودل شی. د دی مسألی چی د ملی امنیت طرح باید څرګنده محتوا ولری، کیدای شی چی په دغو دوومثالونو کی بیان شی: لومړئ مثال د یوی نړیوالی معتبری محکمی ( د بشرد حقوقو اروپایی محکمه، ۶ چوکاټ دی وکتل شی) په قوانینواو دوهم مثال د بوزنیا او هرزګووینا د یو تصویب شوی قانون په یوی برخی کی میندلی شی ( ۷ چوکاټ دی وکتل شی).

سر بیره پر دی د اروپا د شورا د کار پوهانو له رپوټ څخه کار اخیستل هم په دی برخه کی ګټور تمامیږی. په دغه رپوټ کی راغلی دی چی: هغه نور موضوعات چی کیدای شی د ملی امنیت لپاره یو ګواښ وګڼل شی عبارت دی له: الف ـ د دولت اقتصادی سوکالی ته بهرنی ګواښونه، ب ـ د پیسو مینځل ( توری پیسی سپینول) تر هغی کچی چی بانکی او د پولیسی سیستم ته تاوان ورسوی، ج ـ په دفاعی، بهرنیو او د دولت د نورو ارګانونو چارو پوری اړوند الترونیکی معلوماتو کی لاس وهنه او دال ـ سازمان شوی جرمونه تر هغی کچی چی عامه امنیت او سوله یا د هغی یو برخه اغیزمنه کړی. [5]

د بوزنیا او هرزګووینا د قانون مثال د ملی امنیتی مسایلو لپاره د یو مشخص قانون درلودلو باندی ټینګار کوی. لومړی، دغه قانون د پارلمان غړو ته صلاحیت ورکوی چی د ملی امنیت په مهم بحث کی په مستقیمه توګه برخه ولری. ډیری وخت دغه ډول عام غونډی پرانیستی او ګټوری وی چی د قانون پر کیفیت اغیزه لری. دوهم، د استخباراتی اجراآتو د قانون تعریف او بیان چی د ملی امنیت د ګټو تر نامه لاندی څارل کیږی، د هغه قانونیت نور هم غښتلی کوی. د هغه قانون درلودل چی د ملی امنیت اړخ په روښانه توګه تعریف او بیان کړی، په حقیقت کی د استخباراتی ادارو د سیاسی کولو په وړاندی د یو اولس په ساتنه او له هغو ادارو څخه د ناوړه استفادی په مخ نیوی کی مرسته کوی.

د هغو ادارو د واک او اختيار يو بل مهم اړخ د يو هيواد په مختلفو سطحو کی د هغوی صلاحيتونو پوری اړه نيسی. په دی برخه کی څلور مختلف ارګانونه د توپير وړ دی. کورنی اداره، بهرنی اداره، هغه واک او اختيار چی يواځی د معلوماتو په راټولولو او ارزونو پوری محدود کړای شوی دی او هغه واک او اختيار چی نوموړو ادارو ته اجازه ورکوی تر څو د بهرنيو او کورنيو ګواښونو پر ضد عمل وکړی. په لومړيو دوو ارګانونو کی عام مقررات داسی دی چی : هغه اداری چی د بهرنيو اختياراتو څخه برخه منی دی په استخباراتی مسايلو کی او هغه اداری چی کورنيو اختياراتو څخه برخه من دی په امينتی مسايلو کی ورته مراجعه کيږی. امنيتی اداره او استخباراتی اداره دواړه د معلوماتو د راټولولو او تحليلولو لپاره صلاحيونه لری چی کيدای شی پراخ او يا محدود کړای شی. د نوموړو ارګانونو له ګډولو سره د نړی دولتونو په خپلو استخباراتی او امنيتی مسايلو کی مختلف تأسيسات جوړ کړی دی:

الف ـ د امنيتی او استخباراتی چارو لپاره يواځی د يوی اداری درلودل( بهرنی او کورنی): دغه ډول تشکيلات، د بيلګی په توګه په بوزنيا او هرزګووينا، هالند، اسپانيا او ترکيی کی ميندل کيږی.
ب ـ د کورنی او بهرنی امنيت اواستخباراتو لپاره د مختلفو ادارو درلودل، دا په داسی حال کی چی يا هر يو بيلابيل صلاحيتونه ولری او يا ګډی وجهی. د دغه ډول تشکيلاتو بيلګی په پولند، هنګری او آلمان کی ليدل کيږی.
ج ـ يواځی او يواځی د کورنی امنيت د اداری درلودل، پرته له دی چی بهرنی استخباراتی اداره ولری. کانادا کی دغسی تشکيلات موجود دی.

**۷ چوکاټ:**

## د ملی امنيت قانونی تعريف په (بوزنيا او هرزګووينا کی)

په دغه قانون کی راغلی دی چی: د بوزنيا او هرزګووينا امنيت ته ګواښ بايد ددغه هيواد خپل واکمنی، خاوری بشپړتيا، قانونی نظم او اقتصادی ثبات ته ګواښ وګڼل شی او همداراز هغه نړيوال ګواښ چی بوزنيا او هرزګووينا ته تاوان رسوی، دغه هيواد ته ګواښ ګڼل کيږی. دغه ګواښونه عبارت دی له:
۱. د نړيوال ترووريزم په ګډون تروريزم؛
۲. د بوزنيا او هرزګووينا پرضد جاسوسی او يا هغه فعاليتونه چی د دغه هيواد امنيت ته تاوان رسوی؛
۳. د بوزنيا او هرزګووينا دملی بنسټيزو تأسيساتو او په مجموعی توګه د هغه هيواد پر ضد ورانکاری ؛
۴. د بوزنيا او هرزګووينا پرضد د سازمان شوو جرمونو او يا نورو داسی فعاليتونو سرته رسول چی د بوزنيا او هرزګووينا ملی امنيت ته تاوان رسوی؛
۵. د نشه يی توکو قاچاق، د وسلو او يا انسانانو قاچاق او يا نور داسی فعاليتونه چی د هغه هيواد امنيت ته تاوان ورسوی؛
۶. د ډله ايزو وژنو د وسلو خپرول، يا د هغو اړوند تجهيزات، همدا را هغه توکی او وسايل چی د هغو وسلو د توليد لپاره په کار لويږی،
۷. د غير قانونی توليداتو او تکنولوجيو قاچاق چی نړيوال بنديز پری لګول شوئ وی؛
۸. هغه اعمال چی د نړيوال بشری قانون له مخی د سزا ورکونی وړ وی؛ او په بوزنيا او هرزګووينا کی د مذهبی ، قومی خلکو پر ضد سازمان شوی اعمال لکه، زورزياتی، ګواښ او داسی نور؛

سرچينه: ۵ ماده، د بوزنيا او هرزګووينا د ۲۰۰۴ کال استخباراتی او امنيتی اداری قانون.

په دی هکله فدرالی هيوادونو لکه امريکا او آلمان کی د استخباراتی ادارو خاص حالت ته ګوته نيول د يادونی وړ ده. د فدرالی نظام درلودلو په وجه د آلمان هر ايالت خپله ځانګړی استخباراتی اداره لری چی د Landesamt für Verfassungschutz په نامه ياديږی. دغه اداری په خپلو مينځ او له فدرالی

استخباراتی اداری Bundesverfassngschutz سره همکاری لری. داهم د یادونی وړ ده چی څومره د استخباراتی ادارو شمیر زیات وی، هومره د څارنی د ګډوډیو خطر زیات دئ.

که چیری یوه استخباراتی اداره بهرنی اجرائی قدرت ولری، کولای شی چی د خپل دولت اړوندو وګړو ته مصؤنیت خوندی کړی. ( د بیلګی په توګه، هغه قانون چی د آسترالیا پر استخباراتی داری او د زیګنالونو مدیریت باندی واکمن دئ، وکتل شی). [6] د استخباراتی ادارو د خاصو صلاحیتونو څخه استفاده او کنترول باید په خپله تر بحث لاندی ونیول شی. ( ۶ فصل دی وکتل شی)

## د سیاسی ناپلویتوب ساتل

هغو ټولنو کی چی مطلق العنان رژیمونه واکمن ؤ، ډیری هغه خاطری لا تراوسه ژوندی دی چی استخباراتی او امنیتی اداری د خلکو د مخالفت پرضد د دیکتاتورو مشرانو د ساتنی لپاره د ډیرو زیاتو صلاحیتونو څخه برخه من ؤ. حاکمو رژیمونو له هغو ادارو څخه کار اخست ترڅو د خلکو مخالفت وټکوی، د هرډول اعتصاب او مظاهری مخه ونیسی، د کارګری اتحادیو، د ډله ایز رسنیو د وسایلو، د سیاسی ګوندونو او د مدنی ټولنی مشران له صحنی څخه لیری کړی. د دغو هدفونو د ترسره کولو لپاره استخباراتی او امنیتی ادارو د خلکو په ورځنی ژوند کی لاس وهنه کوله. په دغو هیوادونو کی د دیموکراسیو د رامینځ ته کیدو څخه وروسته نوو مشرانو پریکړه وکړه چی د هغو اداروصلاحیت او قدرت محدود کړی او د هغو د ناپلویتوب ضمانت وکړی. د دغه اقدام یو روښانه مثال د ارجنتاین د ۲۰۰۱ کال قانون کی کیدای شی ومیندل شی. دغه قانون د نورو مسایلو سر بیره، ساتونکی احکام لری چی اجازه نه ورکوی چی حکومتی چارواکی له استخباراتی ادارو څخه د خپلو سیاسی مخالفینو پرضد کار واخلی( ۸ چوکاټ دی وکتل شی).

**۸ چوکاټ:**

### د کورنی سیاسی مخالفینو پرضد د استخباراتی ادارو څخه د حکومتی چارواکو د ناوړه استفادی د مخ نیوی لپاره ساتونکی قانونی احکام (ارجنتاین)

هیڅ استخباراتی اداره باید په دغو لاندی فعالیتونو، کارونو او چارو لاس پوری نه کړی:

۱. زورپالونکی کارونه، اجباری قدرت، د پولیسی ماموریت یا جنایی تحقیقاتو سرته رسول، مګر داچی یو عدلی ارګان د یوی قضایی دوسیی یا قانون له مخی اجازه ورکړی.

۲. د یو شخص په هکله د هغه نژاد، دین، شخصی عمل، سیاسی ایدیولوژی یا په یو ټولنیز سازمان، صنفی اتحادیی، کوپراتیفی، مرستندوی، فرهنګی یا کارګری انجمنونو کی د غړیتوب او یا نور داسی فعالیتونو له کبله معلومات راټولول.

۳. د هیواد پر بنسټیز، سیاسی، پوځی، ټولنیز او اقتصادی وضیعت یا د هغه پر بهرنیو پالسیو، سیاسی قانونی ګوندونو باندی زور راوستل او یا پر عامه ذهنیت، یا یو شخص او یا ډله ایز رسنیو او یا ټولنو او داسی نورو ډلو باندی نفوذ ټینګول.

سرچینه: د ملی استخباراتو د ۲۵۵۲۰ قانون ۴ ماده (ارجنتاین)

# غوره چالچلند

- د یوی امنیتی او استخباراتی اداری نقش باید په ښکاره او څرګنده توګه تعریف شی او هغوموضوعاتو پوری محدود شی چی جزئیات مشخص وی او په هغو کی هغه ګواښونه وښودل شی چی ربښتیا هم د ملی امنیت او د مدنی ټولنی جوښت ته ځیر وی؛
- ملی امنیت او مدنی ټولنی جوړښت ته ځیر شوی احتمالی ګواښونه باید د قانون له مخی مشخص شوی وی؛
- د یوی استخباراتی اداری کورنی واک او اختیار باید په روښانه توګه تعریف شی او هم هر هغه یو صلاحیت چی له هیواد څخه بهر عملی کیږی، باید د قانون د احکامو سره سم وی؛
- د هغی اداری دندی او قدرت باید د هغی د صلاحیت په چوکاټ کی په هغه یو قانون کی روښانه کړای شی چی د پارلمان له خوا تصویب شوی وی؛
- په خاصه توګه په هغو دولتونو کی چی پخوا مطلق العنان رژیمونه یی درلودل، د قانون ساتونکی احکام ضروری دی ترڅو د سیاسی مخالفینو پرضد د امنیتی او استخباراتی ادارو د ناوړه استفادو مخه ونیوله شی.

## پنځم فصل

# د امنیتی او استخباراتی ادارو د رئیس ټاکل

پر استخباراتی او امنیتی ادارو د واکمنو قانونو یوه مهمه برخه د هغو ادارو د رئیس ټاکل دی. هغه څوک چې دی ماموریت ته ټاکل کیږی باید له حقوقو شخصیت او خپلواکی څخه برخه من وی. پرته له شک څخه چې دغه مقام ډیر مهم دئ او پکار ده چې دی څوکی د ټاکنی په پروسه کی له ډیری پاملرنی څخه کار واخیستل شی. پکار ده چې دی مقام ه د ټاکنی لپاره د دولت د اجرائیی غړی (د دولت رئیس یا په مختلط نظام کی صدراعظم) د مشوری پر بنسټ په عمل لاس پوری کړی.

همدا راز دی مقام ته د ټاکنی پروسه باید د اجرائیی قوی څخه بهر ارګانونو پر مخ پرانیستی وی.البته په دی اړه چې لوړ پوړی چاروکی په څه ډول ټاکل کیږی، د هیوادونو قانونی چالچلندونه یو بل سره توپیر لری. په ځینو هیوادونو لکه بریتانیا کی، د سرغړونو ضد ساتونکی قانونی احکام پر دی بنسټ ولاړ دی چې له قانون حخه سرغړونی د سیاسی ګوت نیونی او ښایی هم د خپلواکو ارګانو د غږ پورته کونی لامل وګرځی. په ځینو نور دولتونو کی د استخباراتی اداری د رئیس د ټاکنی پروسه له نورو ارګانونو سره په سلا مشوره سرته رسیږی. د بیلګی په توګه، تقنینی ارګان کولای شی چې د هغی اداری د رئیس د ټاکنی په وړاندی د فسخه کولو (ویتو) حق څخه کار واخلی او یا خپل ځانګړی نظر وړاندی کړی. دغه پروسه کیدای شی چې په اساسی قانون کی قید شی، څرنګه چې د لوړپوړو چاروکو ټاکل د پارلمان په پریکړی پوری وتړل شی چې یا به هغه تصویبوی او یا به یی ردوی (څرنګه چې په امریکا متحده ایالاتوکی د فدرال د چارواکو او قاضیانو ټاکل د کانګرس په خوښه سرته رسول کیږی). د یادونی وړ ده چې د پارلمان له خوا د کاندید شوی لوړپوړی چارواکی وړاندیز نه منل، یوه الزامی پریکړه نه بلکه غالبا بالفعل پریکړه ګڼل کیږی. لوړپوړو مقاماتو ته د ټاکلوطریقه په ځینو نورو هیوادونو لکه بلجیم، آسترالیا او هنګری کی بل ډول ده. مثلا په بلجیم کی د استخباراتی اداری رئیس مخکی له دی چې خپله څوکی اشغال کړی باید د پارلمان د استخباراتی او امنیتی څارنی د کمیتی د مشر په وړاندی لوړه وکړی.[7] په آسترالیا کی باید صدراعظم په پارلمان کی د مخالفو مشرانو سره د استخبارتی او امنیتی اداری د پیشنهادی رئیس په هکله مشوره وکړی. له دغه چلند څخه مقصد دا دئ چې د استخباراتی او امنیتی اداری د رئیس د ټاکنی لپاره یو پراخ سیاسی ملاتړ لاس ته راوړل شی. خو د ټاکنی په هرډول چلند کی ابتکار د حکومت په لاس کی دئ، ځکه یواځی حکومت هغه مقام ته د نومولو صلاحیت لری، وروسته بیا پارلمان په دی برخه کی پلټونکئ نقش لوبوی. د پلټنی دغه نقش خورا مهم دئ، ځکه له دی لاری د حکومت له خوا د نامطلوبو کاندیدانو د ټاکنی مخه نیوله کیږی او یا په ځینو حالاتو کی له نورو سیاسی کړیو سره خبری کیږی ترڅو د سیاسی اړودوړ مخه ونیوله شی او د منلو وړ یوه اقدام ته لاره اواره کړای شی.

| |
|---|
| **۹ چوکاټ:**<br>**د استخباراتی او امنیتی اداری د رئیس په ټاکلو کی د پارلمان مداخله (آسترالیا)**<br><br>»(....) مخکی له دی چې هغی اداری ته یو څوک د رئیس په توګه ونومول شی، صدراعظم د استازو په مجلس(اولسی جرګه) کی له مخالف مشرانو سره مشوره کوی.«<br>سرچینه: د ۲۰۰۱ کال د استخباراتی اداری د قانون سند (Cht),Part 3,Section 17 (3) |

د امنیتی او استخباراتی اداری د رئیس په ټاکلو کی د اجرائیه قوی د ونډی په پام کی نیونی سره د هنګری قانون ( ۱۰ چوکاټ دی وکتل شی) د اهمیت وړ ده ځکه هم صدراعظم و هم وزیرانو ته

صلاحیت ورکوی چې په دی برخه کی تصمیم ونیسی. د استخباراتی او امنیتی اداری د رئیس د ټاکلو په پروسه کی زیاتو وزیرانو ونډه په دی موخه ده چې د سیاسی تصمیم نیونکو تر مینځ په دی موضوع کی د سیاسی توافق لپاره لاره اواره شی.

| |
|---|
| **۱۰ چوکاټ:**<br>**د استخباراتی او امنیتی اداری د رئیس په ټاکلو کی د اجرائیه قوی مداخله (هنګری)**<br><br>۲،۱۱ برخه<br>د خپل واک په حدودو کی د (....) وزیر<br>ی ـ کولای شی د امنیتی او استخباراتی اداری د رئیس په ټاکلو او ګوښه کولو کی صدراعظم ته وړاندیز وکړی.<br>سرچینه: د امنیتی ادارو په هکله د هنګری قانون،د ۱۹۹۵ کال CXXVسند |

د ټاکلو له پروسی څخه جلا، باید د نوموړی اداری پر رئیس باندی د فشار راوړلو او له هغه مقام څخه د ناوړه استفادی پر ضد قانون کی ساتونکی احکم موجود وی. همدارازدامنیتی اداری د مسؤل له خوا د سرغړونی په صورت کی د هغه د ګوښه کیدو لپاره ساتونکی احکام خورا مهم دی، څرنګه چې په ۱۱ چوکاټ کی د پولند مثال دغه مسأله روښانه کوی (۱۱ چوکاټ دی وکتل شی).

| |
|---|
| **۱۱ چوکاټ**<br>**د استخبارتی اداری د رئیس د ګوښه کولو لپاره دلیلونه (پولند)**<br><br>۱۶ ماده<br>په دغو لاندو حالتونو کی د نوموړی اداری رئیس ګوښه کیږی:<br>په خپله خوښه له مقام څخه استعفا، د پولند د تابیعت له لاس ورکول یا د بل هیواد تابیعت لاس ته راوړل، د کوم جنایی یا مالی جرم په تور د محکمی له خوا محکومیدل، د خپل ماموریت په ترسره کوو کی اهلیت او کفایت له لاسه ورکول، له دری میاشتو حخه د اوږدی مودی په مخ د ناروغی له کبله دخپلی دندی نه سرته رسول.<br>سرچینه: د کورنی امنیت اداره او د بهرنی استخباراتو قانون، د ۲۰۰۲ کال د می ۲۴و وارسا |

# غوره چالچلند

- تقنینی ارګان باید د امنیتی او استخباراتی اداری د رئیس د ټاکلو او ګوښه کولو لپاره هغه قانون او مقررات وضع کړی چی نوموړی مقام ته د هغه د ټاکلو لپاره د اهلیت او کفایت اصغری معیارونه او د هغه د ګوښه کولو لپاره لامونه تشریح کړی؛
- د حکومت د اجرائیه قوی سر بیره پارلمان هم باید د ټاکلو په پروسه کی د لاس وهنی حق ولری؛
- غوره ده چی په پارلمان کی دحکومت مخالف اړخ هم په دی تاکلو کی د تصرف حق ولری؛
- باید د نوموړی اداری پر رئیس باندی د فشار راوړلو او له هغه مقام څخه د ناوړه استفادی پر ضد قانون کی ساتونکی احکم موجود وی. همداراز دامنیتی اداری د مسؤل له خوا د سرغړونی په صورت کی د هغه د ګوښه کیدو لپاره ساتونکی احکام خورا مهم دی؛
- د ټاکلو او ګوښه کوو لپاره باید په قانون کی معیارونه څرګند وی؛
- غوره ده چی د ټاکلو په پروسه کی د کابینی له یوه غړی حخه زیات ګډون ولری، د بیلګی په توګه د دولت د رئیس یا صدراعظم سربیره د کابینی اړوند وزیر.

## شپږم فصل

# له ځانګړو اختياراتو څخه
# د کار اخيستو لپاره اجازه ورکول

ځينې استخباراتي ارګانونه يوازې له رپوټ ورکونې او تحليل (د بيلګې په توګه د آسترالیا د ملي ارزنو دفتر)، د معلوماتو هيأت (استونيا) او يا ګده استخباراتي کميټې (بريتانيا) سره کار کوي. خوکله چې امنيتي او استخباراتي اداري د معلوماتو راټولولو مسؤليت په غاړه ولري، هغو ته معمولا ځينې ځانګړي صلاحيتونه ورکول کيږي چې په هغو کې د امنيتي ګواښونو مخ نيوئ او شنډول، په فعاله توګه د اطلاعاتو راټولول او د امنيت په ساحه کې د قانون اجراآت شامل دي. لنډه دا چې له »له ځانګړو اختياراتو« څخه مقصد هغو ادارو ته د اضافي صلاحيتونو منل دي چې پر ملکي آزاديو باندې مستقيمي او غيرمستقيمي اغيزې لري (۱۲ چوکاټ دې وکتل شي).

> **۱۲ چوکاټ:**
> **د امنيتي او استخباراتي ادارو ځانګړي اختيارات**
>
> د معلوماتو راټولول د دې غوښتنه کوي چې هغو ادارو ته استثنايي يا ځانګړي اختيارات ورکړ شي چې دا په خپله د بشري حقوقو د محدوديدو لامل ګرځي، په خاصه توګه د شخصي حقوقو. دلته له ځينو ځانګړو صلاحيتونو څخه کيداى شي چې نوم واخيستل شي:
>
> ۱ـ څارل، د معلوماتو ثبتول او د معلوماتو پسې ګرځيدل؛
> ۲ـ د پرانيستو ځايونو او تړلو ودانيو پلټل؛
> ۳ـ د پاکټونو، ليکونو او محمولو (ليږل شوي مال او جنس) د استونکي او اخيستونکي له خبرتيا څخه پرته خلاصول؛
> ۴ـ ځايونو ته د پټو ننوتلو، د کامپيوتري معلوماتود مخزن د کاپي کولو يا ويجاړولولپاره له غلا شوو يا جعلي هويتونو، کلي ګانو،دسکټونو يا سي دي ګانو او رمزنو څخه کار اخيستل؛
> ۵ـ د تيلفوني خبرو يا نورو معلوماتي تبادلو څارل، اوريدل، ثبتول او ليږدول د هيواد په دننه او يا بهرکې؛
> ۶ـ عامه مخابراتي خدماتو او شخصي مخابراتي شرکتونو ته ويل چې د مشتريانو د مخابراتي اړيکو ، تبادلو او پيژند په هکله معلومات ورکړي؛
> ۷ـ د مراقبت او څارنې لپاره ټولو ځايونو ته لاره درلودل.
>
> سرچينه: Richard Brst، د کانګرس لپاره استخباراتي مسايل، د کانګرس څيړن ايز خدمات، د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر ۱۲، واشنګټن دي سي.

څرنګه چې له دې چوکات څخه ښکاري، د پوليسو او د دولت نورو اجرائي ارګانونو په پرتله استخباراتي او امنيتي ادارو ته ډير زيات اختيارات ورکړل شوي دي، ځکه د عادي جرمونو په پرتله امنيت ته ګواښونه جدي ګڼل کيږي.

مونږ البته دلته دا هڅه نه کوو چې هغه صلاحيتونه چې د هغو لپاره لامونه موجود دي، محدود شي، بلکه هدف مو دا دی چې دغو صلاحيتونو سره بشري حقوق چې نړيوالو معيارونو د هغو ضمانت کړی، په ډيره کوچنی کچه هم ژوبل بايد نه شي او يا هغو کې کموالي راوستل شي. د بيلګې په توګه،

وژل یا ربړول باید په هیڅ حالت کی هم  د امنیت د خوندی ساتنی تر نامه لاندی د دولت د یوه کار کونکی وسیله ونه ګرځی.
د سپتمبر د ١١ پیښی څخه وروسته د اروپا شورا په دی لټه کی شوه چی هغه معیارونه وټاکی چی د هغو پر بنسټ د نړیوال تروریزم سره د مبارزی لپاره د امنیتی او استخباراتی ادارو ځانګړی صلاحیتونه کنترول کړای شی ( ١٣ چوکاټ دی وکتل شی).

**١٣ چوکاټ:**

## د بشری حقوقو او د تروریزم پرضد د مبارزی په هکله د اروپا د وزیرانو د شورا ټاکل لاربښود لیک

**٢ ـ د خپل سرو چالچندونو منع:**

په ټولو اقداماتو کی چی دولتونه ئی د تروریزم پرضد د مبارزی لپاره لاس لاندی نیسی باید بشری حقوق او د قانون واکمنی مراعات شی او له هرډول خپل سرو تصمیمونواو نژاد پالنی چلندونو څخه دی مخ نیوی وشی. د دولتونو اقدامات باید تر څارنی لندی ونیول شی.

**٣ ـ د قانون پر بنسټ د تروریزم پرضد اقدامات:**

الف ـ د تروریزم پرضد د دولتونو ټول اقدامات باید قانونی بنسټ ولری. ب ـ کله چی یو اقدام بشری حقوق محدود کړی، هغه باید تر کومه ځایه چی امکان لری په دقیقه توګه  تعریف شی او د هغه هدف لپاره چی تری کار اخیستل کیږی اړتیا او اړیکه ولری.

**۴ـ د ربړولو منع کول په مطلقه توګه**

له ربړولو یا نانسانی یاسپکاوی یا سزا ورکونی چلند په هر حالت کی منع دئ، په خاصه توګه دتروریستی عمل د کولو په تور د یو شخص ( ښځه یا نارینه) د نیونی، پلټنی یا د پوښتنی او ګرویځنی په وخت کی.

**۵ ـ د امنیتی ارګانونو له خوا د شخصی راټول کړای شوو معلوماتو او د هغو حخه استفاده:**

د شخصی معلوماتو راټولول او له هغو څخه کار اخیستل یوازی په دی شرط اجازه لری چی: الف ـ د کورنی قانون په چوکاټ کی څرګند وی؛ ب ـ دهغه مقصد لپاره چی هغه په کار لویږی، قانونی اړتیا وی؛ ج ـ د دولت څخه بهر د  یو خپلواک ارګان تر څارنی لاندی راوستل شی.

**۶ ـ  هغه اقدامات چی په شخصی مسایلو کی مداخله کوی:**

الف ـ هغه اقدامات چی د تروریزم پرضد د مبارزی لپاره نیول کیږی او په شخصی چارو کی د لاسو وهنی لامل ګرځی( لکه:  شخصی پلټنه، د کور پلټنه، د تیلفونی خبرو اوریدل، د تیلفونی خبرو ثبتول، د لیکی اړیکو څارنه او د مخفی اجنټانو ټاکل) باید قانونی اجازه ولری.  همداراز اغیزمن وکړی باید اجازه ولری چی د دغو اقداماتو پرضد په محکمه کی اعتراض وکړی. ب ـ هغه اقدامات چی د تروریزم پرضد د مبارزی لپاره لاس لاندی نیول کیږی باید د مسؤلو چارواکو له خوا پلان او کنترول شوی وی ترڅو تر کومی کچی چی امکان ولری له قوی حخه د کار اخیستو مخه ونیوله شی او دغه اقدامات هم باید د قانون په چوکاټ کی سرته ورسیږی. د امنیتی ځواکونو له خوا له وسلی څخه کار

اخيستل بايد يقينا د هغه هدف او مقصد سره جوړښت ولري چې د يو تيرې کونکې عمل پرخلاف د يو وګړي د ساتنې لپاره تعريف شوی وی او يا د قانون له مخې د نيونې لپاره ورته اړتيا وی. <=
**۷ - احتمالی بی برخی کونه**

ب - دولتونه بايد هيڅ وګړۍ چې په تروريستي عمل تورن وی او يا د هغه مرتکب شوۍ وی، له بنسټيزو بشری حقوقو څخه بی برخی نه کړی، د مثال په توګه د ژوند کولو حق، څرنګه چې په نړيوالو معيارونو کی يی ضمانت شوی دی، همداراز نه ربړول يا نا انسانی چلند نه کول او يا قانون ته د لاس اوړدولو حق.
سرچينه: د بشری حقوقو او د تروريزم پرضد د مبارزی په هکله لاربنود ليک چی د اروپا د وزيرانو د شورا د کميتی له خوا د ۲۰۰۲ کال د جولای په ۱۱ طرح او تصويب شوو. دغه لاربنود ليک کولای شی چی په دغی انترنتی پاڼه کی ومومی:
http://www.coe.int/T/E/Com/Files/Themes/terrorism/CM_Guidlines_20020628.asp

## په محاکمو کی له استخبارتی معلوماتو څخه کار اخيستل

که چيری نړيوال قانون مراعات شی، هغه ځانګړی صلاحيتونه چی امنيتی او استخباراتی ادارو ته ورکړ شوی دی، بايد اجرائی ارګانونو ته د عادی ورکړ شوو صلاحيتونو په توګه او د جنايي قانون د چوکاټ په توګه وپيژندل شی. په ځانګړو صلاحيتونو کی د تيلفونی خبرو اوريدل او ثبت، پستی او بريښنا ليکی اړيکی، په پټه توګه فلم نيونی، په شخصی شتمنيو کی مداخله، د نقليه وسايلو او د کامپيوتر سيستم کنترول شامل دی. د دی خبری په پام کی نيونی سره چی له دغو وسايلو څخه کار اخيستل تر کومی کچی له عامو اصولو سره تناقض کی دی ، بيلابيل قانونی سيستمونه شته دی، د بيلګی په توګه د شتمنيو قانون. خو هغه څه چی په عامو قوانينو منل شوی خبره ده،دا ده چی په شخصی چارو کی مداخله بايد د قانون له مخی وی او له ياد شوو وسايلو څخه کار اخيستل بايد تر څارنی لاندی ونيول شی.

په ځينو هيوادونو، لکه آلمان کی د استخباراتی ادارو له شواهدو څخه د محکمو په تحقياتو کی هم د استفادی وړ دی. په ځينو نور هيوادو، لکه اسپانيا او آيرلند کی د تروريستی قضيوو لپاره ځانګړی محکمی تاکلی شوی دی چی هغو ته اجازه شوی چی له استخبارتی شواهدو څخه کار واخلی. دغه ډول محاکمه يی توپيرونه حتی د جنايی مسايلو په تحقيقاتو کی هم ليدل کيږی. په ځينو هيوادونو کی د تحقيقاتو قاضی او په ځينو کی خپلواک څارنوال پر دی قضييو کار کوی او د دی پلټنه کوی چی د هغو شواهدو څخه کار اخيستل په يو محاکمه کی تحقيقی يا مشورتی اهميت لری.

## د ځانګړو صلاحيتونو څارنه

د څارنی يا مراقبت په معنی د پوهيدو لپاره عملی لاربنونه د ميک دونالد نومی رپوټ ( د کانادايی پوليس،Royal Canadien Mounted Police، د سرغړونو په دوسيه کی ګمارل شوی کميسيون) کی چی په ۱۹۸۰ کال کی خپور شوو، کيدای شی ومينډله شی. له څارنی څخه د شخصی حقوقو د ساتنی لپاره ميک دونالد د څلورو اصولو وړانديز کړی دی:

- **د قانون واکمنی بايد په ټينګه توګه مراعات شی؛**
- **د پلټنی تخنيکونه بايد تر پلټنی لاندی امنيتی ګواښ سره تناسب ولری او د ملکی آزاديو او د ديموکراتيک جوړښتونو په وړاندی د هغه د احتمالی تاوانونو ارزونه وشی؛**

- **تر کومه ځايه چې امکان ولری به شخصی چارو کی له لاس وهنی حخه مخ نيوی وشی؛**
- **د اختياراتو کنترول بايد داسی اعيار شی چی، تر هغی کچی چی په شخصی چارو کی مداخله کيږی، هومره قانونی صلاحيتونه هم ورته وغوښتل شی.[8]**

د ميک دونالد د کميسيون اصولو ته بايد پنځم ټکی هم ورزيات شی او هغه داچی: هغه قانون چی پر ځانګړو صلاحيتونو جاری دئ، بايد هر اړخيز وی. که چيری قانون د معلوماتو د راټولولو په برخه کی له محدودو تخنيکی امکاناتو حخه برخه من وی، دا خطر موجود دئ چی يوه استخباراتی يا امنيتی اداره په داسی چالچلندونو لاس پوری کړی چی ډير منظم نه وی ( د بيلګی په توګه: هغه ډول چالچلندونه چی له اداری څخه بهر د تائيد لپاره غوښتنه ونه کړی). دغه مسأله د ميک دوناد د کميسيون دريم اصل غښتلی کوی. د هر اړخيز قانون مثالونه سړی کولای شی چی په آلمان، هالند او بريتانيا کی وموميی.[9] د يادونی وړ ده چی وروستئ اصل نه يواځی څارنی بلکه د بشری سر چينو له لاری د معلوماتو راټولولو ته هم اشاره ګوی.

سره له دی هم د ميک دونالد د کميسيون اصول د څارنی پر سر د بحث تر عنوان لاندی: د قانون د حاکميت؛ تناسب او له ځانګړو صلاحيتونو څخه د ناوړه استفادی پر ضد د کنترول لپاره يو ګټور چوکاټ جوړ کړی دئ.

**لومړی د قانون واکمنی:** د قانون د واکمنی يوه غوښتن دا ده چی له هغو صلاحيتونو حخه چی امنيتی اداری کار اخلی بايد له قانون سره سم وی. په دی وجه د مشخصو قانونی صلاحيتونو درلودل ضروری دی، د بيلګی په توګه د تيلفونونو د اوريد او ثبت لپاره. دا هم خورا د اهميت وړ خبره ده چی قانون په دی برخه کی صراحت ولری. د مثال په توګه، له ځانګړو صلاحيتونو څخه د کار اخيستو په وخت کی، کله چی يو تورن سړی څارنی لاندی نيول کيږی، د څارنی موده بايد ټاکل شوی وی. ځينی دغسی مسايل بايد د يوی صلاحيت لرونکی مرجعی له خوا په يوه ليکل شوي حکم کی مشخص شوی وی، خو مهمه خبره دا ده چی په دی اړه مشخصه لارښونه وشی.

## ۱۴ چوکاټ:
## د شخصی حقوقو په هکله د اروپا د بشری حقوقو د محکمی ځينی قضيی

د اروپا د بشری حقوقو د محکمی د قانون د اتمی مادی له مخی، په ځينو قضيو کی هغی محکمی د استثنايی صلاحيتونو په اړه (د تيلفونونو اوريدل او ثبتول، په شخصی ليکی اړيکو کی مداخله او داسی نور) د يو څرګند قانونی بنسټ پردرلودلو ټينګار کړئ دئ. سربيرن پر دی، هغی محکمی د استثنايی صلاحيتونو په اړه، »دقانون د کيفيت آزمايښت« څخه کار اخيستی دی، څرنګه چی د قانون په نظام کی څرګندوالی، وړاندوينه او قانون ته د لاس رسيدو امکاناتو ته ځانګړی پاملرنه کړی ده (۵ چوکاټ دی وکتل شی). له دغی آزموينی څخه د تيلفونی خبرو د ثبتونی قانون بريالی ونه ووت، ځکه په هغه کی د مسؤلو چارواکو صلاحيتونه له ربنتيينی څرګندوالی څخه برخه من نه ؤ، په خاصه توګه په دی موضوع کی چی د کوم شخص تيلفونی اړيکی يا د کومی سرغړونی په وجه او يا د څه مودی لپاره ثبت شی. همداراز په دی قانون کی د ثبت شووخبرو او هغو نسخو د له مينځه وړلو په هکله وضاحت نه شته. سر بيره پر دی د وکيل او مؤکل تر منيځ قانونی خبری بايد له مداخلی حخه خوندی وی. ځکه کله چی تصميم نيول کی چی دا ډول خبری دی ثبت شی، هرمرو هغه کاتب چی دغه خبری ليکی پرته له کوم حق څخه د هغو له محتوی څخه خبريږی.
که څه هم دغه ډول تصميمونه د بشری حقوقو د ژمنو له نړيوالو معيارونو سره( که څه هم په ټولوځايونو کی نه پلی کيږی) اړه نيسی، بياهم هغه د استثنايی صلاحيتونو څخه د کار اخيستو ډيری ښی نښانی ګڼل کيږی. =>

سرچینه:
Harman and Hewitt v UK (1992) 14 EHRR 657; Tsavachadis v Greece, Appl. No. 28802/95, (1999) 27 EHRR CD 27; Malone v UK (1984) 7 EHRR 14; Khan v UK, May 12, 2000, European Ct HR (2000);BHRC 310; P G; J.H. v UK, European Court of Human Rights, 25 Sept. 2001, ECtHR Third Section; Leander v Sweden (1987) 9 E.H.R.R. 433

**دوهم مهم اصل ـ متناسب توب ـ:** دغه اصل هم د بشری حقوقو د اروپایی منشور له مخی د استثنایی صلاحیتونو په برخه کی د پلی کیدو وړ ده ( د بیلگی په توگه د څارنی، د معلوماتو راټولولو او د امنیتی و استخباراتی ادارو لپاره د امتیازونو او استثناآتو په برخه کی). په نتیجه کی د اروپاد بشری حقوقو محکمی یوه آزموینه وکړه چی آیا هغه قوانین چی د ملی امنیت د خوندی ساتنی په موخه د تیلفونی اړیکو د ثبتونی اجازه ورکوی، د هغی محکمی د ۸ مادی په پام کی نیونی سره د دیموکراتیکی ټولنی له بنیگنو سره سمون لری که نه.[10] د دغه کار د تر سره کولو لپاره هغی محکمی په څو هیوادونو کی د نوموړو صلاحیتونو قوانین او د هغه بنسټیز جوړښتونه تر څیړنی لاندی ونیول. همدا راز د هغو قوانینو په اړه چی د امنیتی دوسیو د پرانیستلو او حفظولو اجازه ورکوی، دغه ډول ته ورته اقدام څخه کار واخیستل شوو.[11]

**دریم اصل ـ د ځانگړو صلاحیتونو کنترول ـ:** مهمه خبره دا ده چی له ځانگړو صلاحیتونو څخه د ناوړه کار اخیستو د مخ نیوی لپاره یو ډول کنترول باید موجود وی. دغه کنترول کیدای شی چی دغو مسایلو پوری اړه ولری: له ځانگړو صلاحیتونو څخه د کار اخیستو لپاره د اجازی ورکولو پروسه، هغه موده چی د دغو صلاحیتونو د کار خیستو لپاره ورکوله کیږی، له هغو موادو څخه د کاراخیستو چی په دی برخه کی لاس ته راځی او د هغو کسانو څخه قانونی ساتنه چی د ناوړه استفادو و سرغړونو بربنډول کوی ( ۲۱ فصل دی وکتل شی). کنترول کیدای شی چی له ځانگړو صلاحیتونو څخه د کار اخیستلو څخه مخکی یا وروسته سرته ورسیږی، څرنگه چی دغه لاندی مثال دا مسأله روښانه کوی:

ډیر قانونی سیستمونه له څارنی او د معلوماتو له راټولولو څخه مخکی د امنیتی او استخباراتی اداری څخه بهر د یو صلاحیت لرونکی څارونکو د درلودلو لپاره غوښتنه کوی. دغه څارونکی کیدای شی چی یو قاضی ( لکه په بوزنیا او هرزگوینا، استونیا او کانادا) یا یوه محکمه ( مثلا په هالند، امریکا متحده ایالات کی چی د بهرنیی استخباراتو تر قانون لاندی عمل کوی) یا یو وزیر ( لکه په بریتانیا کی) وی. په وروستی مثال کی، دا چی وزیر د څارونکی په توگه عمل کوی او هغه د اجرائیه قوی غړی دی، باید له قدرت څخه د ناوړه استفادی د مخ نیوی لپاره یو ډول کنترول موجود وی. په دی اړه البته د یادونی وړ ده چی که څه هم په آلمان کی هغو ادارو ته د ځانړو اختیاراتو د ورکوو صلاحیت یو وزیر لری، خو هغه مکلف دئ چی د استخباراتی څارنی په هکله پارلمانی کمیتی ته رپوټ ورکړی. [12]

له ځانگړو اختیاراتو څخه له کار اخیستو څخه وروسته کنترول کیدای شی چی دغو قوانینو کی شامل شی: څه ډول مواد راټولیږی ( د تیلفونونو ثبتول، عکسونه، کاپی اخیستل)، د څه مودی لپاره ، دغه مواد د چا په اختیار کی دی، او د څه مقصد لپاره راټولیږی. د هر هیواد د قانونی سیستم په پام کی نیونی سره د موادو راټولول یا ساتل، د قانون د ماتولو په صورت کی، ښایی اجازه نه وی. حتی که چیری دغسی یو قانونی ممانعت موجود هم نه وی، په لومړی پړاو گی یو ډول کنترول ضروری دئ.

# غوره چالچلند

- د قانون د واکمنی یو غوښتنه دا ده چی د استخباراتی او امنیتی ادارو خانګړی صلاحیتونه باید قانونی بسټ ولری؛
- قانون باید روښانه، ځغرده او هراړخیز وی ترڅو هغه اداری ونه شی کړای چی له کمزورو قانونی امکاناتو حخه استفاده وکړی؛
- په هر قانون کی چی د څارنی لپاره جوړیږی باید انډول خوندی وساتل شی؛
- د استخباراتی و امنیتی ادارو له خوا د ځانګړو اختیاراتو څخه د ناوړه استفادی د مخ نیوی لپاره باید له هغو ادارو څخه بهر څارونکي وټاکل شی.
- ټول هغه اقدامات چی د هغو ادارو له خوا د تروریزم پرضد د مبارزی لپاره لاس لاندی نیول کیږی، باید بشری حقوق او د قانون واکمنی مراعات کړی. په یو وګړی باندی د تروریستی فعالیتونو د تور یا د هغو د کولو سره سره، امنیتی او استخباراتی اداری باید د هغه بنستیزبشری حقوق ( لکه ژوند کول، نه ربړول او داسی نور)، څرنګه چی د اروپا د بشری حقوقو محکمی او د مدنی او سیاسی حقوقو نړیوال منشور منلی دی، پښو لادی نه کړی؛
- له ځانګړو صلاحیتونو څخه د ناوړه کار اخیستو او زورزیاتیو د مخی نیوی او بشری حقوقو د خوندی ساتنی لپاره باید د هغو ادارو چلند تر څارنی او ارزونی لاندی ونیول شی.

## اووم فصل

# معلومات او دوسیې

څرنګه چې لیدل شوې دې د امنیتي او استخباراتي ادارو د کار زیاته برخه د وګړو دګړو او وړو او د هغو د مقصدونو په هکله د معلوماتو(چې ځینې شخصي دې) راټول دي. دغه معلومات په دې موخه راټولول کیږي چې ښایي وګړي له تروریستي او ویجاړونکو او یا جاسوسوي فعاللیتونو سره تړاو ولري. د دغو فعالیتونو د کشف او یا د هغو پر ضد د مقابلې سر بیره، د وګړوپه هکله شخصي معلومات د هغو د روښانه کولو یا تصفیې په موخه راټولیږي، به خاصه توګه، کله چې ګمان وشي چې تورن شخص بنسټیزو ملي هدفونو ته لاره پیدا کړي ده.

د داسې ګمان سره سره، د تورنو کسانو په هکله د دوسیوپرانیستل او یا د هغو په هکله معلومات راټولول له ځینو خطرونو سره جوخت دي. دغه خطرونه عبارت دي له: د ډیرو زیاتو معلوماتو راټولول( په دې موخه چې ګواکې هغه ښایي ګټور وي، نه په دې مقصد چې د ټاکلې هدف لپاره ترې کار واخیستل شي)، د غلطو معلوماتو راټولول، د بې بنسټه او یا تیر ایستونکو معلوماتو راټولول ( د داسې معلوماتو سره کیدای شي چې بې ګناه خلک تر څارنې لاندې ونیول شي او یا د یو غلط مقصد لپاره معلومات وي) و هغه معلومات چې د یو شخص کار او بار ته تاوان رسوي، خو د استخباراتي مقصد لپاره کومه ګټه نه کوي.

د داسې خطرونو د پیښیدو په وجه، د معلوماتو د راټولولو او دشخصي معلوماتو د ساتلو په هکله نړیوال معیارونه تا کل شوي دي. د دغو معیارونو یوه بیلګه د اروپا د شورا د ۱۹۸۱ کال د جنورۍ د ۲۸ نیټې منشور دئ چې د فردي حقوقو او د شخصي معلوماتو د خوندي ساتنې لپاره تصویب شوو. دغه منشور د ۱۹۸۵ کال د اکتوبر له لومړۍ څخه نافذ دئ. د دغه منشور هدف د فردي حقوقو خوندي ساتل، د معلوماتو حخه د استفادې په پام کې نیونې سره د وګړو شخصي ژوند ته درناوی درلودل دي ( لومړۍ ماده). د بیلګې په توګه د هالند د ملي مقرراتو وروستي قانون ته نظر واچوئ ( ۱۵ چوکاټ دې وکتل شي).

د د اروپا د بشري حقوقو محکمه د یو دولتي ارګان له خوا د یو وګړي د شخصي ژوند په هکله معلومات راټولول او له هغو څخه استفاده او د دغه کار د ردولو لپاره اجازه نه درلودل د شخصي ژوند په حق کې لاس وهنه ګڼي ( ۸ ماده، لومړۍ بند). د هغې محکمې قانون غوښتنه کوي چې د معلوماتو راټولول او له هغو څخه استفاده باید کورنې قانوني اساس ولري. د دې لپاره چې دغه قانون د » قانون د کیفیت له آزمایښت« سره جوړښت ولري، باید اړوند وګړي حق ولري چې د هغه په هکله د راټول شوي معلوماتو ته لاره ولري او د لازمې مشورې په صورت کې په خپل چلند کې سمون راولي.[13]

> **۱۵ چوکاټ:**
> ### د معلوماتو د پلټنې حق (هالند)
>
> **۴۷ ماده ـ د شخصي معلوماتو د پلټنې حق**
> ۱ ـ اړوند وزیر، د هغه وګړي چې د هغه په هکله معلومات راټول شوي د هغه د خپلې غوښتنې له مخې څومره چې ژر کیدای شي یا د درې میاشتو په موده کې نوموړي وګړي خبروي چې آیا دغه معلومات د کومې ادارې له خوا یا د هغې په استازیتوب د استفادې وړ ګرځیدلي دي او که نه. اړوند وزیر کولای شي چې په خپل صلاحیت خپل تصمیم تر څلورو اونیو پورې وځنډوي. د ځنډونې په=>

صورت کې وزیر د ټاکلې مودې له پای ته رسیدو څخه مخکې نوموړی وګړی ته لیکلئ خبر ورکوي.

۲ ـ اړوند وزیر، څرنګه چې په پاسنې پاراګراف کې یاده شوی، د خپل تصمیم د ځنډولو څخه وروسته څومره چې ژر امکان ولري، البته له څلور اونیو څخه په لږه موده کې، غوښتونکې وګړي ته اجازه ورکوي چې د هغه په هکله راټول شوی معلومات وپلټي.

۳ ـ اړوند وزیر مکلف دئ چې د غوښتونکې وګړي هویت په صحیحه توګه تشخیص کړي.

**۵۱ ماده ـ د غیر شخصي مسایلو په هکله د معلوماتو د پلټلو حق:**
۱ ـ اړوند وزیر، د هغه وګړي چې د هغه په هکله معلومات راټول شوي د هغه د خپلې غوښتنې له مخې څومره چې ژر کیدای شي یا لږ تر لږه د درې میاشتو په موده کې نوموړئ وګړئ خبروي چې آیا د هغه په هکله غیر شخصي معلومات د هغه له خوا تر پلټنې لاندې نیول کیدای شي او که نه. اړوند وزیر کولای شي چې په خپل صلاحیت خپل تصمیم تر څلورو اونیو پورې وځنډوي. د ځنډونې په صورت کې وزیر د ټاکلې مودې له پای ته رسیدو څخه مخکې هغه ته لیکلئ خبر ورکوي.
۲ ـ اړوند وزیر، څرنګه چې په پاسنې پاراګراف کې یاده شوی، د خپل تصمیم د ځنډولو څخه وروسته څومره چې ژر امکان ولري، البته له څلور اونیو څخه په لږه موده کې، غوښتونکې وګړي ته اجازه ورکوي چې د هغه په هکله راټول شوی معلومات وپلټي.
سرچینه: د امنیتي او استخباراتي ادارو قانون، ۲۰۰۲ کال، ۴۷ او ۵۱ مادې هالند.

# غوره چالچلند

- د استخباراتي ادارو قانوني اختیارات باید د هغو مقصدونو او په هغو شرایطو کې چې د یو وګړي په هکله معلومات راټولیږي او دوسیه پرانیستله کیږي، د هغو ادارو د قانوني هدفونو سره سمون ولري؛
- قانون باید په دې موخه چې دغه معلومات د څه مودې لپاره وساتل شي، له هغو څخه د استفادې څرنګوالی څنګه دئ او د چا په اختیار کې دي، د یو اغیزمن کنترول لپاره لاره اواره کړي او هم د معلوماتو د ساتنې له نړیوالو اصولو سره سمون ولري. په دې برخه کې باید یو روښانه پروسه موجوده وي، څرنګه چې له هغو ادارو څخه بهر کسان صلاحیت ولري چې د دغې لاربښودنې د پلي کیدو څارنه وکړي؛
- امنیتي او استخباراتي ادارې باید د معلوماتو ورکونې له حق او د قانون وثیقو ته د لارې درلودو څخه بې برخې نه وي. هغوی باید اجازه ولري، تر کومه ځایه چې امکان ولري، د ملي امنیت پورې اړوند اصول او د هغو ادارو صلاحیتونه بربنډ کړي؛[14]
- محکمې او نور خپلواک تأسیسات چې د قانون پر بنسټ جوړیږي، باید په دې برخه کې پوره آزادي ولري چې د هغو ادارو معلوماتي دوسیې ته لاس رسیدو سره پلټنه وکړي چې آیا د یو وګړي د شکایت په هکله قانون پلي شوی دی که نه.
- کله چې معلومات له بهر یا کومې نړیوالې مؤسسې له خوا لاس ته راشي، هغه باید هم استونکي او هم د اخیستونکي هیوادونو د کورنیو قوانینونو د څارنې د معیارونو تر کنترول لاندې ونیول شي؛
- یوائې په هغه صورت کې دې بهرنیو امنیتي ادارو یا وسلوالو ځواکونو یا یوې نړیوالې ادارې ته معلومات وسپارل شي چې هغوی هم لکه د استونکي هیواد په څیر له معلوماتو څخه د استفادې لپاره ورته قوانین او معیارونه لري.

## اتم فصل

# کورنی لاربښونه او د اداری کنترول

د یوی امنیتی او استخباراتی اداری په دننه کی د قانون ساتونکی احکام په دی فصل کی تر څیړنی لاندی نیول شوی ترڅو قانونیت او اصولیت خوندی وساتل شی. البته به دی کی شک نه شته چی دامنیتی او استخباراتی ادارو د هری اپراتیفی موضوع لپاره د قانون د ساتونکو احکامو ټاکل امکان نه لری. ښایی دی ته اړتیا هم نه وی، ځکه دا ښایی د هغو ادارو د اپراتیفی تخنیکونو په وړاندی د عامو خلکو په سطح حساسیتونه راوپاروی. خومهمه خبره دا ده چی د هغو ادارو د اجرایی چارو لپاره په اساسی قانون کی څرګندونی او د ناوړه استفادو د مخ نیوی لپاره معیارونه موجودی وی او هم څارونکۍ ارګان د اړوندی اداري مقرراتو ته لاره ولری.

## د غیر قانونی د چلند په هکله رپوټ ورکول

د امنیتی او استخباراتی ادارو د غیر قانونی چلند په هکله ډیر ښه باوری معلومات هغه دی چی د هغو ادارو له دننی څخه لاس ته راشی. په دی وجه هر اداره دنده لری چی د خپل غیر قانونی چلند په هکله خپله رپوټ ورکړی او هغه د سمون په لټه کی شی. له دی کار سره هغه اداره خپل او د خپلو کار کونکو اعتبار او حیثیت زیاتوی او په راتلونکی کی د غیر قانونی چلندونو مخه نیسی. د بیلګی په توګه په دی اړه د امریکا د دفاع وزارت د خپلو شخړه ایزو او نامناسبواستخباراتی فعالیتونو لپاره یو کورنی چینل پرانیستی دۍ چی د هغه له لاری د استخباراتی څارنو لپاره د دفاع وزارت معیین او »جنرل قونسل« ته معلومات ورکول کیږی او هغوی په خپل وار سره د دفاع وزیر او د هغه مرستیال ته د خبر ورکونی دنده لری.[15]

دغه مسأله (داخلی رپوټ ورکونه) د Whistle-blower (بربنډونکۍ یا شکایت کونکی) نومو احکامو په هکله هم صدق کوی. د قانون د دغو احکامو له مخی هغه ځوک چی څارونکو ارګانونو ته د غیر قانونی چلندونو په هکله بربنډونه کوی، له مصؤنیت څخه برخه من دي. دبوزنیا او هرزګووینا مثال ښیی چی د غیر قانونی چلندونو په هکله رپوت ورکول څرنګه د استخباراتی او امنیتی ادارو په چوکاټ کی تنظیم شوی دی.

| |
|---|
| **۱۶ چوکاټ:**<br>**په بوزنیا کی د امینتی او استخباراتی ادارو په قانون کی د غیر قانونی چلندونو په هکله احکام**<br><br>**۴۱ ماده**<br>کله چی یو کارکونکی پوه شی چی هغه ته د یو غیر قانونی چلند د کولو امر شوۍ دۍ، باید په لومړی سر کی امر ورکونکي مامور ته باید روښانه کړی چی دغه امر غیر قانونی دۍ. د تکرار په صورت کی هغه باید د امر له ورکونکی څخه لیکلۍ هدایت واخلی. که چیری کار کونکی د هغه امر په غیر قانونی توب باندی ډاډه وی ، نو مسأله دی خپل یو لوړ پوړی آمر ته وړاندی کړی او عمومی آمر یا رئیس دی له مسألی څخه خبر کړی. کارکونکۍ کولای شی چی د ورکړ شوی امر له اجرا کولو څخه ډه ډه وکړی.<br>سرچینه: د استخباراتی او امنیتی اداری په هکله د بوزنیا قانون. |

همدا راز هغه کار کونکئ چی د قانون پر ضد عمل کوی، باید په جدی توګه ځواب ورکونی ته وړاندی کړای شی ( د غیر قانونی امر د تعقیب په شمول). د سلسله مراتب او ټینګ اداری مقرراتو لرونکو ارګانونو کی کار کونکو ته د انظباطی سزاګانو ورکول نسبت ودی ته چی د هغو ارګانونو څخه بهر هغو باندی د جنایی جرمونو الزام ولګول شی اغیزمن دي.[16]

هغه کار کونکی چی د غیر قانونی چلندونو په هکله رپوټ ورکوی، باید د انظباطی او جنایی تعقیب لاندی ونه نیول شی. د عامه ګټو د خوندی ساتنی لپاره د غیر قانونی چلندونو د بربنډولوپه خاطر د جنایی تور څخه د ساتنی موضوع یوه تفصیلی شرح کولای شی چی د کانادا د امنیتی قانونی سند په ۱۵ (۴) برخه کی ومومی. د یو جنایی جرم بربنډولو سره عامه ګټی خوندی ساتل کیږی، البته په دی شرط چی د داخلی چینلونو له لاری د وزیر مرستیال او د څارنی ارګانونو ته د موضوع د وړاندی کولو سره سره، هغی ته پاملرنه ونه شی ( ۱۷ چوکاټ دی وکتل شی).[17]

<table>
<tr><td>

**۱۷ چوکاټ:**

## د بربنډولو د ساتنی مقررات (کانادا)

د دی تصمیم په اړه چی آیا د عامه ګټود خوندی ساتنی لپاره بربنډول غوره یا نه بربنډول غوره دی، یو قاضی یا محکمه دغه لاندی مسایل په پام کی نیسی:<br>
الف ـ باید وپلټل شی چی آیا د بربنډونی اقدام د سرغړونی د عمل دبربنډونی لپاره د اړتیا وړ دلایل لری که نه او که د سرغړونی د څارنی او تحقیق مخ نیوی پکار دئ؛<br>
ب ـ د سرغړونی د عمل جدیت باید وپلټل شی؛<br>
ج ـ له بربنډونی څخه مخکی باید وپلټل شی چی سرغړونکی له کومی بلی لاری چاری څخه کار اخیستی دی که نه ، که چیری اخیستی وی، نو ودی پلټل شی چی آیا هغه په دی برخه کی کومه قانونی لارښونه، مقررات او یا داسی نوری قانونی لاری مراعات کړی دی که نه؛<br>
دال ـ ودی پلټل شی چی آیا بربنډونکی د خپل دی باور لپاره کافی دلایل لری چی بربنډونه دعامه ګټی لپاره ده؛<br>
هـ ـ له بربنډونی څخه مقصد باید عامه ګټه وی؛<br>
و ـ د بربنډونی په پایله کی د تاوان یا د تاوان د خطر کچه؛<br>
ز ـ د سختو شرایطو شته والی چی د بربنډونی اقدام هڅوی.<br>
سرچینه: کانادا، د معلوماتو د قانون مصؤنیت ۱۹۸۵، پانه: ۱۵ (۴)

</td></tr>
</table>

## د استخباراتی او امنیتی ادارو لپاره د مسلکی چلند لارښود لیک

ډیري ډلی چی د خپلو چارو په تر سره کولو کی د ډیرو زیاتو ګټو او یا تاوان مسأله ورته مطرح ده، د کار یو لارښود لیک لری چی د هغوی مسلکی چلند بیانوی. دغه لارښود لیک له یولړ مسلکی اخلاقی لارښوونو څخه عبارت دی چی په ښه وجه د دندو د تر سره کولو لپاه ضروری ګڼل کیږی. د دغه مسلکی اخلاقی لارښونو د زده کولو لپاره باید ځینی کورسونه دایر شی. د دی ګټور اقدام سره د استخباراتی ادارو کار کونکی د خبرو اترو او د چلند ګډ میتودونه زده کوی. دبلیګی په توګه د امریکا د دفاع وزارت د استخباراتی چارو معینیت د نورو مسایلو سر بیره د استخبارتی څارنی پروګرام کی د هغو ادارو د کار کونکو د اصولی کولو، خبرتیا او روزلو دنده په غاړه لری ( د قانون واکمنی ته وفا لرل، د امریکایی اتباعو له بنستیزو او قانونی حقوقو څخه ساتنه).[18]

د جنوبی افریقا جمهوریت د خپلو استخباراتی کار کونکو لپاره د کار یو ډول لارښونی ټاکلی دی چی هغوته د اخلاقی کړو او وړ لارښونه کوی ( ۱۸ چوکاټ دی وکتل شی).

**۱۸ چوکاټ:**
## د جنوبی افریقا د استخباراتی کار کونکو د کار لارښود لیک

د استخباراتی اداری د کار کولو لپاره په کال ۱۹۹۴ کی دغه لارښود لیک وړاندی شوو چی جنوبی افریقا د استخباراتی اداری د هر یوه کار کونکی په برخه کی د پلی کیدو وړ دئ.

د کار لارښود لیک د امنیتی او استخباراتی ادارو لپاره دغه لاندی احکام وضع کړی دی:
- د دولت او قانون په وړاندی د وفا کولو څرګندونه؛
- د هیواد له قوانینو څخه اطاعت او قانون واکمنی ته غاړه ایښودل؛
- له دیموکراتیکو ارزښتونو سره موافقت، لکه بشری حقوقو ته درناوی؛
- د اسرارو په ساتنه کی په خپلی لوړی باندی ټینګ پاتی کیدل؛
- د سیاسی ناپلویتوب څخه پیروی؛
- د واقعیتونو او د ناپلویتوب بر بنسټ د معلوماتو د ارزونی لپاره ژمنه؛
- د پالیسی جوړونکو او د استخباراتی کارپوهانو تر مینځ یو بل باندی د باور د رامینځ ته کولو لپاره ژمنه.

د یو دیموکراتیک حکومت تر لارښونی هغه اداری چی د استخباراتی ماموریت لپاره ګمارلی شوی دی، باید د خپلو دندو په تر سره کولو کی دغو لاندو چالچلندونو سره موافقت ولری:
- هغوی باید د دیموکراتیکی واکمنی د ړومبیتوب په توګه هغه قانونی ارګانونه ومنی چی د ټولنی له خوا ورته اختیار ورکړ شوی دی ترڅو د استخباراتی ړومبنیو چارو په ټاکلو او څارنی کی ونډه ولری؛
- هغوی باید دا ومنی چی د امنیتی اداری په فکرونو، جوړښت او د کار په څرنګوالی کی هیڅ ډول بدلون راتلای نه شی ، مګر دا چی د خلکو یا اړوندو ارګانونو له خوا پریکړه یی وشی؛
- او هغوی هغی یوی پریکړی ته پابندی ولری چی د اړوندو اړخونو له خوا په یو لړ نورمونو او د کار په څرنګوالی باند موافقه شوی ده.

سرچینه: د جنوبی افریقا جمهوریت، د استخباراتو په هکله رساله، ۱۹۹۴ کال اکتوبر، لومړی ضمیمه

پرته له شک څخه چی د هغو ادارو په دننه کی مسلکی اخلاقو ته پابندی خورا مهمه ده. دغه اخلاق یا کړه او وړه په دی وجه هم مهم دی چی د استخباراتی مامورینو لپاره د کار د لارښوونی یو قانونی چوکاټ باید جوړوی او دوه ګټی ورسره جوخت دی. لومړی دا چی اختیاری تصمیمونه د هغو ادارو په ټولو برخو کی په منظمه توګه نیول کیږی. دوهم دا چی دی کار سره، د اپراتیفی حساسو تخنیکونولپاره قانونی لاره پرانیځی. ۱۹ چوکاټ هغه موضوعات ښیی چی کیدای شی په همدی ډول ترتیب ښی.

**۱۹ چوکاټ:**
## د استخباراتی او امنیتی اداری په هکله د بوزنیا او هرزګووینا قانون

**۲۷ ماده:**

د اداری رئیس د نورو مسایلو سربیره د قوانینونو، مقرراتو او لارښوونو د صادرولو مسؤلیت لری:

الف ـ د اخلاقی چلند لارښونی؛

ب ـ د امنیتی پلان په هکله معلومات؛

ج ـ د پټو او ښکاره معلوماتو په هکله لارښود لیک؛ <=

دال ـ د امنيتی تصفيی د چالچلند په هکله لارښود ليک؛
هـ ـ د پټو اطلاعاتو د ساتنی په هکله لارښود ليک؛
و ـ د معلوماتو د خپرلو مقررات؛
ز ـ د مخبرانو د استخدامولو، گمارلو او هغو ته د پيسو د ورکړی لارښود ليک؛
ح ـ د مخصوصو تخنيکی اپراتيفی وسايلواو امکاناتو څخه د کار اخيستو او استعمال لارښود ليک؛
ط ـ له وسلی څخه د کار اخيستو لارښود ليک؛
ی ـ د کار کولو لارښود ليک؛
ک ـ د معاشونو لارښود ليک؛
ل ـ د انظباطی چالچلند لارښود ليک؛
م ـ په بهر کی د استخدام لارښود ليک؛
ن ـ د هغو ادارو د کار کونکو د بنسټيزو او عمومی حرفولارښود ليک؛
س ـ په بوزنيا او هرزگووينا کی له ارگانونو او تأسيساتو سره د همکاريو لارښود ليک؛
خ ـ له نړيوالو ارگانونو سره د همکاريو او د استخباراتو د تبادلی لارښود ليک؛
ص – د رابط صاحبمنصبانو په هکله لارښود ليک؛
ض ـ د پيژند د کارتونو په هکله لارښود ليک
سرچينه: د بوزنيا د استخباراتی او امنيتی ادارو قانون، ۲۰۰۴

## غوره چالچلند

- استخباراتی اداری بايد له قانون څخه لوړی نه وی. په همدی وجه هغه کار کونکی چی د ادارو په دننه کی د غير قانونی چالچلندونو او چارو په هکله شک او له هغو څخه خبرتيا پيدا کوی، دنده لری چی په دی هکله رپوټ ورکړی؛
- يو ډول چالچلند بايد موجود وی چی د هغه له مخی د اداری د پټو غړو امنيت او مصؤنيت خوندی وساتل شی.
- د استخباراتی ادارو کا ر کونکی بايد د اخلاقی چلندونو په برخه کی وروزل شی.
- د زده کړو دغه ډول کورسونه بايد د کار په ټوله موده کی داير شی.
- د کورنی ادارو پاليسی بايد د يو روښانه قانون په چوکاټ کی تعريف شی؛
- هغه موضوعات چی د حساس قوانينو په هنداره کی منعکس کيږی ، بايد د کورنی اداری پاليسيو تر احکامو لاندی ونيول شی.

## د دوهمی برخی لمن لیکونه ـ اداره

1. د دی دوارو تر مينځ د توپير لپاره دی د دغو ښاغلو مقالی دی وکتل شی:
Brodeur, J.-P., Gill, P. in: Brodeur, J.P, Gill, P., Töllborg, D., Democracy, Law and Security: Internal Security Services in Contemporary Europe, (Aldershot: Ashgate, 2003).
2. د اروپا شورا، د جرمونو تحليل: سازمان شوی جرمونه ـ غوره چالچلند شميره ۴، شتراسبورگ: د اروپا شورا، ۲۰۰۲، ۶ پاڼه.
Council of Europe, Crime Analysis: Organised Crime - Best Practice Survey No. 4
(Strasbourg: CoE, 2002), p. 6 .
3. هر هيواد بايد خپله تشخيص کړی چی آيا د هغو چلندونه له دی معيارونو سره سمون لری او آيا د دی اهميت لری چی د ملی امنيت لپاره د گواښ لامل وگرځی، دا هم بايد په پام کی ونيوله شی چی د يو دولت امنيت په دی معنی هم نه ده چی يوائی د حکومت پايښت خوندی وساتل شی: د جنايی جرمونو د ستونزو په هکله د اروپا شورا، د امنيتی خدماتو په هکله د کارپوهانو رپوټ د وکتل شی:
'Each country has to determine whether the actions with which it is concerned are on such a scale or of such significance as to amount to a threat o the national security of the State, bearing in mind that the security of the State is not the same thing as the continuance in power of a particular government.' Council of Europe, Experts Report: European Committee on Crime Problems (CDPC), Group of Specialists on Internal Security Services (PC-S-SEC), Addendum IV, Final Activity Report, 40703, para. 3.2.
4. د بيلگی په توگه په بريتانيا کی د امنيتی اداری د ۱۹۹۶ کال قانون لومړی پاڼه دی وکتله شی، دغه قانون د جنايی جرمونو د کشف او د جدی جرايمو د مخی نيوی لپاره له پوليسی او د نور اجرايی ادارو ځخه د ملاتړ لپاره د می درجی نقش ته گوته نيسی.
5. د اروپا شورا، د کار پوهانو رپوټ......
Council of Europe, Experts Report, par.3.2

6. د ۲۰۰۱ کال د استخباراتی قانون سند
Intelligence Services Act 2001 (Cth), s. 15.

7. پر پوليسو او استخباراتی ادارو د واکمن قانون سند، ۱۹۹۹ کال، ۱۷ ماده
(Act Governing the Supervision of the Police and Intelligence Services, 1991, Art. 17 ).
8. د کانادا د رويال نومو پوليسيو په اړه د تحقيقاتو له پام ځخه غورځول
(ommission of Enquiry into Certain Actions of the RCMP, Freedom and Security under the Law, (Otttawa, 1980), Vol. 1, pp. 513 ff
9. د آلمان د ۱۹۹۴ کال د امنيتی پلټنی قانون، د هالند د امنيتی او استخباراتی قانون ۲۰۰۲، د بريتانيا د تحقيقاتی صلاحيتونو قانون ۲۰۰۰
(German Sicherheitsüberprüfungsgesetz 1994, Dutch Intelligence and Security Services Act 2002; UK Regulation of Investigatory Powers Act 2000).

10. د ښاغلو...... لیکنی:
Klass v FRG, (1979) 2 EHRR 214; Mersch v Luxembourg, (1985) 43 D and R 34
11. د ښاغلو...... لیکنی:
Leander v Sweden (1987) 9 E.H.R.R. 433; Esbester v UK App. No. 18601/91, 2 April 1993
12. د آلمان د استخباراتی اداری قانون......
German Bundesverfassungsschutzgesetz, 1990, § 9 (3)

13. د „ Rotaru v Rumania, Appl. No. 28341/95, 4 May 2000„ په قضیه کی د شتراسبورګ محکمی ومیندله چی د امنیتی دوسیو په هکله واکمن قانون د چالچند لپاره څرګندوالی نه لری، ځکه د دوسیو د وخت، له هغو څخه د کار اخیستو، هغه کسان چی د مشوری لپاره انتخاب شوی ؤ او د هغو دڅارنی لپاره د لاس لاندی نیول شوی میکانیزم په پام کی نیونی سره کوم ځانګړی چالچلند نه ؤ ټاکل شوی. په دی اړه د Leander v Sweden (1987) 9 E.H.R.R. 433 لیکنه دی هم وکتل شی. هغه په دی نظر دی چی د دی لپاره چی د قانون سره سم عمل وشی، باید په شخصی مسایلو کی مداخله د وړاند وینی وړ وی او وګړی هغه ته لاره ولری. د امنیتی پلټنی په بهیر کی حتمی نه ده چی عرض کونکی د ټولی پروسی وړاندوینه وکړی، بلکه غوره ده چی وضع شوی قانون د چالچند په برخه کی څرګنوالی ولری.
In Rotaru v Rumania, Appl. No. 28341/95, 4 May 2000 the Strasbourg Court held that the law on security files was insufficiently clear as regards grounds and procedures, since it did not lay down procedures with regard to the age of files, the uses to which they could be put, the persons entitled to consult them, the form the files were to take, or establish any mechanism for monitoring them. See also Leander v Sweden (1987) 9 E.H.R.R. 433, holding that in order to be 'in accordance with law' the interference with privacy must be foreseeable and authorised in terms accessible to the individual. In the context of security vetting this did not require that the applicant should be able to predict the process entirely (or it would be easy to circumvent), but rather that the authorising law should be sufficiently clear to give a general indication of the practice, which it was.
14. په کانادا کی د دغو معافیتونو په هکله د بحث لپاره دغو لیکونو ته مراجعه وکړی:
Leigh, I., 'Legal Access to Security Files: the Canadian Experience', Intelligence and National Security, Vol. 12:2, (1997), pp. 126-153
15. نور زیات معلومات په دغه انترنتی پاڼه کی دی ولیدل شی:
<http://www.pentagon.mil/atsdio/mission.html>
16. دبوزنیاـ هرزګوونیا د استخباراتی قانون ۵۹ ماده دی وکتله شی. استخباراتی کارکونکی له قانون څخه د سرغړونو په وجه تر پوښتنو لاندی نیول کیږی. دغه لاندی مسایل له قانون څخه د سرغړونو په توګه ګڼل کیږی: الف ـ د ماموریت پر خلاف چالچلند کول جنایی جرم دئ او یا نور ستر یا کوچنی سرغړونی چی د هغو ادارو شهرت ته تاوان رسوی. ب ـ د دولتی، پوځی یا رسمی اسرارو بربنډول چی د قانون خلاف وی؛ ج ـ له خپل ماموریت څخه سرغړونه او یا د هغه له حدودو څخه پښه اړول؛دال ـ د آمر د امر سره نه عمل کول؛ هـ ـ د هغه یو عمل سرته رسول چی د وګړو د حقوقو د نه پلی کولو سبب شی؛ و ـ د کار په وخت کی د مادی تاوان سبب ګرځیدل، په قصدی یا د نیمګړتیا په نتیجه کی؛ ز ـ پرته له اجازی څخه له کار څخه غیابت؛ ح ـ د سپارل شوی ماموریت په سرته رسولو کی نیمګړتیا او یا په خپل وخت د هغه نه سرته رسول؛ ط ـ د دغی مادی له مخی د اخلاقی سلوک د

انظباطی مسؤلیت څخه سرغړونه د جنایی جرم د تورنولو مخه نه شی نیولای، چیرته چی هغه د پلی کیدو وړ وی؛ انظباطی مسؤلیت باید د هغی اداری د رئیس له خوا په لارښود لیک کی وټاکل شی.
See e.g. Intelligence Law of Bosnia and Herzegovina, Article 59. Employees may be held accountable for violations of official duty as set forth in this Law. Violation of official duties shall be understood to mean: a) undertaking actions defined as a criminal offence against official duty, or other serious or minor offences which are harmful to the reputation of the Agency; b) disclosure of a State, military or official secret in contravention of applicable legislation and regulations; c) abuse of official position or exceeding authority; d) failure to execute a legal order of a direct superior; e) undertaking actions which may impede or prevent citizens or other persons from realising their rights pursuant to this and other relevant law; f) causing substantial material damage in the course of his/her work, intentionally or through extreme negligence; g) unexcused absence from work; h) failure to execute entrusted tasks and duties in a timely and proper manner; and i) violation of the Code of Ethics Disciplinary responsibility under this Article shall not be understood as precluding criminal liability, where applicable. The procedure for determining disciplinary responsibility shall be specified in a Book of Rules issued by the Director-General.

17. د کانادا د امنیتی معلوماتو د سند ۱۵.۵ برخه ، ۲۰۰۳

18. نور زیات معلومات په دغی انترنتی پاڼه کی میندلای شی :
.<http://www.pentagon.mil/atsdio/faq.html>

# دریمه برخه

# د اجرائیه قوی نقش

## نـهم فصل

# د اجرائیه قوی د کنترول برخې

په پرمختللو دولتونو کې امنیتي او استخباراتي اداری حکومتونو ته د خدمت او له هغو څخه د ملاتړ لپاره د استخباراتی معلوماتو د برابرولو او د هغوارزونی سره او د ګواښونو په مقابله ئےک مهم نقش لوبوی. دغه نقش هم په کورنی امنیت ( له تروریزم، جاسوسی فعالیتونو او د دیموکراتیک دولت خصوصیتونو ته د ګواښونو سره په مقابله کی) او هم د نړیوالو مسایلو،دیپلوماسیو او دفاعی چارو کی د پاملرنی وړ دئ. خو له ټولو څخه مهم ټکی دا دئ چې دغه اداری او هغه کسان چې په هغو کی نقش لوبوی د دیموکراتیکی څارنی لاندی د منتخبو سیاستوالو له خوا کنترول شی، نه دا چې یواځی خپل ځان ته ځواب ورکونکي وی؛ دغه منتخب سیاستوالان دي چې په یوی دیموکراسی کی د عامه ګټو ساتونکی دی.

د استخباراتی ادارو رسمیت او قانونیت په دی بنسټ ولاړ دی چی د هغوی صلاحیتونه، عملیات او لګښتونه په قانونی توګه تصویب شی. خو د ځینو خاصو لاملونو او د موضوع د حساسیت له کبله له بهر څخه د دغو ادارو کنترول باید د حکومت یعنی د اجرائیه قوی په لاس کی وی. البته د اجرائیی د یوی اغیزمنی څارنی او د پارلمانی کنترول تر مینځ ډیر زیات توپیر وجود نه لری ( څلورمه برخه دی وکتله شی)، ځکه پر دغو ادارو اغیزمن پارلمانی کنترول هم د وزیرانو اغیزمن کنترول پوری تړلی دئ. د پارلمان غړی کولای شی چی له وزیرانو څخه غوښتنه وکړی چی د استخباراتی ادارو د چالچلندونو په هکله ځواب ورکړی، البته داهم هغه وخت کیدای شی چی وزیران د هغو ادارو د چالچلندونو په هکله معلومات ولری. که چیری په دی برخه کی کموالئ موجود وی، په دی صورت کی پارلمانی غړی بله چاره نه لری، مګر دا چی دغه کموالئ د هغو ادارو په دننه کی له پوښتنو سره پوره کړی. خو دا یو ډیره کمزوری لاره چاره ده، ځکه تقنینی ارګانونه یواځی د هغو ادارو صلاحیتونه او لګښتونه بررسی کولای شی، خو هغوی داسی امکانات نه لری چی استخباراتی اداری له دننی څخه تنظیم یا رهبری کړی، حال دا چی حکومتی ارګانونه کولای شی چی دا کار وکړی.

په یوی غوره واکمنی کی وزیران هم صلاحیتونو ( پر استخباراتی ادارو د کنترول تر حده) او هم حق درلودلو ته اړتیا لری تر څو وکړای شی چی د یو منتخب ارګان د یوی غړی په توګه د خپل مسؤلیت د پر ځای کولو لپاره له هغو ادارو څخه دمعلوماتو پوښتنه وکړی. وزیران صلاحیت لری چی د اولس په ګټه د حکومت د پالیسو د پلی کولو لپاره له استخباراتی ادارو څخه د وفا داری انتظار ولری. همداراز هغوی د هغو ادارو د چالچلندونو په هکله پارلمان ته د ځواب ورکولو لپاره معلوماتو ته اړتیا لری.

خو د اجرائیه قوی له خوا د یو اغیزمن کنترول درلودل په دی معنی نه دی چی د استخباراتی ادارو اوپراتیفی او تنظیمی مسؤلیت هم د هغی په غاړه دئ. د ناوړه استفادی د مخ نیوی او هم د یو اغیزمن کنترول درلودلو لپاره د اړوندو وزیرانو او د هغو ادارو د رئیسانو صلاحیتونه باید د قانون د احکامو په چوکاټ کی وټاکل شی. البته د هغوی د صلاحیتو تر منیځ باید توپیرموجود وی ترڅو اغیزمن تمام شی. که چیری وزیران هر ورځ له استخباراتی چارو سره مصروف وی، بیا هغوی نه شی کولای چی د یو خپلواک څارونکی ارګان په توګه پر هغو ادارو بهرنی څارنه ولری، په دی ډول ټول نظام له کمزوری سره مخامخ کیږی. البته په دی کی شک نه شته چی د وزیرانو او د هغو ادارو د رئیسانو د دندو تر مینځ د توپیر کرښی ایستل ګران دي. خو په دی برخه کی د کانادا د ۱۹۹۴ کال استخباراتی قانون یو ډیر ښه مثال دئ چی توپیر دغه کرښه وپیژندله شی. دغه سند وایی چی د استخباراتی اداری رئیس د کنترول او اداری دنده په غاړه لری او د هغه مقام د وزیر تر لاس لاندی دئ.[1] د پولند استخباراتی قانون

هم په دی برخه کی ښکاره احکام لری چی د لومړی وزیر او هغی اداری د رئیس د اختیاراتو تر مینځ توپیر ښیی ( ۲۰ چوکاټ دی وکتل شی).

**۲۰ چوکاټ:**

**د وزیر او د استخباراتی اداری د رئیس د صلاحیتونو تر مینځ د توپیر کرښه (پولند)**

۷ ماده

لومړی وزیر د هدایتونو له لاری د هغو ادارو د فعالیتونو تګلاره تعریفوی.
د هغو ادارو رئیسان په اعظمی توګه دری میاشتی د تقویمی کال له پای څخه مخکی د راتلونکی کال د کار پلان لومړی وزیر ته وړاندی کوی.
د هغو ادارو رئیسان هر کال د جنوری د ۳۱ نیټی څخه مخکی د هغو ادارو د تیر کال د فعالیتونو په هکله لومړی وزیر ته رپوټ وړاندی کوی.
سرچینه: د کورنی امنیتی اداری او د بهرنی استخباراتی اداری قانون، ۲۰۰۲ پولند.

د هالند استخباراتی قانون هم د ښه کنترول او ښی پلټنی له ځانګړتوب څخه برخه من دئ. دغه قانون غوښتنه کوی چی نوموړی اداری او د هغو سمبالونکی خپلی دندی له قانون سره سم د وزیر تر واک لاندی سرته رسوی. [2] د دغی غوښتنی د تر سره کولو لپاره د قانون احکام د قانون سره سم پراجراآتو ټینګار کوی چی په هغو کی د وزیر لارښونی هم شاملی دی.

د انتقالی دیموکراسی لرونکی هیوادونه، چیرته چی پخوا دملکی او پوځی حکومت تر مینځ کرښه ګډه وډه شوی وه، باید ځینی قانونی خنډونه را مینځ ته کړای شی ترڅو د سرغړونو مخه ونیوله شی.
د بیلګی په توګه، د بوزنیا او هرزګووینا په نوی قانون کی، په داسی حال کی چی د وزیرانو شورا یو لړ پالیسي او د غور کونی دنده په غاړه لری، د ۱۰ مادی پر بنسټ له دی څخه په ټینګه توګه منع شوی ده چی د استخباراتی اداری د رئیس یا د هغه د مرستیال په مسؤلیتونو او حقوقو کی لاس وهنه وکړی.[4]

همدا قانون د هغی اداری د رئیس د مسؤلیتونواوحقوقو اداری خصوصیتونه واضح کوی. دغه مسؤلیتونه د نورو مسایلو سر بیره له دغو دندو څخه عبارت دی: د هغی اداری د کلنی بودجی چمتو کول، د تخنیکی او اداری ګډو همکاری عملیاتو رهبری او د هغی اداری د بهرنیو عملیاتو رهبری. دغه قانون همداراز دغو نورو ټکو ته هم اشاره کوی: د استخباراتی سر چینو، تصمیمونو او د نه اجازه ورکړای شوو عملیاتو له نه بربنډولو څخه ساتل او همداراز د وزیرانو د شورا له لاری د هغو فعالیتونو لپاره د بهرنیو چارو د وزیر ملاتړ او تائید چی د بوزنیا او هرزګووینا پر بهرنی پالیسی جدی اغیزه لری.[5]

## لسم فصل

# د وزارت د مقام له خوا د استخباراتو څخه خبرتیا او د هغو کنترول

یو اغیزمن دیموکراتیک کنترول او د ملاتړ وړ پالیسی د وزیرانو او د چارواکو تر مینځ یوی په اصطلاح دوه کرښه ایز سړک ته ورته ده. وزیران هغو معلوماتو او تحلیلونو ته چی د استخباراتو په اختیار کی دی، اړتیا لری تر څو د هغو ادارو چالچلندونه تر کومه ځایه چی اجازه شته، د خلکو غوږ ته ورسوی. له بلی خوا، د هغو ادارو چارواکی باید وکړای شی چی د حکومت وزیران له ډیرو حساسو موضوعاتو څخه خبری کړی. د اهمیت وړ خبره دا ده چی وزیران د هغو ادارو په وړاندی پرانیستی پالیسی باید ولری.

قانون باید د سیاسی تګلاری لپاره روښانه او څرګنده لاره چاره ولری او د کورنی استخباراتی مسایلو کی له خپلواک سیاست څخه برخه من وی تر څو داډ ورکړی چی پالیسی پوری اړوند موضوعات د هغو سیاست والو له خوا ټاکل کیږی چی د خلکو په وړاندی مسؤلیت لری. که چیری امکان ولری ټول دغه میکانیزم په قانون کی صراحت پیدا کړی او د قانونی احکامو ملاتړ ورسره وی. دا باید یواځی په غوښتنی پوری محدود پاتی نه شی چی د هغو ادارو او وزیرانو تر مینځ ورځنی اړیکی د قانون پر بنسټ ولاړی وی، بلکه د داسی اړیکو لپاره د کار د یو قانونی چوکاټ درلودلو لپاره اړتیا ده تر څو په هغه کی صلاحیتونه اومسؤلیتونه صراحت ولری. د داسی یو چوکاټ درلودلو سره له یو خوا د ناوړه استفادو او سرغړونو مخه نیوله کیږی او له بلی خوا د کار کولو په اړیکو کی روښانیتا رامینځ ته کیږی.

دغه لاندی موضوعات په قانون کی د څرګندوالی لپاره غوښتنه کوی ( ۲۱ چوکاټ دی وکتل شی).
**لومړی د وزیرانو په سطح کی:** استخباراتی قوانین باید د امنیتی او استخباراتی پالیسیو لپاره مسؤلتیونه بیان کړی ( البته د هغو ادارو د قانونی اختیاراتو په حدودو کی)؛ د ادارو له خوا د رپوټ د لاس ته راوړنی حق؛ د هغو موضوعاتو پر تصویب باندی د ګوت نیونی حق چی له سیاسی لحاظه حساس دی ( د بیلګی په توګه د نورو هیوادونو له استخباراتی ادارو سره همکاری) [6] یا هغه فعالیتونه چی بنسټیز حقوق اغیزمن کوی ( لکه له ځانګړو صلاحیتونو څخه کار اخیستل ، د دی پاملرنی څخه پرته چی دا امرله اداری څخه بهر د یوه پریکړی غوښتنه کوی که نه، لکه د یوه قاضی). [7] دوهمه د اداری په سطحه: دغه لاندی دندی باید مشخصی کړای شی: د حکومت د پالیسی د پلی کولو دنده، وزیرانو د رپوټ ورکونی دنده او همدا راز د حساسو موضوعاتو د پریکړی ضرورت په خاصه توګه د وزیرانو له خوا،د بودجوی مسایلو تصویب او په منظمه توګه رپوټ ورکول او د چارو سرته رسول.

| **۲۱ چوکاټ:**<br>**د وزیر حقوق:** | **د ادارو مسؤلیتونه** |
|---|---|
| • د امنیتی او استخباراتی چارو په هکله د مسؤلیت بیانول؛<br>• له ادارو څخه د رپوټ لاس ته راوړلو حق؛ => | • د حکومت د پالیسو د پلی کولو دنده؛<br>• وزیرانو ته د رپوټ ورکونی دنده؛<br>• د حساسو موضوعاتو د تصویب لپاره دنده. |

| | |
|---|---|
| • د حساسو سیاسی موضوعاتو د تصویب لپاره د ګوت نیونی حق ( لکه د نورو هیوادونو له استخباراتی ادارو سره همکاری) یا هغه مسایل چی بنسټیز حقوق اغیزمن کوی( لکه له ځانګړو صلاحیتونو څخه کار اخیستل ، د دی پاملرنی څخه پرته چی دا امرله اداری څخه بهر د یوه پریکړی غوښتنه کوی که نه، لکه د یوه قاضی). | |

د بیلګی په توګه، د کانادا قانون هغه حالتونه بیانوی چی په هغو کی د هغه هیواد د امنیتی اداری رئیس مکلف شوئ چی د وزیر له مرستیال یا د وزارت له کوم بل لوړ پوړی چار واکی سره مشوره وکړی. البته دا په هغه وخت کی دئ چی د هغی اداری رئیس په اپراتیفی عمومی پالیسی کی په تصمیم نیونی لاس پوری کوی ( ۲۲ چوکاټ دی وکتل شی).

**۲۲ چوکاټ:**

**له وزیر یا د هغه له مرستیال سره د استخباراتی اداری مشوره**

**۷ برخه**

۱ ـ رئیس د وزیر له مرستیال سره د هغی اداری د عمومی اپراتیفی پالیسی په هکله مشوره کوی.
۲ ـ رئیس یا بل هر کار کونکی چی د وزیر له خوا د ۲۱ او ۲۳ مادی له مخی د قضایی حکم د اخیستلو لپاره ګمارل کیږی، باید د حکم له غوښتنلیک یا د هغه د تجدید لپاره د وزیر له مرستیال سره مشوره وکړی.
سر چینه: د کانادا د استخباراتی امنیتی خدمتونو د ۱۹۸۴ کال د قانون سند، ۷ برخه (۱) او (۲)

په ډیرو هیوادونو کی د کنترول په دنده کی د پلټنی ریاست له وزیر سره مرسته کوی. دغه ریاست د قانون له مخی جوړیږی او له هغو حقوقو او مسؤلیتونو څخه برخه من دئ چی د حکومت یا پارلمان له خوا ورکول کیږی ( د پلټنی د ریاست په هکله د زیاتو معلوماتو لپاره د دی کتاب پنځمی برخی، د بهرنیو ارګانونو نقش ته دی کتنه وشی). د پلټنی ریاست څارنه کوی چی آیا د حکومت استخباراتی پالیسی په سمه او ښه وجه پلی شوی ده که نه.

ښکاره ده چی د پلټنی د ریاست او د اجرائیه قوی تر مینځ باید انډول وساتل شی تر څو له هغو ادارو څخه د اجرائیه قوی د ناوړه استفادی مخه ونیوله شی. د دی مقصد لپاره مختلف ساتونکی احکام شته دی او په دیارلسم فصل کی پری بحث شوئ دئ.

## غوره چالچلند

- استخباراتی قانون باید هغه ته د لاس رسیدولپاره له دوو بیلابیلوحقونو څخه برخه من وی: د اجرائیه قوی حق چې وکړای شی هغو معلوماتو ته لاس اوږد کړی چې د استخباراتی ادارو په واک کی دی او د هغو ادارو حق چې وکړای شی له اړوند وزیر سره اړیکه ولری؛
- وزیر باید د قانون له مخی د امنیتی او استخباراتی موضوعاتو په هکله د پالیسی د بیانولو مسؤلیت ولری. همداراز هغه د قانون له مخی حق لری چې د هغو ادارو له خوا ورته په منظمه توګه رپوټ ورکړ شی او هغه د حساسو سیاسی موضوعاتو د پریکړی مسؤلیت هم لری.

## يولسم فصل

# په پټو عملياتو کنترول

پټ عمليات د هغو لاس وهنو او اقدماتو څخه دي چې يوه استخباراتي اداره يې په بوې خاورې او يا د هيواد په چارو کې د مخکې له مخکې خبرتيا څخه پرته سرته رسوي. د بيلګې په توګه د امريکا د اجرائيه قوې ۱۲۳۳۳ شميره امر د«خاصو فعاليتونو» اصطلاح داسې تعريفوي ( ۲۳ چوکاټ دې وکتل شي):

**۲۳ چوکاټ:**

**د پټو عملياتو تعريف (امريکا)**

«خاص فعاليتونه» هغو فعاليتونو ته وايي چې د ملي بهرنۍ پاليسې له هدفونو څخه د ملاتړ لپاره په لاره اچول کيږي او هغسې پلان او پلي کيږي چې په هغو کې د امريکا متحده اياﻻتو د حکومت نقش بربنډ نه شي او همداراز هغه چارې چې د دغوفعاليتونو څخه د ملاتړ لپاره تاکل کيږي د خاصو فعاليتونو په جمله کې راځي، البته نه هغه چارې چې د متحده اياﻻتو سياسي تګلاره، عامه نظر او پاليسې تر اغيزې لاندې راولي. همداراز په دې چارو کې ډيپوماتيک فعاليتونه يا د استخباراتو راټول يا نورې داسې اړوندې ملاتړ کونکې چارې شاملې نه دي.[8]

سرچينه: د امريکا د اجرائيه قوې ۱۲۳۳۳ امر،۳.۴ پاراګراف

پټ عمليات لږ تر لږه د دولاملونو په وجه د ځواب ورکونې غوښتنه کوي. لومړی دا چې دغه عمليات په پټه توګه سرته رسول کيږي، نو له قانونې لحاظه سخته ده چې هغه کنترول شي(حتى که قانون جوړونکې ترې خبرتيا هم ولري). دا چې دغه ډول عمليات د عامو خلکو د مالياتي پيسو په لګښت سرته رسول کيږي، پارلمان حق لري چې دغه عمليات تر پوښتنې لاندې ونيسي. دوهم، په ده برخه کې اخلاقي اړخ هم د دې ډول عملياتو د ځواب ورکونې غوښتنه کوي. تاريخ ښودلې ده چې د پټو عملياتو ځينې پروګرامونه له شخړه ايزو ستراتيژيو او تخنيکې لارو چارو څخه د کار اخيستو سره جوخت دي.د دې واقيعت په پام کې نيونې سره چې د هغه هيواد د قانون ل مخې ، چيرته چې دغه عمليات سره رسول کيږي، دغه عمليات غير قانوني دي، نو په دې وجه د سرغړونو انديښنې زياتې دي. همدا ده چې منتخب سياست واﻻن دنده لري چې د داسې عملياتو د زغملو لپاره( د بيلګې په توکه د بشري حقوقو سره د هغو سمون په موخه) قانوني بسټ جوړ کړي او د هغو اجازه هم د هغو په غاړه وي.

دپټو عملياتو لپاره د قانوني بنسټ جوړول ډيره زياته سابقه نه لري. د داسې قانون يوه نمونه کيداى شي چې د بريتانيې په دفاعي قانون کې وميندل شي چې استخباراتي اداری د اړتيا په وخت کې د بهرنيو عملياتو لپاره ترې کار اخلي، خو دا قانون د ملکي او جنايي قانون سره په تناقض کې دی ( ۲۴ چوکاټ دی وکتل شي).

هغه دوه موضوع چې په دی طرح کې د پاملرنې وړ نه دي ګرځيدلي، دلته د يادونې وړ دي: لومړی، کله چې دغه عمليات سرته رسول کيږي، له قانوني لحاظه حتمي نه ده چې له وزيرانو دې اجازه واخيستله شي. په ځينو څرګندو دﻻيلو سره دولت کوﻻی شي چې په خپل قانوني سيستم کې د پټو عملياتو لپاره استثناء ومنې. البته داهم څرګنده ده چې هيڅ قانون استثناء نه منی. نو په دی وجه په هر

صورت کی دا ډول عملیات له قانون څخه سرغړونه ګڼل کیږی. خو هغه څه چی باید هیڅ کله له پام څخه ونه غورځول شی، هغه نړیوال بشری قانون دئ.

**۲۴ چوکاټ:**

**په بهر کی د پټو عملیاتو اجازه (بریتانیا)**

۷ (۱)، له دی برخی څخه جلا، که چیری یو سړی د کوم عمل له کبله له بریتانیا څخه بهر په کوم جرم تورن شی، هغه د بریتانیی په دننه کی تورن کیدای نه شی، په دی شرط چی د سرته رسول شوی عمل لپاره د بهرنیو چارو د وزیر امر ورکړ شوی وی (..)
۷ (۳)د دی برخی د قانون له مخی د بهرنیو چارو وزیر د داسی عملیاتو اجازه نه شی ورکولای، مګر داچی دی د لاندو موادو له مخی قانع شوی وی:
الف ـ هغه عمل چی د وزیر د اجازی پر اساس سرته رسول کیږی، غوښتنه کوی چی د عمل چالچلند داسی وی چی استخباراتی اداره برائت لاس ته راوړی؛
ب ـ داسی قانع کونکی شرایط موجود وی چی:
۱ ـ د اجازه ورکړای شوو حدودو څخه سرغړونه ونه شی، یواځی داسی کار سرته ورسیږی چی د استخباراتی اداری د برائت میندلو لامل وګرځی؛
۲ ـ د اجازه ورکړ شوی عمل لپاره کافی دلیلونه موجود وی او د هغه مقصد لپاره چی دغه عمل سرته رسول کیږی، پایله ولری؛
ج ـ د قانون د ۲ (۲) برخی له مخی قانع کونکی شرایط موجود وی چی د هغو پر بنسټ لاس ته راغلی معلومات بربنډ کړای شی.
سرچینه: د استخباراتی اداری د قانون احکام، ۷ برخه، بریتانیا، ۱۹۹۴

هغه حقوق او قانونی مکلفیتونه چی د قانون د دی جوښت څخه سر چینه اخلی، په نړیواله سطح د پلی کیدو وړ ګڼل کیږی، یعنی د هغو څخه کار اخیستل د کورنی قوانینوتعدیل سره بدلون نه مومی. د نړیوالوبشری حقوقو قانون د نړیوالو قانونی ضمانتونو مجموعه تشریح کوی چی یوفرد یا ټولنه د هغو چالچندونو څخه ساتی چی حکومتونه په بنسټیزو آزادیو او بشری حقوقو کی لاس وهنو سره ئی سرته رسوی. [9] دا په ډاګه ده، په خاصه توګه د اروپا د بشری حقوقو د محکمی د لاربښوونو له مخی، چی دولتونه نه یواځی د هغوی په خپلو هیوادونو کی د بشری حقوقو د پښولاندی کولو په وجه، بلکه هغو ټاټوبو کی چی د قانون واکمنی ټینګه وی، هم ګرم ګڼل کیږی، همدا راز د هغو د مامورینو له خوا د دی حقوقو پښو لاندی کولو مسؤلیت هم، هر چیری چی وی، د هغوی په غاړه دئ.

د نړیوالو بشری حقوقو د قوانینو په پام کی نیونی سره، کله چی استخباراتی اداری په پټو عملیاتو لاس پوری کوی باید د دغولاندو نړیوالی ژمنو درناوی وشی: د ملکی او سیاسی حقوقو نړیوال منشور (ICCPR) [10]او د ربړونی ضد منشور یا نورغیر انسانی چالچلندونه (CAT) [11] . په خاصه توګه د ژوند کولو حق (د ICCPR، ۶ ماده)، دنه ربړونی، نه سپکاوی، نه غیر انسانی چلند حق (د ICCPR، ۷ ماده) او د آزادی او امنیت حق (د ICCPR، ۹ ماده) د پټو عملیاتو د کولو په وخت کی باید مراعات شی. په پټو عملیاتو دوه عملونه په بشپړه توګه غیر قانونی ګڼل کیږی: د قضایی حکم څخه پرته وژل او ربړول او یا ناانسانی چلند. پټ عملیات د هر مقصد او هدف لپاره چی وی، وی به، خو په هیڅ صورت سره یو استخباراتی مامور( مخبر) اجازه نه لری چی یو دښمن ( په داخل یا بهر کی) ووژنی، دا عمل د (ICCPR) منشور له مخی د ژوند له ځرګند حق څخه ښکاره سرغړونه ده. داچی د هر انسان لپاره د ژوند د حق ضمانت شوئ،نو په هغه کی هیڅ ډول کموالئ نه منل کیږی (د ICCPR،۲،۴ ماده). د دغه قانون د مسوده کولو په وخت کی د نړی ۱۵۲ هیوادونو د نوموړی منشور غړی ؤ. [12]

نور چالچلندونه چی له پټو عملیاتو سره جوخت دی، د استنطاق له میتودونو سره تړاو لری. له دغو میتودونو څخه کار اخیستو سره باید بشری حقوق پښو لاندی نه شی او نه په ربړونی او نا انسانی چلند لاس پوری شی (د ICCPR، ۷ ماده).

**۲۵ چوکاټ:**

## ربړول

د ربړولو د منشور لومړی ماده د ربړولو جرم داسی تعریفوی:
هر هغه عمل چی د هغه له امله یو وګړئ روحی او جسمی درد ووینی او یا هر هغه عمل چی په دی مقصد وی چی له یو وګړی یا د هغه په واسطه له دریم سړی څخه معلومات یا اعتراف واخیستل شی، یا یو وګړی د جرم په تور یا د بل سړی د جرم په تور وځورول شی یا ګواښ ورته ورکړ شی او دا عملونه د یو رسمی مامور له خوا یا د هغه په امر سرته ورسیږی، ربړول ورته ویل کیږی. هغه درد او رنځ چی د قانون له خپل روح څخه را پیدا کیږی، په دی منشور کی شامل نه دی.
سرچینه: د ربړونی ضد او د نورو نا انسانی ضد چلندونو منشور
G.A. Res 39/46,39UN. G.A.O.R Supp. (No.51)at 197,UN Doc. A/39/51(1984)entered into force 26 June 1996

د هغو استنطاقی متودو چی بشری حقوق پښو لاندی کوی، ځینی مثالونه د اروپا د بشری حقوقو د محکمی په یوی پریکړی کی روښانه کړای شوی دی:

- **دیوال ته درول:** د څو ساعتونو لپاره دیوال ته د نیول شوو کسانوجبری درول. دغه ډول ربړول د هغو کسانو له خوا چی پری عملی شوی دی، داسی بیان شوی: دیوال ته مخامخ داسی درول څرنګه چی د لاس ګوتی له سره څخه پورته ونیولی شی، د پښو لنګی یو بل څخه لیری او له ځمکی حخه د پوندی پورته نیول، څرنګه چی د بدن ټول وزن د پښو پر ګوتو راشی؛
- **مخ پټول:** په یوی توری یا شنی کڅوری د نیول شوو کسانو سراومخ پټول، لږ تر لږه په لومړی سر کی، پرته د استنطاق په وخت کی؛
- **له کرغیړنو غږونو سره ربړول:** د استنطاق ځنډول، په یوی کوټی کی چی کرغیړن غږونه په کی منعکس کیږی د نیول شوو کسانو ساتل؛
- **د ویښ خوبی په واسطه ربړول:** د استنطاق ځنډول، له خوب څخه د نیول شوو کسانو بی برخی کول.
- **د نه خوراک اونه څښاک له لاری ربړول:** له خوراک او څښاک څخه د نیول شوو کسانو بی برخی کول او د استنطاق ځنډول.[13]

هغه معلومات او اعتراف چی د ربړولو په نتیجه کی لاس راغلی وی، د نړیوالو قانونو له مخی په محکمه کی اعتبار نه لری ( ۱۲ فصل دی وکتل شی).

ډیری وخت د بهرنیو عملیاتو په پرتله د کورنیو عملیاتو لپاره له لوړو معیارونو سره قوانین وجود لری. دی مسألی ته پرته له پاملرنی څخه، اجرائیه قوه د استخباراتی ادارو په پټو عملیاتو کی مهم نقش لوبوی. اجرائیه باید د بشری حقوقو احکامو ته جدا پاملرنه ولری. د آسترالیا د استخباراتی قانون دغه لاندی مثال دپټو عملیاتو په اړه د اجرائیی نقش بیانوی (۲۶ چوکاټ دی وکتل شی)

**۲۶ چوکاټ:**
**د وزیرانو له خوا د پټو عملیاتو د قانونیت کنترول (آسترالیا)**

۶ برخه، د آسترالیا د پټی استخباراتی اداری دندی (ASIS)
۱ ـ د هغی اداری دندی عبارت دی له : (.....)
و ـ د هغو فعالیتونو په لاره اچول چی مسؤل وزیر یی له آسترالیا څخه بهر د وګړو یا سازمانونو د توانمندی، هدف او فعالیتونو په اړه هدایت ورکوی.
۲ ـ مسؤل وزیرکولای شی ASIS ته هدایت ورکړی، هغه فعالیتونه چی د لومړی پارګراف د (e) بند ته رجعت کوی، سرته ورسوی، البته په دی شرط چی:
الف ـ هغه له نورو وزیرانو سره چی دغه ډول ورته مسؤلیتونه لری، سلا مشوره وکړی؛
ب ـ هغه قانع شوی وی چی قانع کونکی شرایط وجود لری چی له ټاکل شوو حدودو څخه د نه سرغړونی ضمانت کوی او د ټاکل شوو مقصدونو سره سم عمل کیږی؛
ج ـ هغه قانع شوی وی چی قانع کونکی شرایط وجود لری چی د هدایت ورکړ شوو فعالیتونو خصوصیت او نتایج له معقولیت څخه برخه من دی.
۳ ـ د لومړی پارګراف د (e) بند له مخی، هدایت باید لیک شوی بڼه ولری.
د A6 نومی برخی کمیته باید له نورو فعالیتونو څخه خبرتیا ولری. که چیری مسؤل وزیر د شپږم (1) (e) نومی پارګراف له مخی هدایت ورکړی، وزیر باید څومره چی ژرکولای شی نوموړی کمیتی ته د لاس لاندی نیول شوی فعالیت په هکله معلومات ورکړی.
سرچینه: د آسترالیا د استخباراتی اداری قانون، ۶ برخه، ۲۰۰۱

که چیری مخفی عملیات د هغه هیواد د قانون، چیرته چی هغه پلی کیږی، خلاف وی، د عملیاتوکونکئ هیواد خلک دی د قانون د ساتونکو احکامو له مخی پوه کړای شی چی د دی عملیاتو د نتایجو له امله بنایی هغوی هم اغیزمن شی. د دی امر مثال د آسترالیا د ۲۰۰۱ کال د استخباراتی قانون په ۱۵ برخه کی شته دئ چی وایی: مسؤل وزیر باید لیکل شوی مقررات وټاکی ترڅو د آسترالیایی وګړو په اړه د استخباراتی معلوماتو خپرول او ساتنه ترتیب او تنظیم کړی. د دی کار لپاره وزیر باید ډاډه شی چی د آسترلیایی وګړو شخصی مسایل خوندی ساتل کیږی.[14]

## غوره چالچلند

- ټول پټ عملیات باید د پارلمان د تصویب شوو قوانینوله مخی د اجرائیه قوی د مسؤل غړی له خوا تصویب شی. په دی اړه باید منظم رپوټ چمتو شی؛
- داسی یو عمل باید د یو حکومتی مقام له خوا تر دی نامه لاندی چی ګواکی د یو پټ پروګرام یوه برخه ده تصویب نه شی چی د نړیوالو بشری حقوقو خلاف وی.

## دوالسم فصل

# نړیوالې همکارۍ:

هغه برخه چې د وزیرانو او قانون جوړونکو لپاره ګرانه ده چې په ځیرتیا سره په کې عمل وکړي هغه د نړیوالو ارګانونو، له دولت څخه بهر ادارو او متقابلو همکاریو د ترڼنو ساحه ده.[15] د سپتمبر له ۱۱ څخه وروسته دغو تړونونو خورا اهمیت پیدا کړی او له هغو څخه زیاته استفاده کیږي. حتی که چیرې د دو هیوادونو ګټې سره کټ مټ جوړښت هم ونلري، خو کیدای شي چې تریوې اندازې د استخباراتي معلوماتو په راکړه ورکړه کې یو بل سره مرسته وکړي. یو بل سره همکاري کیدای شي چې د استخباراتي معلوماتو او تحلیلونو د شریکولو په برخه کې وي. د همکارۍ دغه ډول اړیکي یواځې په دې شرط ټینګې پاتې کیږي چې دواړه خواووې د استخباراتو د راکړه ورکړې موافقې ته په بشپړه توګه درناوي ولري. د بیلګې په توګه، د یو یا د بل اړخ له خوا د چمتو شوو استخباراتو سرچینه د هغو د پټ والي د کچې په پام کې نیونې سره پټه پاتې کیږي او دریم اړخ ته نه ورکول کیږي.

رښتیا خبر دا ده چې د بهرنیو هیوادونو له ادارو سره د همکاریو لپاره عملا اړتیا ده، د بیلګې په توکه له تروریزم سره د مبارزې په برخه کې. دا ډول همکاري چې د قانون پر بنسټ ولاړې نه وي، کیدای شي چې د کورنیو معیارونو او قوانینو په سر معاملې وشي. د بیلګې په توګه، د متقابلو همکاریو له تړون سره د معلوماتو د لاس ته راوړلو لپاره د څارنې قانون او یا شخصي مسایلو د ساتنې قانون پر سر معامله کیږي. په همدې وجه د استخبارتي ادارو تر مینځ نړیوالې همکارۍ باید د یو ټاکل شوي قانون او معیار کې ترتیب او تنظیم شي او لږ تر لږه له ساتونکو احکامو څخه برخه من وي. دغه لاندې چوکاټ بیلابیلې نړیوال استخباراتي همکارۍ تشریح کوي.

**۲۷ چوکاټ**

**د استخباراتي همکاریو بیلابیل چلندونه: دوه اړخیزه شریکونې**

د دو اړخونو تر مینځ د مینې وړ معلوماتو او تحلیلونو راکړه ورکړه د نړیوالو استخباراتي همکاریو ډیر عام شکل دئ. سر بیره پر دې، امکان لري چې د دو هیوادونو تر مینځ خاصې اړیکې او د همکاریو تړونونه موجود وي چې کیدای شي یو له دغو لاندې شکلونو څخه وي:

- یو دولت ښایي په یوې خاصې برخې کې د معلوماتو تحلیلونو د لاس ته راوړلو سره علاقه ولري او هغه ښایي مقابل لوري ته په یوې بلې برخې کې د معلوماتو او تحلیلونو په بدل کې ورکړي؛
- یو دولت ښایي خپله خاوره بل لور ته د ګډو فعالیتونو په اختیار کې پریږدي او په بدل کې یې د هغو نتایج په خپل مینځ کې شریک کړي؛
- یو دولت ښایي بل سره مرسته وکړي چې د خپلو هدفونه لپاره د ګډ ماموریت غوښتنه یې کړې ده، په دې خوښې سره چې چمتو کونکی دولت اجازه ورکوي چې لاس ته راغلي نتایج سره شریکوي؛
- ښایي د معلوماتو د راټولو لپاره د یو دولت استخباراتي مامورینو عملیات پلان کړي وي چې د مقابل لورې د مامورینو سره په همکا ري او یا د هغو دبشپړې ونډې سره یې په لاره واچوي؛
- ښایي د دو دولتونو د استخباراتي ادارو تر مینځ د تحلیلونو او تخنیکي امکاناتو راکړه ورکړه وشي؛
- یو دولت ښایي د بل دولت مامورینو ته تعلیمي خدمتونه وړاندې کړي او په بدل کې یې د استخباراتي خدمتونو غوښتنه وکړي، دغه ډول همکاري هغه وخت سرته رسول کیږي چې یو بهرنۍ اداره بلې ته مسلکي زدکړې ورکړي.

د استخباراتی معلوماتو د شریکولو اهمیت یواځې دو اړخیزو همکاریو پورې محدوده نه پاتې کیږی، بلکه هغو نن ورځ څواړخیز شکل ته وده کړی ده. له ډیر پخوا وخت څخه د استخباراتی همکاریو جزئیات پټ پاتې دی. د دا ډول همکاریو ښه مثال د امریکا متحده ایالاتو، بریتانیا، آسترالیا، کانادا او نوی زیلاند تر منیځ د همکاریو موافقه ده چې له دوهمې نړیوالې جګړې څخه وروسته د ۱۹۴۷کال د یو نه خپور شوی تړون پر بنسټ ولاړه ده. [16] د څو اړخیزو همکاریو بل مثال د اروپا په دننه کې مینځلای شي، څرنګه چې د اروپا اتحادیې دخپلو غړو د ملی واکمنی له حدودو څخه د یو ګام وړاندې اینښودو او د سیاسی غوښتنو د ښودوو سره د ۲۰۰۴ کال د مارچ په میاشت کې د تروریزم سره د مبارزې لپاره د همغږیو یو مرکز پرانیست.[17] د دغه نوی مرکز له مهمو دندو څخه د تروریزم پر ضد د اروپا د شورا د کار څارنه او همغږی ده. د غه مرکز له لارې د څو اړخیزو استخباراتو د شریکولو تصمیمونه د عمل جامه اغوندی.

اوس په دې برخه کې د سیمې څخه یو ګام وړاندې کیښودل شوو. د امریکا متحده ایالاتو او اروپا د اتحادی ترمینځ د تروریزم پرخلاف د مبارزې لپاره وروستی موافقه د څو اړخیزو استخباراتی معلوماتو د شریکولو ښکاره مثال دئ، دغه موافقه په دې موخه شوی چې د تروریزم د ګواښونو په وړاندې په ګډه په جدی اقداماتو لاس پورې شي. ۲۸ چوکاټ دی وکتل شي.

| |
|---|
| **۲۸ چوکاټ**<br>**د څو اړخیزو معلوماتو شریکول: د اروپا د اتحادیې او امریکا متحده ایالاتو نوی تړون**<br><br>۳،۳ زمونږ د ملی قوانینو له مخې، مونږ به د استخباراتی او د اجرائیی ارګانو د معلوماتو د شریکولو په برخه کې سره په ګډه کار وکړو تر څو د تروریستی فعالیتونو مخه ونیوله شی او هغه خنثی کړو او د حساسو معلوماتو څخه د ښې استفادې لپاره ، څرنګه چې زمونږ ملی قوانین اجازه راکوی، د تروریستان په څارلو کې یو بل سره همکاری وکړو، څرنګه چې استخباراتی معلومات خوندی پاتې شی او د تورنو کسانو محاکمه په عادلانه توګه ډاډ منه شی.<br>سرچینه: دتروریزم پرضد د مبارزې لپاره د امریکا متحده ایالاتو او د اروپا د اتحادیې ترمیځ لاس لیک شوئ تړون، آیرلند، د جون ۲۶، ۲۰۰۴ کال. |

په عموم توګه له بهرنیو ادارو سره همکاری باید د هغو تړونو له مخې وشي چې د ځواب ورکونکو دیموکراتیکو سیاستوالو له خوا، یعنی د اجرائیه قوی له خوا تصویب شوی وی.[19]

دلته د بیلګې په توګه، ځینې حالتونه بیانیږی چې د استخباراتی ادارو د همکاریو پر چالچلند باندې د وزیرانو د څارنې لپاره غوښتنه کوی تر څو د حساب ورکونې په وړاندې ټینګ پاتې شی.

- «ظاهرا د باور وړ انکار»

د باور وړ انکار هغه یو سیاسی فکر دئ چې په ۱۹۵۰ لسیزې کې یې وده وکړه او هغه د قدرت او یو لړ غیر رسمی او ناپلوو قومانده یی مرکزونو جوړول څخه عبارت دئ چې د اړتیا په وخت کې کیدای شي چې تری انکار وشي. دغه فکر د سړې جګړې د ستراتیژیک پلان جوړونې له دورې څخه پاتې دی، څرنګه چې د اجرائیي د قدرت لرونکو غړو له خوا استخباراتی ادارو ته ضد او نقیض هدایتونه ورکول کیږی او د دغو هدایتونو له شته والی او دهغو د ریښتینی سرچینی څخه د اړتیا په وخت کې کیدای شی انکار وشي. د بیلګې په توګه کله چې د استخباراتی ادارو کوم یو عملیات له ناکامی سره مخامخ شي، د حکومت اداره لازمه ګڼی چې په هغو کې له لاس درلودلو څخه انکار وکړی. د دغه سیاسی فکر څخه په هغو حالاتو کې هم کار اخیستل کیږی چې د مثال په توګه حکومت د خپل یو

يرغمل نيول شوی وګړی د خلاصون لپاره پيسی ورکړی. په دغه حالت کی حکومت غواړی چی د ځينو معقولو سياسی دليلونو له امله له تروروستانو سره له مستقيمو خبرواترو څخه مخ اړوی. په عين وخت کی حکومت نه غواړی چی داسی ښکاره کړی چی ګواکی د خپل تبنتول شوی وګړی په وړاندی بی پروا دئ. به دغه حالت کی حکومت استخباراتی اداری ته امر کوی چی له يرغمل نيونکو سره په تماس کی شی. په داسی حالتونو کی مهمه خبره دا ده چی د موضوع د پټ ساتلو د ضرورت او د دولتی مامورينو د ځواب ورکونی د ضرورت تر منيځ انډول رامينځ ته کړای شی.

- له هغو استخباراتی ادارو سره همکاری چی د هغوی چالچلند ښکاره بشری حقوق پښو لاندی کوی:

د عام مخالفت سره سره، استخباراتی اداری ښايی په استثنايی شرايطو کی د ملی امنيت په مقصد د معلوماتو د لاس ته راوړلو په لټه کی شی، پرته له دی چی له اصلی ميتودونو څخه کار واخيستل شی. حال دا چی نړيوال قانون له هغو معلوماتو څخه کار اخيستل منع کړی دی چی د ربړولو له لاری لاس ته راغلی وی. د بيلګی په توګه، په يوه تروريستی او يا د يوه پناه وړونکی د ايستلو په قضيه کی کوم اعترافات چی په يو بل دولت کی د ربړولو په نتيجه کی لاس ته راغلی وی، په محکمه کی اعتبار نه لری. [20] د ملګرو ملتو د ربړولو ضد منشور د ۱۵ مادی له مخی هر هغه بيان چی د ربړونی له لاری لاس ته راغلی وی په هيڅ محاکمه کی د اعتبار وړ نه دئ، پرته د ربړونی د مجرم په دوسيه کی. دغه قانونی ساتنه د جينوا په منشور او نورو معيارونو کی پراخ کړای شوی دی چی وايی: هغه بيانونه چی د بيرحميو، ظلم، زورزياتيو، نه انسانی چالچلندونو، سپکاوی، سزا ورکونی او ربړونی په نتيجه کی لاس ته راځی په محاکمو کی قانونی اعتبار نه لری. [21]

نو په دی وجه سړی داسی استدال ګولای شی چی دغه منع د هغو معلوماتو څخه د کار اخيستو په برخه کی هم د پلی کيدو وړ ده چی د يو دولت له خوا د ربړولو له لاری لاس ته راځی، که څه هم نړيوال قانون په دی برخه کی کومه خاصه رڼايی نه ده اچولی.

له ربړولو يا د هغوپه نتيجه کی لاس ته راوړل شوو موادو حخه کار اخيستل د تروريستانو په وړاندی د يو ديموکراتيک حکومت دريځ کمزوری کوی. د هغو له چالچلندونو څخه کار اخيستلو سره، يوه ديموکراتيکه ټولنه خپل ستر اخلاقی مقام ژوبلوی. [22]

د ربړونی له لاری د لاس ته راوړ شوو معلوماتوڅخه کار اخيستل په خپل ذات کی منع دی. دا کار له بشری حقوقو څخه ښکاره سرغړونه ده. د يادونی وړ ده چی د وزارت د مقام له خوا د استخباراتی ادارو اغيزمن کنترول کولای شی چی ډاډ ورکړی چی دغه ډول« ممنوعيت» په ټولو حالاتو کی مراعات کيږی.

## • د خپلو وګړو پ هکله بهرنيو امنيتی ادارو ته معلومات ورکول

قوانين بايد د هغو کنترولونو د مخ نيوی پرضد چی په کورنی قانون ګی له بهرنيو ادارو سره د همکاری له لاری پلی کيږی، څرګند ساتونکی احکام ولری. د آلمان قانون په دی برخه کی يو شرح لری چی په ۲۹ چوکاټ کی يی کتلی شی.

کله چی له يوی بهرنی يا نړيوالی اداری څخه معلومات لاس ته راغلل، هغه بايد هم د معلومات ورکونکی او هم د اخيستونکی هيواد د قانون او معيار تر څارنی لاندی ونيول شی. همدا راز

بهرنیوامنیتی او استخباراتی ادارو ته دی هغه وخت معلومات ورکړ شي چی هغه اداری په خپلو اړوندو هیوادونو کی هغسی د څارنی قوانین لری لکه چی د معلومات په ورکونکی هیواد کی موجود دی.

**۲۹ چوکاټ**

**بهرنیو امنیتی ادارو ته د خپلو وگړو په هکله معلومات ورکول: د آلمان د استخباراتی قانون مثال**

**۱۹ (۳) ماده**

هغه اداره د خپل هیواد د اتباعو په هکله بهرنیو ادارو او سازمانونو ته هغه وخت کولای شی چی معلومات ورکړی چی د قضیی د څارنی لپاره ړښتیا هم ورته اړتیا ده او یا د معلومات اخیستونکی اداری د هیواد د امنیتی گټو لپاره ضروری وگڼل شی. که چیری دا کار د آلمان د فدرالی دولت د عامو گټو او یا د فردی حقوقو خلاف وی، نو لازمه ده چی معلومات ورکول دی سمدلاسه ودرول شی.
بل چا ته د معلومات ورکولو بهیر دی په یوه عامه دوسیه کی قید شی. معلومات اخیستونکی ته او یا هغه چا ته چی له هغو څخه کار اخلی باید وویل شی چی له دغو معلوماتو څخه یواځی د هغه مقصد لپاره کاز اخلی چی غوښتنه یی شوی ده.
سرچینه: د آلمان د فدرالی دولت د استخباراتی اداری قانون (BVErfSchG)، ۱۹ ماده، نومبر کال ۲۰۰۲

د یادونی وړ ده چی نړیوالی همکاری یواځی دوه اړخیزو یا څو اړخیزو استخباراتی همکاریو پوری نه محدودیږی، بلکه کیدای شی چی دغه ډول همکاری له یوی نړیوالی محکمی سره هم وشی. په دی اړه د پخوانی یوگو سلاویی په هکله نړیوالی جنایی محکمی موضوع ته دی کتنه وشی (۳۰ چوکاټ دی وکتل شی).

**۳۰ چوکاټ**

**د پخوانی یوگوسلاویی په هکله له نړیوالی جنایی محکمی سره د بوزنیا او هرزگووینا د استخباراتی اداری همکاری**

**۶ ماده**

هغه اداره د هغو کسانو په هکله چی په پخوانی یوگوسلاویی کی له ۱۹۹۱ کال څخه وروسته نړیوال بشری حقوق پښنو لاندی کړی، له نړیوالی جنایی محکمی سره همکاری کوی.
سرچینه؛ د امنیتی او استخباراتی اداری قانون، بوزنیا او هرزگووینا، ۶ ماده، ۲۰۰۴

## غوره چالچلند

- نړیوالی همکاری باید د وزیرانو په اجازه سرته ورسیږی او د دی لپاره چی هغه له کورنی قانون او نړیوالو قانونی ژمنو سره سمون ولری، باید د قانون د ساتونکو احکامو سره جوخت وی؛
- ساتونکی احکام باید له قانون سره ضمیمه وی تر څو له استخباراتی معلوماتو څخه گډه استفاده د بشری حقوقو پر معیارونو یا د کورنی معیارونو پر څارنی باندی د معاملی سبب نه شی.

## دیارلسم فصل

# د وزارت د مقام له خوا د ناوړه استفادی مخ نیوئ

په تیرو فصلونو کی وویل شول چی د اجرائیی او د وزیر د مقام له خوا کنترول د استخبارتی او امنیتی ادارو د دیموکراتیکی ځواب ورکونی بنسټیز عنصر ګڼل کیږی. خو دا له دی خطر سره ښایی جوخت وی چی نوموړی اداری د اجرائیی له خوا د ناوړه سیاسی ګټو اخیستو فشار ته سر ټیټ کړی. دغسی پیښی نه یوازی په انتقالی دیموکراسیو بلکه په لویدیځو دیموکراسیو کی هم شوی دی، څرنګه چی وزیرانو له استخباراتی او امنیتی ادارو څخه د خپلو سیاسی او شخصی ګټو لپاره کار اخیستی دی. د بیلګی په توګه هغو ادارو ته هدایت شوی چی د سیاسی مخالفینو تیلفونی اړیکو ته دی غوږ ونیسی او یا له هغو ادارو څخه د خپلو تجارتی ګټو لپاره کار اخیستل شوی دئ. په همدی وجه خورا مهمه ده چی په قانون کی ساتونکی احکام په پام کی ونیول شی تر څو د هغو ادارو ناپلویتوب او مسلکی توب خوندی وساتی. په لاندی بحث کی د ارګانونو له خوا د ساتنی موضوع ته پاملرنه شوی ده (همدراز په ۸ فصل کی دی د هغو ادارو له خوا داخلی لارښوونی او کنترول دی وکتل شی).

د یو دیموکراتیکی اړتیا سره سره، د اجرائیه قوی له خوا د امنیتی برخی کنترول ځینی تاوان پیښونکی پایلی ځان سره لری. لومړی داچی ډیر زیات دا خطر موجود دئ چی د اسرارو په ساتلو کی له زیاتی (افراط) څخه کار واخیستل شی، څرنګه چی حکومت د دولت د مامورینو له خوا لاس ته راوړی معلومات خپل شخصی شتمنی وګڼی. د بیلګی په توګه، ښایی حکومت دامنیتی اداری یا د هغی د چالچلندونو د ځواب ورکونی په هکله، په دی پلمه چی ګواکی دا د ملی امنیت مسایل دی، له معلومات ورکولو څخه ډه ډه وکړی. دوهم ، ښایی داسی فکر هم موجود وی چی له امنیتی ادارو یا د هغو له صلاحیتونو څخه د کورنی سیاست په هکله د معلومات ټولولو په نامه، استفاده وشی( مثلا، د سیاسی مخالفینو په هکله معلومات یا د هغو د بی اعتبارولو لپاره). نو په دی وجه د قانون هغسی ساتونکی احکامو شته والئ چی چاروکی وکړای شی د حکومت د نامعقولو هدایتونو مخه ونیولای شی، حتمی او ضروری دی.

پرته له شک څخه چی د امنیتی سکتور د دیموکراتیک کنترول خوندی ساتلو او د سیاسی انحصار د مخ نیوی تر منیځ یو ډیر حساس انډول شته دئ. مونږ په پنځم فصل کی د استخباراتی ادارو د رئیسانو د صلاحیتونو په هکله د قانون د ساتونکو احکامو پر ضرورت باندی خبری وکړی چی هغه عبارت دی له : له هغو ادارو څخه د اجراآتو دغوښتلو لپاره د قانون د حدودو ټاکل او د ناوړه استفادو د بربنډولو لپاره د یو خپلواک میکانیزم جوړول.کیدای شی چی د امنیتی ادارو کارکونکی د نامعقول سیاسی انحصار له امله اندیښنه ولری، هغوی باید هغه لارښوونی په اختیار کی ولری چی د هغو له مخی له ادارو څخه بهر خپلی اندیښنی عنوان کړای شی. په دی اړه د شکایت کونی لپاره باید لارښوونی موجودی وی ( دوهمه برخه، اتم فصل، د غیر قانونی چالچلندونو په هکله رپوټ دی وکتل شی).

## قانونی ساتنی

پر امنیتی او استخباراتی ادارو واکمن قانون باید د سیاسی تګلاری په هکله څرګندی او روښانه لارښوونی ولری او د کورنیو ادارو په مسأله کی هغوی باید له سیاسی خپلواکی څخه برخه من وی ترڅو دا امر خوندی وساتل شی چی د پالیسی موضوعات د مسؤلو سیاستوالو له خوا ټاکل کیږی. همدا راز د اجرائیه قوی حقوق باید انډول ولری ترڅو له استخباراتی ادارو څخه د اجرائیه قوی د ناوړه استفادی

مخه ونيوله شی. په دی موخه کيدای شی چی له بيلابيلو قانونی ساتونکو احکامو څخه استفاده وشی. په کانادا، هنګری او آستراليا کی غوښتنه دا ده چی د وزيرانو هدايتونه بايد په ليکل شوی شکل وی (د هنګری مثال دی په ۳۱ چوکاټ کی وکتل شی).

## ۳۱ چوکاټ:

## په هنګری کی د ملی امنيت د اداری کنترول او اداره:

**۱۱ برخه**

۱ (ب) وزير د هر کال په نيمايی کی د امنيتی ادارو د رئيسانو په نامه د هغو ادارو د مهمو دندو د ترسره کولو لپاره په ليکل شوی توګه هدايت ورکوی؛ وزير دمعلوماتو د مقرراتو په هکله چی د حکومت د غړو له خوا لاس ته راغلی دی، د يوی غوښتنی د دايرولو لپاره په ليکل شوی توګه هدايت ورکوی.

سرچينه: د ملی امنيت د خدماتو قانون، ۱۹۹۵و هنګری، ۱۱ برخه

د وزارت د مقام هدايات کيدای شی چی د هغو ادارو څخه بهر هم خپور شی. د بيلګی په توګه، د کانادا قانون وايی چی دعامی خپرونی څخه مخکی بايد دغه هدايات د څيړنی يو ارګان ته وړاندی شی.[23] او د آستراليا قانون وايی چی لازمه ده چی د وزير هدايت له ورکول کيدو څخه مخکی ترکومه ځايه چی امکان لری ډير ژر د پلټنی عمومی رئيس ته دی وړاندی شی ( ۳۲ چوکاټ دی وکتل شی).

## ۳۲ چوکاټ:

## د امنيتی او استخباراتی اداری په اړه د وزير دندی ( آستراليا)

**وزير دپلټنی عمومی رئيس ته هدايت او لارښونه کوی:**

۱ـ دغه برخه د هر هغه هدايت او لارښوونی چی د وزير له خوا د آستراليا د مخفی استخباراتی اداری ASIA او د دفاعی زيګنالونو رياست DSDته کوی، د تطبيق وړ ده.

۲ـ د هدايت او لارښوونی له ورکونی څخه وروسته څومره چی ژرامکان ولری وزيردخپلو لارښوونی يوه نسخه د پلټنی د عمومی رئيس په اختيار کی پريږدی.

۳ـ څومره چی ژر امکان ولری د لارښوونی ورکونی څخه يوه ورځ وروسته، وزير د خپلو لارښوونو يو نسخه چی د نوموړی ورځی څخه مخکی ورکړ شوئ دی او لا تر اوسه د عمل په ډګر کی دئ، بايد د پلټنی د عمومی رئيس په اختبار کی پريږدی.

سرچينه: د آستراليا د پلټنی د رياست امنيتی او استخباراتی قانون، ۱۹۸۶، ۳۲۸ برخه

د کنترول او انډول په يو لوی چوکاټ کی د آستراليا استخباراتی قانون ځينی نور ساتونکی احکام هم ټاکلی دی، څرنګه چی د استخباراتی اداری رئيس دنده لری چی د حکومت د مخالفو ګوندونو سياسی مشرانو ته رپوټ ورکړی.[24] د يادونی وړ ده چی دغه مسأله د يو غير رسمی امر په توګه د وزيرانو د ناوړه استفادی د مخ نيوی لپاره په نورو ملی قوانينو کی هم په پام کی نيول شوی ده. که چيری په پارلمان کی د مخالفو ګوندونو مشران احساس ونه کړی چی د استخباراتی محرمی حلقی څخه په بشپړه توګه ايستل دی، په امنيتی چارو کی دی دوه اړخيزه چالچلند تعقيب شی. آستراليا يو مثال دئ چی د پارلمانی ديموکراسی پر بنسټ عمل کوی، که څه هم نظام يی فدرالی دئ. په يو کړکيچن فدرالی رياستی نظام کی څو مختلف لوبغاړی ګډون لری چی بايد هغو ته هم د «دخبرتيا» لپاره رپوټ ورکړای شی.[25] د بوزنيا او هرزګووينا او د بريتانيا د هيوادونو دغه لاندی مثالونه چی د استخباراتی او امنيتی ادارو نورساتونکی احکام بيانوی، په دی موضوع باندی د پوهيدو لپاره په زړه پوری دی. د دغو

احکامو سره نوموړی اداری باید خپل ناپلویتوب تر سوال لاندی را نه وړی او یا د هیواد په دننه کی د سیاسی جریانونو اعتبار ته باید تاوان ونه رسوی ( ۳۳ او ۳۴ چوکاټونه دی وکتل شی).

**۳۳ چوکاټ:**

## د امنیتی او استخباراتی ادارو د ناپلویتوب لپاره اقدامات

**الف ـ د بوزنیا د قانون مثال:**

**۳۰ ماده**

د هغو ادارو کار کونکی باید د سیاسی ګوندونو غړی نه وی، هغوی باید له سیاسی ګوندونو څخه هدایت وانخلی ، همداراز هغوی باید په ګټه لرونکو کارونو یا مشغولیتونو کی چی د اداری په دننه کی د هغوی له کار سره سمون نه لری، لاس پوری نه کړی.

**۵۶ ماده**

۱ ـ هغه اداره باید سیاسی نه وی، او هغه باید د هیڅ سیاسی ګوند، سیاسی سازمان یا رأی ورکونکو د ګټو د پرمختګ، ساتنی یا له مینځه وړلو لامل ونه ګرځی.

۲ ـ هغه اداره حق نه لری هغه اعتصابونه، د هغو پلویان، مخالفین یا نور داسی چی د قانون سره سم جوړ شوی او عمل کوی، باید تر پوښتنی لاندی ونه نیسی.

سرچینه: د استخباراتی او امینتی اداری په هکله قانون، بوزنیا او هرزګووینا، ۲۰۰۴

**ب ـ د بریتانیا د قانون مثال:**

دوهمه برخه د اداری رئیس

۲ ـ (۱) د هغی اداری عملیات د رئیس تر کنترول لاندی دی چی د بهرنیو چارو د وزیر له خوا ټاکل کیږی. (۲) رئیس د هغی اداری د ټولو چارو مسؤل دئ او دا د هغه دنده ده چی دغه لاندی مسائلو ته پاملرنه وکړی:

هغه اداره د هیڅ ډول معلوماتو په لټه کی نه کیږی مګر دا چی د هغی د ماموریت لپاره ضروری وګڼل شی یا هغه اداره هیڅ ډول معلومات نه بربنډوی مګر دا چی د یو ټاکلی مقصد یا د یوجنایی سخت جرم د مخ نیوی او بربنډولو لپاره او یا د جنایی دوسیو لپاره ضروری وی.

(ب) هغه اداره د یو ګوند د ګټو د خوندی ساتلو لپاره په هیڅ اقدام لاس نه پوری کوی.

سرچینه: د امنیتی اداری قانون، بریتانیا ۱۹۸۹، دوهمه برخه

د قانون د ساتونکو دریم ډول، څرنګه چی مخکی بیان شول، په اصطلاح «دروازه پرانیستی» پالیسی ده چی د هغی له مخی د هغی اداری رئیس له صدراعظم یا جمهور رئیس سره اړیکه لری. په بریتانیا کی، د بیلګی په توګه، د امنیتی ادارو، پټو استخباراتی ادارو او د مخابراتی اړیکو رئیسان، که څه هم د کورنیو چارو او بهرنیو چارو د وزیرانو په وړاندی مسؤل دی، حق لری چی له صدراعظم سره اړیکه ونیسی.[26]

**۳۴ چوکاټ**

## له صدراعظم سره د استخباراتی اداری د رئیس د اړیکو درلودلوحق (بربتانیا)

د استخباراتی اداری رئیس هر کال د هغی اداری د کار او اجراآتو په هکله صدراعظم او د بهرنیو چارو وزیر ته ریوټ وړاندی کوی او د هغو څخه یو تن او یا دواړو ته هر کله چی وغواړی د هغی اداری د چارو په هکله ریوت وړاندی کوی.

سرچینه: دوهمه برخه (۴)، د ۱۹۹۴ کال استخباراتی قانون سند، بریتانیا

## غوره چالچلند

- استخباراتی قانون باید د وزیرانو له خوا د ناوړه استفادو د مخ نیوی او د هغو ادارو د سیاسی کولو پرضد ساتونکی احکام ولری. په دی لاره کی د قانون بیلابیل ساتونکی احکام کیدای شی چی په پام کی ونیول شی. د بیلگی په توگه، د وزیر ټول هدایتونه په لیکل شوی توگه وړاندی شی او یا هغه له اجرائیی څخه بهر یو پلټونکی ارگان ته د څیړینی لپاره وسپارل شی. بل دا چی په پارلمان کی مخالفو گوندنو ته د استخباراتو د چالچلندونو په هکله معلومات ورکړی؛
- استخباراتی اداری باید د یوه سیاسی گوند په گټه کار ونه کړی؛
- استخباراتی اداری باید اعتصابونه، د حکومت پلویان یا مخالفین چی د یو دیموکراتیک جریان غړی دی او د قانون سره سم جوړ شوی او عمل کوی تر پوښتنی لاندی ونه نیسی.

# د دریمی برخی لمن لیکونه ـ د اجرائیی نقش

1. د کانادا د استخباراتی اداری د قانون سند
Intelligence Service Act, Canada, R.S. 1985
2. د هالند د ۲۰۰۲ کال د استخباراتی او امنیتی اداری د قانون سند، ۲ ماده
Intelligence and Security Services Act 2002, Netherlands, Art. 2

3. د امنیتی او استخباراتی اداری د ۲۰۰۴ کال قانون، بوزنیا او هرزگووینا، ۸ او ۹ ماده
Law on the Intelligence and Security Agency 2004, Bosnia and Herzegovina, Art. 8 and 9
4. د امنیتی او استخباراتی اداری د ۲۰۰۴ کال قانون، بوزنیا او هرزگووینا، ۱۰ماده
Law on the Intelligence and Security Agency 2004, Bosnia and Herzegovina, Art. 10
5. د امنیتی او استخباراتی اداری د ۲۰۰۴ کال قانون، بوزنیا او هرزگووینا، ۲۷ ماده
Law on the Intelligence and Security Agency 2004, Bosnia and Herzegovina, Art. 27.
6. د کانادا د استخباراتی امنیتی اداری د قانون سند، ۱۹۸۴، ۱۳ پانه
Canadian Security Intelligence Service Act 1984, s. 13.
7. د آسترالیا قانون د هغه هیواد د پټو او امنیتی ادارو له مسؤلو وزیرانو او د دفاعی زیگنالونو د اداری له مسؤل وزیر څخه غواړی چی د هغو ادارو د رئیسانو په نامه چی د آسترالیایی وگړو په هکله معلومات ټولوی لیکل شوی هدایات صادر کړی: د ۲۰۰۱ کال د استخباراتی اداری د قانون سند، ۸(۱) پانه
Australian legislation requires the ministers responsible for ASIS [Australian Secret and Intelligence Services], and the responsible Minister in relation to DSD [Defence Signals Directorate, the Department of Defence], to issue written instructions to the agency heads dealing with situations in which the agencies produce intelligence on Australians: the Intelligence Services Act 2001, s. 8(1).

8. د امریکی د متحده ایالاتو د اجرائیه قوه باید د جمهوری ریاست له خوا کنترول شی: « پرته له CIA څخه ( یا د امریکی د متحده ایالاتو د کانگرس له خوا د اعلان شوی جنگ په وخت کی د هغه هیواد وسلوال ځواکونه یا د هغی یوی دوری چی کانگرس ته د جمهور رئیس له خوا د جگړی د صلاحیتونو د پریکړی له مخی د یو رپوټ وړاندی کونی سره قانونیت لری [87Stat.855]) بل هیڅ اداره حق نه لری چی په کومو خاصو عملیاتو لاس پوری کړی، یواځی جمهور رئیس کولای شی چی پرته له نوموړو ادارو څخه بله کومه یوه اداره د خاصو عملیاتو لپاره وگماری.
The US Executive order asserts a measure of Presidential control: ‘No agency except the CIA (or the Armed Forces of the United States in time of war declared by Congress or during any period covered by a report from the President to the Congress under the War Powers Resolution [87 Stat. 855]) may conduct any special activity unless the President determines that another agency is more likely to achieve a particular objective.’
9. د نړیوالو بشری حقوقو د مفاهیمو د لارښوونی کتاب

Condė, H. V., A Handbook of International Human Rights Terminology, (Lincoln, NE: University of Nebraska Press, 2004), p. 111.

10. د ملګرو ملتو دعمومی مجمع پریکړی او سندونه......

UN GA Res. 2200 A (XXI), 21 UN GAOR Supp. (no 16.) at 52, UN Doc. A /6316 (1966), entered into force 23 March 1976.

11. مجمع عمومی ملل متحد UN GA RS 39/46, 39 GAOR Supp. (no 51) at197, UN Doc. A/39/51 (1985), entered into force 26 June 1987.

12. د بشری حقوقو لپاره د ملګرو ملتو عالی کمیساری، د بشری حقوقو د نړیوالو ژمنو د اصولو تصویب په دغی انترنتی پاڼه کی میندلای شی:

Office of the United Nations High Commissioner for Human Rights, Status of Ratification of the Principal International Human Rights Treaties (as of 09.06.2004), available online at: <http://www.unhchr.ch/pdf/report.pdf<

13. آیرلند، بریتانیا، قضاوت، د بشری حقوقو اروپایی محکمه، ۹۶ پاڼه، دغه لاندی انترنتی پاڼه:

Ireland v. United Kingdom, Judgement, European Court of Human Rights, p. 96, available at: <http://hudoc.echr.coe.int/Hudoc1doc/HEJUD/sift/91.txt.<

14. دغه د وزیرانو له خوا ټاکل مقررات شوی چاپ شوی او په انترنتی پاڼه کی موجود دی:

These rules made by the ministers have been published and are available online at

> http://www.asis.gov.au/rules_to_privacy.html.<

15. یادونه، د نمونی په توګه، د بلغاریا د اساسی قانون ۸۵ ماده: هغه موافقی چی پوځی یا سیاسی خصوصیات ولری باید د پارلمان له خوا تصویب شی.

Note, for example, Art.85 of the Constitution of Bulgaria which requires parliamentary approval for treaties with military or political implications.

16. دغه لیکنی دی وکتلی شی ....

See Richelson, J., Ball, D., The Ties That Bind, (London: Allen & Unwin, .(1990

17. د تروریزم پر ضد د مبارزی په هکله د اروپا د شورا اعلامیه

EU Council Declaration on Combating Terrorism, Brussels, 25 March 2004, p. 13. Available online at: <http://www.delrus.cec.eu.int/en/news_561.htm<

18. د تروریزم پرضد د مبارزی په هکله د متحده ایالاتو او د اروپا د اتحادیی ګډه اعلامیه

US-EU Declaration on Combating Terrorism, Signed in Shannon, Ireland in June2004, available online at:
<http://www.whitehouse.gov/news/releases/2004/06/20040626-5.html<

19. د بیلګ په توګه د بوزنیا او هرزګووینا قانون دی وکتل شی، ۶۴ ماده حکم کوی: مخکی له دی چی د هغه هیواد استخباراتی اداره د بل هیواد له امنیتی او استخباراتی ادارو سره کومه معامله پیل کړی ، باید اجرائیه قوه د هغی پریکړه وکړی ( سر بیره پردی مخکی له دی چی د یو بهرنی دولت له یو ارګان، نړیوالو سازمانونو، یا کوم بل بهرنی بنسټ سره معامله کیږی، د بهرنیو چارو له وزیر سره باید مشوره وشی). اجرائیه دنده لری چی استخباراتی کمیتی ته له ټولو دا ډول موافقو څخه خبرتیا ورکړی.

See for example Bosnia and Herzegovina law, Article 64 which requires approval from the Chair, before the Agency enters into an arrangement with intelligence and security services of other countries. (Additionally, the Minister for Foreign Affairs must be consulted before an arrangement is entered with an Institution of a foreign State, an international organisation of states or an

institution thereof). The Chair is obliged to inform the Intelligence Committee of all such arrangements.

20. د ملکی او سیاسی نړیوالو حقوقو په هکله دی  د بشری حقوقو د کمیتی تفسیر وکتل شی:
See: the Human Rights Committee interpretation of the International Covenant on Civil and Political Rights: ICCPR General comment 20, para. 12, 10 March 1992, supra, note 188; Guideline 16 of the UN Guidelines on the Role of Prosecutors (Adopted by the Eighth United Nations Congress on the Prevention of Crime and the Treatment of Offenders, Havana, Cuba, September 1990).
21. د جینوا د منشورپه ۹۹ ماده کی داسی راغلی دی: دجګړی هیڅ یرغمل باید له جسمی او روحی لحاظه تر فشار لاندی ونه نیول شی چی په هغه جرم کی چی دی پری تورن دئ اعتراف وکړی.د جینوا د څلورم منشور ۳۱ ماده: تر ساتنی لاندی خلک باید فشار لاندی ونه نیول شی تر څو له هغو او د هغو له لاری له دریم اړخ څخه معلومات لاس ته راوړل شی؛
له ربړونی، بیرحمیو، غیر انسانی چالچلندونو، سپکاوی او داسی نورو سزاګانو څخه د خلکو د ساتنی لپاره دی ۱۲ ماده وکتله شی؛
د نړیوالی جنایی محکمی په هکله د روم د پریکړی ۶۹ (۷) ماده؛ ۲۷ اصل، په توقیف یا بندیخانی کی د خلکو د ساتنی لپاره د ملګرو ملتو د اصولو ارګان
Article 99 of the Third Geneva Convention stipulates: ‘No moral or physical coercion may be exerted on a prisoner of war in order to induce him to admit himself guilty of the act of which he is accused’. Article 31 of the Fourth Geneva Convention: ‘No physical or moral coercion shall be exercised against protected persons, in particular to obtain information from them or from third parties.’
See also Article 12, Declaration on the Protection of All Persons from Being Subjected to Torture and Other Cruel, Inhuman or Degrading Treatment or Punishment; Article 69(7) of the Rome Statute of the International Criminal Court; Principle 27, UN Body of Principles for the Protection of All Persons under Any Form of Detention or Imprisonment.
22.
Lord Justice Neuberger (dissenting) in A and others v Secretary of State for the Home Department, Court of Appeal (Civil Division), [2004] EWCA Civ 1123.
23. د بیلګی په توګه ودی کتل شی : د کانادا د ۱۹۸۴ کال د امنیتی او استخباراتی خدمتونو قانون، ۶(۲) پانه، دغه احکام وایی: د کانادا د امنیتی او استخباراتی ادارو په نامه د وزیر لیکل شوی هدایت د استخباراتی امنیتی چارو د څیړنی کمیتی ته دی وسپارل شی. په آسترالیا کی د استخباراتی خدماتو د ۲۰۰۱ کال د قانون د ۸ (۲)برخی له مخی د آسترالیا د پټو او استخباراتی خدماتو مسؤل وزیران، د دفاعی زیګنالونو د اداری مسؤل وزیر او دفاع اداره صلاحیت لری چی لیکل شوی هدایتونه صادر کړی او د هغو ادارو د رئیسانو له خوا د عمل په ډګر کی پلی کړای شی.
See, for instance: CSIS Act 1984, s. 6(2), requiring written instruction issued by the Minister to the Director of CSIS to be given to the Security Intelligence Review Committee. In Australia under the Intelligence Services Act 2001, section 8(2), the ministers responsible for ASIS (Australian Secret and Intelligence Services), and the responsible Minister in relation to DSD (Defence Signals Directorate, the Department of Defence), may give written instructions which must be observed by the agency heads.

24. د استخباراتی خدماتو د قانون سند، آسترالیا ۲۰۰۱، ۱۹ برخه
Intelligence Services Act, Australia 2001, Section 19.

25. د بوزنیا او هرزگووینا مثال د هغه هیواد د نوی قانون له ۶ مادی څخه وگوری:
» د دغه قانون له مخی د خپلو دندو د ترسره کولو لپاره، هغه اداره دغه لاندی چارواکی او ارگانونه د استخباراتی موضوعاتو څخه خبروی، هم په خپل نوښت او یا د هغو چارواکو او ارگانونو په غوښتنه د بوزنیا او هرزگووینا جمهور رئیس ( دله ایز جمهوری ریاست)، د وزیرانو د شورا رئیس، د بهرنیو چار وزیر،د امنیت وزیر، د دفاع وزیر، جمهور رئیسان، د فیدراسیون او د سرپسکا دجمهوریت د جمهور رئیس مرستیالان او صدراعظمان، د فیدراسیون او د سرپسکا د کورنیو چارو وزیران، د بوزنیا او هرزگووینا د پارلمانی اسامبلی د استازو د مجلس رئیس او د هغه مرستیالان، د فیدراسیون د مجلس د استازو رئیس او د هغه مرستیالان، د خلکو د مجلس د فیدراسیون رئیس او مرستیالان او همداراز د بوزنیا او هرزگووینا د پارلمانی اسامبلی استخباراتی کمیته.

Note the example of Bosnia and Herzegovina from Article 6 of the new legislation:
'As necessary to fulfil its duties under this Law, the Agency shall keep the following officials and bodies informed of intelligence matters in a timely manner, both upon its own initiative and upon the request of the latter: the Presidency of Bosnia and Herzegovina (collectively) (hereinafter: the Presidency), the Chair of the Council of Ministers, the Minister of Foreign Affairs, the Minister of Security, Minister of Defence, the Presidents, Vice-Presidents and Prime Ministers of the Federation and Republika Srpska, the Ministers of Interior of the Federation and Republika Srpska, the Chair and Deputy Chairs of the House of Representatives of the Parliamentary Assembly of Bosnia and Herzegovina, the Chair and Deputy Chairs of the House of Peoples of the Parliamentary Assembly of Bosnia and Herzegovina, the Speaker and Deputy Speakers of the Republika Srpska National Assembly, and the Chair and Deputy Chairs of the Federation House of Representatives, the Chair and Deputy Chairs of the Federation House of Peoples, as well as the Security-Intelligence Committee of the Parliamentary Assembly of Bosnia and Herzegovina (hereinafter: Security-Intelligence Committee).

26.د ۱۹۸۹ کال د امینی خدماتو د قانون سند، ۲ (۴) پانه، د ۱۹۹۴ کال د استخباراتی خدماتو قانون، ۲ (۴) او ۴ (۴) پانه.
Security Service Act 1989, s. 2(4); Intelligence Service Act 1994, s. 2(4), 4(4).

# څلورمه برخه

# د پارلمان نقش

## څوارلسم فصل

# په کومو حالتونو کی پارلمانی څارنی ته اړتیا ده

د امنیتی سکتور څارنه یوائی د حکومت په انحصار کی پاتی کیدای نه شی، چی په دی صورت کی ناوړه استفاده هرمرو ده. ډیری وخت پارلمان د قانون جوړونی د دندی تر څنګ د حکومت فعالیتونو ته هم کتنه کوی.

د دیموکراسی په نظام کی د حکومت دفعالیتونو هیڅ برخه ( د امنیتی او استخباراتی سکتور په ګډون) د پارلمان پر مخ تړلی پاتی کیدای نه شی. د پارلمان کتنه او پاملرنه په حقیقت کی د دولت یو بنسټ ته قانونیت ورکوی او هغه په دیموکراتیکه توګه ځواب ورکونی ته اړوی. پارلمان په دی برخه کی مرسته کوی چی امنیتی او استخباراتی سازمانونه د دولت په خدمت کی وی او له اساسی قانون څخه ساتنه وکړی، نه دا چی هغه د یوی خاصی ډلی یا ګوند د ګټو په خدمت کی وی. مناسبه څارنه له سیاسی لحاظه د امنیت لپاره یوه خوندی دوه کرښی لرونکی لاره پرانیځی. د یوی داسی لاری پرانیستو سره نه یوائی دولت ته ګټه رسیږی بلکه خپله هغو ادراو ته هم. د پارلمانی غړو مداخله کولای شی چی سړی ډاډه شی چی آیا په امینتی او استخباراتی چارو کی د خلکو له پیسو څخه معقول او سمه استفاده کیږی.

خو بیاهم پارلمانی څارنی سره ځینی خطرات جوخت دی. هغه دا چی، کیدای شی چی امنیتی سکتور په ګوندی سیاسی شخړو کی ګیر پاتی شی، کیدای شی چی د پارلمانی غړو له یو بی ځایه اقدام سره د عامو خلکو تر مینځ د امنیتی او استخباراتی ادارو په خلاف احساسات راوپاریږی او د ناحقو تورونو او توطئو لامل وګرځی. په پای کی کیدای شی چی خلک او مطبوعات له وضعی څخه یوه غلطه انګیرنه وکړی او ښایی په پارلمانی غړو باندی د استخباراتی او امنیتی ادارو د کارکونکو د ناوړه اعتماد سبب شی. د حساسو معلوماتو د پرانیستلو یا هغو ته لاره میندلو لپاره هلی ځلی چی د قانون جوړونکي هغو ته د لاس رسیدنی امتیاز لری، د پوځی او امنیتی عملیاتو اغیزمنتوب ته تاوان رسوی.

په اغیزمنه توګه د امنیت څارنه د سیاست والو لپاره یو رنځ ورکونکی او ګران کار دئ، ځکه ډیری امنیتی عملیات په پټه توګه سرته رسول کیږی. حساسی پارلمانی څیړنی په حقیقت کی پارلمان ته د شواهدو او اسنادو د وړاندی کولو لپاره د یوی ډاډمنی فضا غوښتنه کوی. د ضروری اسرارو ساتنه ښایی د پارلمان داستخباراتی کمیتو دغړو او د نورو تر مینځ لانجی پیدا کړی. هغه کسان چی اسرارو ته لاس لاری یا په اصطلاح د محرمی حلقی غړی دی د پارلمان د نورو غړو چی اسرارو ته لاس نه لری حسادت راوپاروی. په همدی وجه خورا مهمه ده چی د اسرارو محرمی حلقی ته هغه کسان وټاکل شی چی د پارلمان د ټولو غړو له اعتماد څخه برخه من وی.

په دیموکراتیکو ټولنو ګی د پارلمان له خوا د امنیتی او استخباراتی اداری څارنه یوه منل شوی پدیده ده. ۳۵ چوکاټ د امریکا، اروپا او افریقا په وچو کی په ۷ هیوادونو کی پراستخباراتی او امنیتی برخو باندی د پارلمانی څارنی صلاحیتونه او جوړښتونه څرګندوی. د دغه چوکات ډیری مسایل په راتلونکو فصلونو کی تر بحث لاندی نیول شوی دی.

**۳۵ چوکاټ:**

## په ځینو هیوادونوکی د بهرنیو او پارلمانی څارنو پرتله کول

| ۱- هیواد | ۲ - د څارنی د ارګان اختیارات | ۳- دڅارنی د ارګان د بودجه یی کنترول صلاحیتونه | ۴ - د څارنی د ارګان دول، غړیتوب، تصفیه، د څارنی د ارګان ټاکل | ۵ - د احضار صلاحیتونه | ٦ - د مخکی له مخی خبرتیا غوښتنه |
|---|---|---|---|---|---|
| الف - ارجنتاین | د وګړو د شکایتونو په ګډون د هغو ادارو د قانونیت او اغیزمنتوب څیړنه | ژوره څیړنه او د صلاحیتونو اجازه | د پارلمان څارونکی ارګان د پارلمان ۱۴ غړو څخه ټاکل کیږی. د هغو په هکله امنیتی پلټنه نه شته. | نه لری | په قانون کی تنظیم شوی نه دی |
| ب - کانادا | د کانادا د امنیتی او استخباراتی څیرونو کمیته د هغو ادارو په اغیزمنتوب او قانونیت باندی غور کوی. | د کانادا د امنیتی او استخباراتی څیرونو کمیته رسمی صلاحیتونه نه لری، یواځی د کانادا د استخباراتی او امنیتی ادارو په بودجه باندی تبصره کولای شی. | د بهرنیو خپلواکوکارپوهانو د څارنی د ارګان له ۵ غړو څخه جوړ شوئ او د صدراعظم له خوا ټاکل کیږی. دغو غړو د خپل دندی لپاره لوړه کړی ده. | هو ، لری | مخکی له مخکی خبرتیا لازمه ده. |
| ج - ناروی | د څارنی ارګان تر زیاتی کچی د هغو ادارو په قانونیت او همداراز د بشری حقوقو په ساتنی باندی غور کوی. | د بودجی د څارنی دنده په غاړه نه لری. | د بهرنی کارپوه دپارلمانی څارنی ارګان؛ له ۷ غړو څخه ( غیر پارلمانی غړی) جوړ شوی، خو د پارلمان له خوا ټاکل کیږی. | هو، لری. ټول هغه کسان چی د کمیتی په وړاندی احضار کیږی، باید د هغی سره سم عمل وکړی. | استخباراتی اداری اجازه نه لری چی د راتلونکو عملیاتو په هکله له کمیتی سره مشوره وکړی. |
| دال - پولند | د استخباراتی او امنیتی ادارو څارنه، قانونیت، پالیسی او نړیوالی همکاری. اغیزمنتوب تر پلټنی لاندی نه دی نیول شوی. | کمیسیون د هغو ادارو د بودجی مسوده او اجراآت تر غور لاندی نیسی. | پارلمانی څارونکی ارګان، د پارلمان ۹ غړی د پارلمان له خوا ټاکل کیږی. هغوی باید د یوی امنیتی پلټنی له نظره تیر شی. | وجود نه لری. | کوم قانونی مکلفیت وجود نه لری. |
| هـ - جنوبی افریقای | د هغه د څارنی صلاحیتونه له قانون، فعالیتونو د هغی اداری د مالی چارو او د لګښتونو د تنظیمولو څخه عبارت دی. | دغه کمیته د استخباراتی خدماتو بودجه نه څاری، خو د هغی د صلاحیتونو په حدودو کی د هغو ادارو مالی منجمنت هم شامل دی. | پارلمانی څارونکی ارګان، دغه کمیته د پارلمان له ۱۵ غړو څخه جوړه شوی او د جمهور رئیس له خوا ټاکل کیږی. دغه غړی د یو امنیتی پلټنی له نظره تیریږی. | هو، وجود لری. | کوم قانونی مکلفیت وجود نه لری. |
| و - بریتانیا | د **M16,M15** او**GCHQ** پر مالی، اداری ، پالیسی او د هغو پر اغیزمنتوب باندی کتنه. دغه ارګان د قانونیت پلټنه نه کوی. | دغه کمیته د عامه محاسبی د کمیتی له رئیس سره یو ځای مالی مسایل تر غور لاندی نیسی او رسمی صلاحیتونه نه لری. | پارلمانی څارونکی ارګان ۹ غړی لری چی د صدراعظم له خوا ټاکل کیږی. | وجود نه لری | کوم قانونی مکلفیت وجود نه لری. |
| ز - متحده ایالات | د ټولو استخباراتی ادارو ارزونه او څیرنه. د لوړپوړو چارواکو د ټاکلو تصویب. د هغو ادارو قانونیت او اغیزمنتوب پلټل کیږی. | د څارنی دواړه کمیتی له بودجه یی صلاحیتونو څخه برخه منی دی. | د کانګرس دوه څارونکی کمیتی د استازو د مجلس (اولسی جرګی) له ۲۰ اود سنا د مجلس (مشرانو د جرګی) له ۱۷ غړو څخه د استازو د مجلس او د سنا د مشرانو له خوا ټاکل کیږی. | هو، په دواړو کمیتو کی | هو، پرته له استثنایی بیړنیوحالتونو کی چی هغه اداری کولای شی تر دوو ورځو پوری رپوټ ورکونه وځنډوی. |

۳۵ ام چوکاټ په دغو ۷ دیموکراسیو کې د مسایلو اوسنی حالت ښیي. د یادونې وړ ده چې پر استخباراتی او امنیتی ادارو پارلمانی څارنه یوه نوې پدیده ده، حتی په ټینګو او ثبات لرونکو دیموکراسیو کې.[1] د ۱۹۷۰ لسیزې په نیمایی کې په لیبرال دیموکراسیو کې د استخباراتی او امنیتی ادارو د سرغړونو او قانونی ضد چالچلندونو بربنډول پیل شول، دا کار د دې لامل وګرځید چې په ټوله نړۍ کې د پارلمانی څارنې په نوښت لاس پورې شی.[2] له هغې وروسته امریکا متحده ایالاتو ، آسترالیا او کانادا په ۱۹۷۹ او ۱۹۸۴ کلونو کې د پارلمانی څارنې لپاره قوانین وټاکل.[3] د انګلو- ساکسن په نړۍ کې (که څه هم په خپلې بریتانیا کې دا اصلاحات تر ۱۹۸۹ کلونو پورې هم پیل شوی نه ؤ) له پیل سره په اروپا کې په ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ لسیزه کې په امنیتی او استخباراتی ادارو کې د اصلاحاتو څپه په خوځیدو راغله. څرنګه چې په دنمارک په ۱۹۸۸، په اطریش کې په ۱۹۹۱، په رومانیا کې په ۱۹۹۳ ، یونان کې په ۱۹۹۴، په ناروې کې په ۱۹۹۶، په ایتالیا کې په ۱۹۹۷ کې دغه اصلاحات په لاره واچول شول.[4] د اروپا شورا او د لویدیځې اروپا اتحادیې له دغو بدلونونو څخه ملاتړ وکړ.[5] خو له اروپا څخه بهر دغه پرمختګ ډیر کمزوری ؤ، که څه هم ځینی استثناوې شته دی، د بیلګې په توګه په ارجنتاین او جنوبی افریقا کې.

## پنځلسم فصل

# د پارلمانی څارنی
# د ارګانونو واک او اختيار

نړيوال نورم دا دی چی پارلمان د ټولو امنيتی او استخباراتی ادارو لپاره يو څارونکی ارګان جوړوی. دغی ډول څارنی ته «د څارنی وظيفوی لاره» وايی. حال دا چی يو بل ډول څارنه هم شته چی ورته «دڅارنی سازمانی لاره» وايی. دا هغه يوه طريقه ده چی د يوی خاصی اداری لپاره د څارنی څو ارګانونه ګمارل شوی وی. وظيفوی لاره د څارنی لپاره ډيری آسانتياوی برابروی، ځکه د دغی طريقی له مخی د استخباراتی برخی بيلابيلی برخی له نژدی يو بل سره کار کوی. که چيری د څارنی يو ارګان د «سازمانی لاری» په بنسټ جوړ شوی وی، دا خطر موجود دئ چی د پلټنی بهيرله خنډونو سره مخامخ شی، په خاصه توګه کله چی مسأله په هغو معلوماتو باندی وی چی د قانون له حدودو څخه بهر د يوی اداری له خوا ميندل شوی وی او يا لاس ته راوړل شوی وی.

خو په دغی طريقی څخه ځينی استثناوی هم موجود دی. د امريکا متحده ايالاتو د استازو او د سنا په جرګو کی د استخباراتی او امنيتی څارنی لپاره ځانګړی کميتی موجودی دی، هر يو خپل ځانګړی قانونی صلاحيتونه لری. په بريتانيا کی د استخباراتی او امنيتی کميتی قانونی حدود يواځی د استخباراتی ارګانونو د يوی برخی لپاره دی ( د دفاعی استخباراتی غړی، د استخباراتو ګډه کميته او ملی جنايی استخباراتی خدمات د قانون په دی حدودو کی شامل نه دی) خو په عمل کی او د حکومت په همکاری، امنيتی او استخباراتی کميته د هغو د کارونو پلټنه کوی.

په عمومی توګه دوه لاری شته دی چی په قانون کی پارلمانی څارنی ته نقش ورکړای شی. لومړی لاره دا ده چی د قانون پراخ حدودو وټاکل شی او بيا مشخصو موضوعاتو ته چی ښايی د هغو د څيړنی غوښتنه و نه شی، تفصيل ورکړای شی. د دغی طريقی مثالونه کولای شوو چی د بريتانيا او آستراليا په قوانينو کی ولټوو.[6] دوهمه طريقه دا ده چی د بيلا بيلو دندو يو هر اړخيز فهرست جوړ شی، څرنګه چی په ۳۶ چوکاټ کی ليدل کيږی ( دغه مثال په استخباراتی مسايلو کی د امريکا د سنا د ټاکل شوی کميتی څخه اخيستل شوی دئ).

بله مهمه اندېښنه دا ده چی بايد وکتل شی چی آيا د څارنی ارګان بايد داسی يو بنسټ وی چی کولای شی د استخباراتی عملياتو د جزئياتو ارزونه وکړی او که د هغه دنده يواځی د هغو ادارو د پاليسيو او مالی موضوعاتو پوری محدوديږی ( ۳۷ چوکات دی وکتل شی). د آلمان پارلمان، Bundestag، د څارنی پارلمانی جرګه ګی ته هم د غور او ارزونی او هم په عملياتی چارو کی صلاحيت ورکړی دی. کله چی د استخباراتی ادارو د پاليسيو په هکله خبری کيږی، مقصد دا دئ چی هغو څرنګه د عمل په ډګر کی چلند کړی دی. د آلمان د پارلمان د څارنی جرګه ګی له دغو چالچلندونو اود هغو د پلی کولو له څرنګوالی څخه په بشپړ توګه خبر لری. همداراز د آلمان د پارلمان د څارنی جرګه ګی ته بايد د استخباراتی اپراتيفی او هغه نور استخباراتی مسايلو چی ډله ايزی رسنيی يی لاس ته راوړی، په هکله معلومات ورکړ شی. همداراز نوموړی جرګه ګی بايد د هغو مهمو تصميمونو په هکله خبرتيا ولری چی د هغو ادارو چالچلندونو ته بدلون ورکوی.[7]

**۳۶ چوکاټ:**

## د پارلمان د څارنې ارګان لپاره د دندو يو هراړخيز فهرست

**۱۳ برخه:**
الف ـ ټاکل شوی کميته د لاندو موضوعاتو په پام کې نيونې سره خپلې څېړنې سرته رسوی:
۱ـ د متحده ايالاتو د بهرنی استخباراتی ادارو د تحليلی توانمندی کيفيت او د لا زياتو تحليلی استخباراتو د شاملو او د پاليسيو د بيان لپاره امکانات؛
۲ـ استخباراتی فعاليتونو ته د اړيکو درلودلو لپاره د اجرائيه څانګو او ادارو لپاره د صلاحيت حدود او خصوصيت او د هری استخباراتی اداری او څانګې لپاره د يو بنسټ جوړول؛
۳ـ د اجرائيی په برخه کی د استخباراتی فعاليتونو تنظيمول ترڅو د اجراآتو اغيزمنتوب، څارنه او د استخباراتی فعاليتونو ځواب ورکونه تر غور لاندی ونيول شی؛ د تکراری يا ورته کارونو کمول، د استخباراتی ادارو د کارکونکو روحيه غښتل کول؛
۴ـ د پټو او ځمکی لاندی فعاليتونو په لاره اچول او هغه چالچلندونه چی د هغو پر بنسټ د نوموړو فعاليتونو په هکله کانګرس ته رپوټ ورکول کيږی؛
۵ـ د قانون ، د سنا د مقرراتو او چالچلند او يا د اجرائيی د هر فرمان، حکم يا مقرراتو لپاره د تعديل غوښتنه ترڅو د استخباراتی اسرارو ساتل اصلاح کړای شی او د هغومعلوماتو د ښکاره کولو لپاره لاره اوارول چی د هغو د پټ ساتنی لپاره مهم دليل نه وی.
۶ـ د استخباراتی فعاليتونو په هکله د سنا د مجلس د يوی کميتی د جوړولو لپاره غوښتنه؛
۷ـ د استخباراتی فعاليتونو په هکله د سنا او استازو د مجلس د يوی ګډی کميتی د جوړولو لپاره غوښتنه؛
۸ـ د استخباراتی فعاليتونو لپاره د بودجی منظوری؛
سرچينه: د استخباراتو په هکله د امريکا د سنا د ټاکل شوی کميتی مقررات

**۳۷ چوکاټ:**

## د پارلمانی څارنی عناصر (آلمان)

**لومړی برخه (۱)**
د اساسی قانونی د ساتنی لپاره د فدرال د دفتر(Bundesamt für die Verfassungsschutz) د فعاليتونو، د پوځی استخباراتی خدماتو د ساتنی(Militärischer Abschirmdienst) او د فدرال استخباراتی خدماتو(Bundesnachrichtendienst) د فعاليتونو په پام کی نيونی سره فدرال حکومت د پارلمانی څارنی جرګه ګی تر صلاحيت لاندی دی.

**دوهمه برخه**
د فدرال حکومت مکلف دئ چی د هغو ادارو چی په لومړی برخی کی يی نومونه واخيستل شول دفعاليتونو په هکله او همداراز د ځانګړو فعاليتونو په هکله د پارلمانی د څارنی جرګه ګی ته مفصل معلومات ورکړی. د هغی جرګه ګی د غوښتنی له مخی د فدرال حکومت د نورو فعاليتونو په هکله هم معلومات ورکوی.

**دوهمه الف برخه**
د معلوماتو د چمتو کولو د دندی د يوی برخی په توګه د فدرال حکومت، البته د غوښتنی په صورت کی، بايد د پارلمان د څارنی جرګه ګی ته اجازه ورکړی چی د استخباراتی ادارو سندونه او دوسيی=>

| |
|---|
| وپلټي او د هغو له کارکونکو سره خبری وکړی، سربيره پر دی له هغو ادارو څخه د ليدنی کتنی لپاره جرگه گی ته امکانات برابر کړی.<br>سرچينه: د فدرالی آلمان د استخباراتی فعاليتونو  د پارلمانی څارنی لپاره قانون. د پارلمانی څارنی د جرگه گی د قانون سند، آلمان، اپريل ۱۹۷۸<br>( په نوموړی متن کی د ۱۹۹۲ او ۱۹۹۹ کلونو بدلونی هم شاملی دی، د دوهمی الف برخی) |

د پارلمانی څارنی يو ارگان چی د استخباراتی عملياتو د پلټنی صلاحيت لری، له ډير زيات اعتبار څخه برخه من دئ او کيدای شی چی هغه نور صلاحيتونه هم ورکړای شی (د بيلگی په توگه، د شواهدو د چمتو کولو لپاره د هغو ادارو مجبورول). خو کيدای شی چی د ځيرنو د کولو څرنگوالی او يا داچی کوم مسايل بايد پارلمان يا خلکو ته د خبرتيا لپاره وړاندی شی، له ځنډونو سره مخامخ شی. په دی حالت کی د پارلمان د څارنی ارگان ښايی په يوی محرمی حلقی کی  فعاليت کولو ته مجبور شی. د دی کار پايله دا ده چی د پارلمان د څارنی د ارگان او د نورپارلمانی غړو تر مينځ  يو ځنډ رامينځ ته کيږی. خو که چيری هغه ارگان له خپلواکی او د بيان له څرگندولو څخه برخه منی وی، ښايی چی د هغه قانونيت ته کوم تاوان ونه رسيږی. سره له دی هم پارلمان او خلک مجبوره دی چی تر يوی کچی پوری باور ولری چی د سندونو او شواهدو له نه چمتو کولو سره سره، پر استخباراتی مسايلو باندی څارنه سرته رسيدلی ده. دوهم خطر دا دی چی د څارنی يو ارگان له دا ډول يو ځانگړتوب سره کيدای شی چی هغو ادارو ته نژديوالی ومومی چی پر هغه باندی د څارنه مسؤليت لری. د بيلگی په توگه، که څه هم دا يو ښه کار دی چی د استخباراتی عملياتو له پلی کولو څخه مخکی دی د پارلمان د څارنی ارگان ته خبر ورکړ شی، خو دا ډول خبرتيا کيدای شی چی د عملياتو په نسبت د څارنی د ارگان د گوت نيونو مخه ونيسی.

د دی ځنډ چاره دا ده چی د پارلمان د څارنی د ارگان ماموريت يوائې پاليسيو او مالی موضوعاتو پوری محدود شی. دا هغه موضوعات دی چی په ډيری اسانی سره په عامه صحنه کی د ملی گټو لپاره په ډير لږو محدويتونو سره تر غور او ارزونی لاندی ونيول شی( که څه هم د بودجی په هکله د تفصيلاتو  خپرول ښايی د ملی گټو د ساتنی لپاره مخکی له مخکی قضاوت وی). خو دغه وروستی لاره چاره هم د پارلمانی څارنی له اصلی دندو څخه هم يو ډول انحراف دی او  هغه دندی دا دی: په دی هکله ډاډ ميندل چی د حکومت پاليسی په يوی ټاکلی برخی کی په سمه توگه پلی کيږی. د عملياتو د تفصيلاتو په هکله د معلوماتو له درلودلو څخه پرته، د څارنی يو ارگان نه شی کولای چی دامنيتی او استخباراتی ادارو له خوا د حکومت د پاليسيو د پلی کولو د اغيزمنتوب څخه خبرتيا ومومی. همدا مسأله د موضوعاتو د قانونی توب د څارنی او هم بنسټيزو حقوقو ته( په ځينو هيوادونو کی دغه دندی د پارلمانی څارنی ارگان ته سپارلی شوی دی)  د هغو ادارو د درناوی په هکله صدق کوی. په پارلمانی څارنی کی دغه ډول چلند ښايی د زيات اعتبار څخه برخه من نه وی، مگر دا چی هغه د اړوندی اداری د چلند په هکله پر ځينو شواهدو ولاړ وی.

نتيجه دا چی، محرمه حلقه يا د محرميت ځنډ د پارلمانی څارنی د طرحی لپاره يو ستره ستونزه ده؛ د محرمی حلقی په دننه کی ښايی څارنه اغيزمنه ښکاره شی خو حقيقت ښايی داسی نه وی، له حلقی څخه بهر پارلمانی څارنه ښايی د هغو ادارو له عملياتو سره موازی په عمل لاس پوری کړی، خو ښايی د هغو ادارو له عملياتو سره  هيڅکله رښتينی تماس نه وی ميندلی.
د دغی ستونزی د حل لپاره کيدای شی چی مختلفی ستراتيژی طرحه شی.  يوه له هغو څخه دا ده چی ځينی ځانگی او يا دفترونه جوړ شی چی له محرمی حلقی څخه جلا د پارلمان په استازيتوب عمل وکړی او بيا د پارلمان د څارنی ارگان ته رپوټ ورکړی. په ځينو هيوادونو کی د عمومی پلټونکی دغه دندی په غاړه اخلی ( که څه هم  هغوی د اجرائيی د څارنی د غښتل کولو لپاره هم دنده لری. ۲۲ فصل دی وکتل شی).

يوبل متود دا دئ چې ډېر ژر په لږ وخت کې د عملياتي موضوعاتو يو فهرست د پارلمان د څارنې ارګان ته وړاندې شي ( هغه يو ارګان ته چې په اړونده ساحه کې د هغه تخصص پيژندل شوی وی)، دا کار کيدای شی چې خپله د پارلمان ا و يا د حکومت له خوا وشی. دغه لاندی مثال څرګندوی چې په آستراليا کې دغه متود څرنګه قانونی بڼه ميندلې ده.

**۳۸ چوکاټ:**

## د پارلمان د څارنی ارګان ته د اپراتيفی موضوعاتو د وړاندی کولو لپاره حکم

**۲۹ برخه ـ د کميتی دندی**
(۱)ـ د کميتی دندی دا دی:
ب ـ د آستراليا د امنيتی استخباراتی سازمان ASIO، د آستراليا د پټو استخباراتی خدماتوASIS يا دفاعی چارو د زيګنالوو مديريت DSD په اړه د يوی موضوع د ارزونی لپاره د دغو لاندو مسؤلينو له خوا دی کميتی ته وړاندی شی:
۱ـ مسؤل وزير
۲ـ يا د پارلمان د يوی جرګی د پريکړی
سرچينه: د استخباراتی خدماتو د ۲۰۰۱ کال د قانون سند، آستراليا ۲۹ برخه

سمدلاسه پلټنی اکثرا هغه وخت کيږی چې د هغو ادارو چالچلندونه شخړه ايز وی. په داسی يو حالت کی معلوماتو ته لاس درلودل يو حتمی امر دی، ځکه حکومت او هغه اداری غواړی داسی وښيي چې يو بل سره همکاری لری. خو که چيری د څارنی ارګان د داسی يو پلټنی څخه ډه ډه وکړی، د هغه د خبرو اترو دريځ بايد غښتلی کړای شی، مګر دا چې معلوماتو ته د بشپړ لاس رسيدو ډاډ ورکړ شی.

د محدودواختياراتو يو بل مثال کولای شی چې د ناروی د پارلمانی استخباراتی څارنی په کميته کی وګوری. دغه کميته چې غړی يی د پارلمان استازی نه دی خو د پارلمان له خوا ټاکل کيږی دنده لری چې پلټنه وکړی چې آيا استخباراتی ادارو په خپل چالچلند کی د قانون حاکميت او بشری حقوق مراعات کړی که نه ( ۳۹ چوکاټ دی وکتل شی). د دغو اختياراتو په دننه کی دغه کميته د هر اړخيزو پلټنو صلاحيتونه لری چې د ناروی په ټولو استخباراتی ادارو کی پلټنه کولای شی. دغه څارنه چې د پلټنی پر اصل باندی ولاړه ده کيدای شی چې لمن يی د عملياتو څارنی ته هم پراخه شی، خو يواځی د عملياتو د قانونيت له نظره.

**۳۹ چوکاټ:**

## د قانون واکمنی او بشری حقوقو ته د پارلمانی څارنی پاملرنه: مثال ناروی

**دوهمه برخه ـ د څارنی موخه:**
۱ـ د يو وګړی پر خلاف د هرډول غير عادلانه عمل تشخيص او مخ نيوی او ډاډ ميندل په دی هکله چې له امکاناتو څخه په شخصی مسايلو کی د مداخلی لپاره کار اخيستل کيږی، له هغو حدودو څخه زياتی ونه کړی چې قانون ټاکلی دی او يا شرايط اجازه ورکوی،
۲ـ ډاډينه په دی هکله چې په لاره اچول شوی فعاليتونه اولسی ژوند ته تاوان نه رسوی،
۳ـ ډاډينه په دی هکله چې په لاره اچول شوی فعاليتونه د قانون د احکام په چوکاټ کی دی.
سرچينه: د استخباراتی څارنی په هکله د قانون سند، د څارنی او امنيت خدمات، ۷ سند، فبروری۳و ۱۹۹۵ کال، ناروی

# غوره چالچلند

- د اختياراتو افقی حدود: د ټولو ځانګو او فرعی چارواکو په ګډون ټوله استخباراتی ټولنه باید د پارلمان د یوه یا څو څارونکو ارګانو تر څارنی لاندی وی؛
- د اختياراتو عمودی حدود: د پارلمان د څارنی د ارګان اختيارات کیدای شی چی په لاندی مسایلو پوری تړلی وی:
الف ـ قانونیت، ب ـ ګټورتوب، ج ـ اغیزمنتوب، دال ـ د بشر د حقوقو د اړوندو تړنونو سره سمون، هـ ـ پالیسی/ د استخباراتی خدماتو اداری اړخونه؛
- ټولی دغه برخی باید د پارلمان د څارنی د ارګان یا د دولت د نورو ارګاننو تر پوښښ لاندی وی، د بیلګی په توګه د ملی څارنی دفتر، عام پلټونکی، محکمه. د ارګانونو د تضاعف او تداخل مخه باید ونیوله شی؛
- د یو پارلمانی ارګان اختيارات باید ښکاره او څرګند وی؛
- د پارلمانی څارنی سپارښتونه او رپوټونه باید: الف ـ خپور شی، ب ـ په پارلمان کی تر بحث لاندی ونیول شی، ج ـ د دی مسألی په پام کی نیونی سره چی آیا هغه د حکومت له خوا او که د استخباراتی ادارو له خوا پلی کیږی، باید د هغو څارنه وشی،
- مالی منابع او قانونی واک چی د پارلمانی څارنی د ارګان په اختيار کی پریښودل کیږی باید د هغه له صلاحیتونو سره سمون ولری.

## شپاړسم فصل

# د پارلمانی څارنی د ارګان جوړښت

د پارلمانی د څارنی ارګانونه چی له پراخو اختیاراتو حخه برخه من دی باید د پارلمان له خوا وټاکل شی او له مختلفو ګوندونو څخه استازیتوب وکړی ترڅو له قانونیت او د امر د خاوند د یوی مرجعی په توګه له اعتبار څخه برخه من وی. که څه هم که چیری امکان ولری د هغو ارګانونو غړی په اړوندو مسایلو کی له کافی تخصص څخه برخه من وی ( د بیلګی په توګه په وزارتونو کی د خدمت سابقه)،خو زمونږ له نظره مهمه دا ده چی هغوی ملکی وګړی وی، څکه د څارنی د ارګان او د استخباراتی او امنیتی ادارو تر مینځ باید د بیلتون کرښه ښکاره ښی تر څو د څارنی د اغیزمنتوب ډاډ لاس ته راشی. البته په دی برخه کی په انتقالی دیموکراسیو کی ډیری ستونزی موجودی دی ـ د هغو له جملی څخه د څارنی په ارګانونو کی د پخوانیو امینتی ادارو د غړو شته والی. دا چی د پخوانیو دولتونو امنیتی ادارو د مستبدو رژیمونو په ساتلو کی نقش درلود، دهغوی د غړو شته والی د څارنی په پروسه کی عامه اعتماد ژوبلوی. نوغوره ده چی د هغو مخه ونیوله شی، البته د امکان په صورت له قانونی لارو.

په همدی ډول، د کار د اغیزمنتوب لپاره یوه پارلمانی کمیته باید تر څارنی لاندی ادارو سره د اعتماد وړ اړیکو څخه برخه منه وی.د داسی اړیکو درلودل له دی ویندویی کوی چی د کار د اغیزمنتوب لپاره د یوی کوچنی کمیتی جوړول غوره دی ( البته دا اصل له پام څخه ونه غورځول شی چی په هغی کی د مختلفو ګوندونو غړی استازیتوب ولری).

څرنګه چی د استخباراتی او امنیتی ادارو څارنه د وخت او تخصص غوښتنه کوی، ځینو پارلمانونو تصمیم نیولی چی له پارلمان څخه بهر کمیتی جوړی کړی چی د هغو غړی د پارلمان استازی نه اوسی، خو د پارلمان له خوا وټاکل شی او پارلمان ته رپوټ ورکړی ( مثلا: ناروی، کانادا[ پیشنهادی اصلاحات]).[8]

د څارنی د ارګان د غړو ټاکل له یوهیواد څخه تر بل پوری توپیر لری. په ځینو هیوادونو کی هغوی د حکومت د مشر له خوا ټاکل کیږی ( مثلا په انګلستان کی، البته د حکومت له مخالف اړخ سره له مشوری څخه وروسته) [9] ، په ځینو نورو کی د هغوی غړی د اجرائیی له خوا نومول کیږی خو پارلمان هغوی ټاکی ( مثلا به آسترالیا کی )[10] خو په ځینو نورو هیوادونو کی دغه دنده دپارلمان په غاړه ده ( مثلا په آلمان[11] او ناروی کی[12]).

لنډه دا چی د غړو د ټاکلو موضوع امنیتی پلټنی او تصفیی پوری تړل شوی ده (۱۷ فصل دی وکتل شی): که چیری اجرائیه د ټاکلو مسؤلیت او یا د څارنی انحصار په اختیار کی ولری ، ښایی ډیر زیات د هوسایی احساس وکړی.

د څارنی د یو ارګان رئیس د هغه په رهبری او د عمل په څرنګوالی کی تل مهم نقش لری. د پارلمانی کمیتو په پام کی نیونی سره، د پارلمان مختلف سیستمونه یو بل څخه توپیر لری. که چیری د څارنی د ارګان ریاست د حکومت د مخالف اړخ د یو غړی په غاړه وی او یا د واکمن او مخالف ګوندونو له خوا په ګډه رهبری شی، د هغی قانونیت ډیر زیات پیاوړی دئ.

**۴۰ چوکات:**

## د څارنې د ارګانونو د غړو ټاکنه: په دې اړه د دغو هيوادونو مثالونه دې وکتل شي:

**آلمان:**

څلورمه برخه (۱) ـ د پارلمان د هرې دورې په پيل کې د آلمان پارلمان له خپلو غړو څخه د پارلماني څارنې د جرګه ګې غړې ټاکي.؛ ..... (۳) هغه کسان چې د رائيو اکثريت وګټي د هغې جرګه ګې د غړې په توګه ټاکل کيږي.

سرچينه: د آلمان د پارلماين څارنې د جرګه ګې د قانون سند، تعديل په ۱۹۷۸ کال کې (PKGRG)

**برتانيا:**

۱۰ (۲) ـ دغه کميته ه نهو غړو څخه جوړيږي: الف ـ د عام مجلس (اولسي جرګې) او د لارد له مجلس ( مشرانوجرګې) له غړو څځه، ب ـ د غړو هيڅ يو بايد وزير نه وي؛ (۳) د کميتې غړې د حکومت له مخامخ اړخ سره له مشورې څخه وروسته د صدراعظم له خوا ټاکل کيږي (...).

سرچينه: د استخباراتي خدماتو د قانون سند، ۱۹۹۴

**هالند:**

د څارنې کميتې وميندله چې د هغې د کار ساحه ډيره تنګه شوې وه، هماغه وه چې پريکړه وشوه چې د پارلمان د هر ډلې يو استازې بايد په هغې کميتې کې ځوکې ولري.

سرچينه: د ۲۰۰۳ کال په لومړيو ۵ مياشتو کې د فعاليتونو په هکله د امنيتي او استخباراتي کميتې رپوټ، د پارلمان دوهم مجلس (مشرانو جرګه)، د ۲۰۰۳ تر ۲۰۰۴ کال پورې غونډه، ۲۹۶۲۲ شميره ۱،۳ جون ۲۰۰۴

**ارجنتاين:**

د پارلمان د دو جرګو کميته ۱۴ پارلماني غړې لرې ۷ تنه يې د اولسي جرګې او ۷ يې د مشرانو جرګې له خوا ټاکل کيږي، د هغې کميتې رئيس او دوه مرستيالان او منشي د کميتې د خپلې رأی ورکونې له مخې ټاکل کيږي، البته د دووکلونو لپاره، څرنګه چې د پارلمان د دواړو جرګو تر منځ په دوراني توګه سرته رسول کيږي (...) د هغې کميتې د غړو د ټاکلو لپاره د پريکړې د فسخه کولو (ويتو) او يا د غړو د ګوښه کولو لپاره کومه خاصه طريقه نه شته، مګر دا چې هغوی د خپلو اړوندو ګوندونو له خوا د نه باور رائيو سره مخامخ شي، په خاصه توګه د ګوند د رئيس له خوا. د پارلمان هر غړی کولای شي چې د هغې کميتې غړی شي.

سرچينه: د ارجنتاين د نوی پيړې ننګونه: د استخبراتي سيستم څارنه :

Estevz.E.Born,H.; Johnson,L Leigh.I.(eds).Who's Waching the Spies? Establishing Intelligence Service Accountablity, (Dulles, VA: Potamac, Books,Inc, 2005)

**هنګرې:**

(...) په ټولو حالاتو کې د کميتې رئيس د حکومت د مخالف اړخ څخه وی.

سرچينه: ۱۴ برخه، لومړی سندCXXV ۱۹۹۵ د ملي امنيت د خدماتو په هکله، هنګرې.

رئيس د پارلمان يا د خپله د کميتې له خوا بايد وټاکل شي نه د حکومت له خوا. له دې ډول يو چالچلند سره د کميتې په نسبت اعتماد نور هم زياتيږي چې کيدای شي د يو خپلواک ارګان په توګه وپيژندل شي. دا چې هر مرو بايد د دې کميتې مشرې د حکومت د يو پلوی په غاړه وی، دا يوائې په هغه صورت

کی ده چی په نورو کمیتو کی هم د چلند د تطبیق وړی وی. په داسی حالاتو کی هم غوره دا ده چی د کمیتی رئیس د پارلمان له غړو یا خپله د کمیتی له خوا وټاکل شی او هغه د پارلمان یا کمیتی په خوښه دغه دنده په غاړه واخلی.[13]

## غوره چالچلند

- پارلمانی ارگانونه باید په ښکاره توگه د پارلمان په تصرف کی وی؛
- پارلمان باید د هغی کمیتی د غړو د ټاکلو او گوښه کولو مسؤلیت په غاړه ولری چی د پارلمان په استازیتوب د څارنی دنده لری؛
- په پارلمان کی ټول گوندونه باید د څارنی په کمیته کی استازی ولری، البته د هر گوند د خپل سیاسی غښتلتوب په کچه؛[14]
- د څارنی په ارگانونو کی باید د حکومت وزیران غړیتوب ونه لری (هغه غړی چی د حکومت په کابینه کی دنده اخلی هغوی باید د څارنی له ارگانونو څخه استعفا وکړی)، پرته له دی د هغو ارگانونو خپلواکتوب تر پوښتنی لاندی راځی.[15] عین دا مسأله د امنیتی او استخباراتی ادارو د پخوانیو غړو په برخه کی هم د تطبیق وړ ده؛
- د کمیتی غړی باید د پارلمان له غوښتنی سره سم د خپل مقام له مصؤنیت څخه برخه من وی، نه دا چی د حکومت د رئیس له خوا؛
- د کمیتی رئیس باید پارلمان یا خپله د کمیتی له خوا باید وټاکل شی، نه د حکومت له خوا.

## اولسم فصل

# د څارنې د ارګان پلټنه او تصفيه

پلټنه هغه يو پروسه ده چې په هغې کې د يو وګړي شخصي پس منظر او سياسي تعلقات تر ارزونې لاندې نيول کيږي چې آيا هغه د يو امنيتي مقام لپاره مناسب دئ که نه. دا چې د يوې کميتې پارلماني غړي تر پلټنې او تصفيې لاندې ونيول شي که نه، بيلابيلو فکتورونو پورې اړه لري.

که چيرې د ټاکلو يا نومولو پروسه د حکومت په لاس کې وي، له نومولو او ټاکلو څخه مخکې يو ډول غير رسمي پلټنه په لاره اچوله کيږي او هغه کسان چې د امنيت لپاره خطر کڼل کيږي له امکان څخه ډيره ليرې ښکاري چې يو لوړ مقام ته دې وټاکل شي. په عين وخت کې د کميتې دندې او صلاحيتونه دپلټنې يا تصفيې د ضرورت پر سر بحث پورې تړلې ده. هغه يوه کميته چې دنده يې د پاليسۍ پر سر بحث پورې محدوده ده او يا دشواهدو د وړاندې کولو لپاره د احضار له صلاحيت څخه برخمنه نه وي او يا د استخباراتي عملياتو په هکله له معلوماتو او د معلوماتو له سرچينې څخه خبره نه وي، هغه هرمرو پلټنې ته اړتيا لري.

په دې برخه کې البته د هيوادونو د اساسي قوانينو تر مينځ توپير هم نقش لري. چيرته چې اساسي قانون د امنيت او استخباراتو د وزير د سوابقو د پلټنې مخالف وي، غوره نه ده چې د څارنې لپاره د پارلماني غړو سوابق دې تر پلټنې لاندې ونيول شي.

له بلې خوا، کله چې يو کميته له پراخو دندو او صلاحيتونو څخه برخه منه وي، ډيره مهمه ده چې دڅارنې د ارګان غړي معلوماتو ته لاس رسيدنه ولري. که چيرې د څارنې د ارګان غړي معلوماتو ته د لاس رسيدو لپاره د باور وړ نه وي ( د بيلګې په توګه، چيرته چې د لوړ پوړې امينتي تصفيې لپاره غوښتنه کيږي) د څارنې پروسه بشپړه نه ګڼله کيږي. په همدې وجه ځينو پارلمانونو ( لکه ناروې) داسې يو قانون جوړ کړی چې د هغوی له مخې د استخباراتي څارنې لپاره مؤظف کسان اجازه پيدا کوي چې سمدلاسه ټولو هغو معلوماتو ته چې د څارنې د ارګان د دندې د ترسره کولو لپاره ضروري دي، لاس رسيدنه ولري.

**۴۱ چوکاټ:**

### پر استخباراتو باندې د ناروې د پارلماني څارونکې کميتې تصفيه

هغه کسان چې پارلماني څارونکې کميتې ته انتخابيږي، د ناروې د لاس ليک شوو تړونونو له مخې مخکې له دې چې د هيوا د ملي ګټو پورې اړوند معلوماتو ته لاس رسيدنه ولري، بايد تصفيه شي. له ټاکلو څخه وروسته د تصفيې د سوابقو له مخې ورته اجازه ورکوله کيږي چې دغو معلوماتو ته لاس اوږد کړي.
سرچينه: د استخباراتي څارنې لپاره لارښوونې، د مراقبت او امنيت خدمات، ناروې، ۱۹۹۵، لومړې برخه، ۲ پاراګراف:

د پارلماني څارنې د ارګان د غړو تصفيه يوه شخړه ايزه موضوع ده. د بيلګې په توګه پوښتنه دا ده چې څوک بايد د تصفيې مسؤل وي؟ د څارونکو تصفيه د هغو کسانو له خوا چې د څارنې مسؤليت لري،

ښکاره ده چې د اړوندو اړخونو په مینځ کې د اختلاف لامل ګرځي، که څه هم دا تر یوې کچې د مخنیوي وړ دی.

له دې بدګمانۍ سره چې دپلټنې لپاره معیار ښایي هغه کسان چې فکر کیږي د امنیتي او استخباراتي ادارو دښمنان دي تصفیه کوي، غوره ده چې د پلټنې لپاره د عامه معیارونو له لارې مقابله وشي. د سوابقو د پلټنې لپاره معیار او لاره چاره باید ډیره ښه روښانه، ټینګه او له دیموکراتیک کنترول سره سمون ولري. د یادونې وړ ده چې په ډیرو هیوادونو کې د دغې ډول پلټنې نتایج یواځې سپارښتنه ایز او مشورتي بڼه لري. په دې حالاتو کې ښایي غوره وي چې ډیر انتظار ونه ایستل شي او د څارنې د ارګان ټاکلو ته دوام ورکړای شي ( ۴۲ چوکاټ دی وکتل شي).

**۴۲ چوکاټ:**

**د بوزنیا او هرزګووینا د پارلماني غړو د امنیتي تصفیې د ردولو لپاره چالچلند**

(....) که چیرې امنیتي اداره د څارنې د ارګان د یو نومول شوي غړي امنیتي تصفیه ونه مني، د پارلماني عمومي غونډې جرګه ګۍ کولای شي چې له امنیتي اداري څخه د یو ځل بیا غور لپاره غوښتنه وکړي، البته په دې شرط چې قانع کونکي دلیلونه ولري. که چیرې امنیتي اداره بیاهم د نومول شوي غړي امنیتي تصفیه رده کړي، نو جرګه ګۍ کولای شي چې په خپل صلاحیت هغه تصویب کړي او یا یوبل څوک ونوموي.
سرچینه: د بوزنیا او هرزګووینا د استخباراتي او امنیتي اداري په هکله د قانون ۱۸ ماده، ۲۰۰۴

غوره ده چې دکمیټې د غړو د سوابق تصفیه په رسمي توګه سرته ورسیږي، نه د غیر رسمي پروسې له لارې. دغه ډول چلند د پارلمان د اړوندو غړو په برخه کې ( هغه کسان چې وروسته بیا پوهیږي چې د هغوی د سوابقو پلټنه شوې ده) غوره ده او د هغې یوې پروسې د پیل لپاره اجازه ورکوي چې د هغې له مخې یو مخالف تصمیم پرې مدلل کیدای شي.

د خلکو د سوابقو د پلټنې لپاره چالچلندونه د ډیرو ستونزمنو مسایلو او ننګونو حخه شمیرل کیږي، ځکه د عدل او انصاف پر بنسټ ولاړ چالچلند، ملي امنیت او د شخصي مسایلو د ساتنې په مینځ کې باید انډول وساتل شي. اصولا غوره ده چې د پارلمان د غړو د سوابقو د پلټنې لپاره له هغو لارو چارو څخه کار واخیستل شي چې د دولتي چارواکو په اختیار کې دي تر څو هغوی د پارلمان او عامو خلکو د بحث موضوعات ونه ګرځي.

دپارلمان د څارنې د ارګان د غړو سوابق باید یواځې هغه وخت تر پلټنې لاندې ونیول شي چې هغوی د خپلو صلاحیتونو په حدودو کې له حساسو استخباراتي موادو او اسناد سره کار ولري. چیرته چې پلټنه حتمي وي باید هغه په رسمي توګه سرته ورسیږي: پارلماني غړي باید خبر وي چې د هغوی د سوابقو پلټنه کیږي، په دې برخه کې چې له کومو معیارونو او لارو چارو څخه چې کار اخیستل کیږي باید خپاره کړای شي. د پلټنې نتایج باید د اړوند ارګان( په داسې یوې طریقې سره چې شخصي مسایل خوندي وساتل شي) او د پارلمان د اړوند غړي په اختیار کې کیښودل شي. همداراز داسې امکانات هم باید موجود وي چې د پلټنې نتایج د خپلواک ارګان په وړاندې تر پوښتنې لاندې ونیول شي.

## غوره چالچلند

- پارلمانی غړی باید یواځی هغه وخت تر پلټنی لاندی ونیول شی چی دڅارنی کمیته له اپراتیفی حساسو اسنادو او موادو سره کار ولری؛
- کله چی د پارلمانی غړو امنیتی تصفیه د استخباراتی او امنیتی ادارو له خوا ونه منل شی، باید هغه لاری چاری ومیندلی شی چی له رامینځ ته شوی شخړی سره له قانون سره سم چلند وکړی او خپل وروستی نتایج پارلمان او یا د هغه ریاست ته وړاندی کړی.
- د پلټنی معیارونه باید روښانه، عام، ټینګ او مضبوط وی تر څو دیموکراتیکی کتنی لپاره داډ لاس ته شی.

## اتلسم فصل

# د معلوماتو او اسنادو د لاس ته راوړنی لپاره پارلمانی صلاحیتونه

له حکومت او استخباراتی خدماتو څخه د معلوماتو او اسنادو د لاس ته راوړنی لپاره پارلمان او بیا په خاصه توګه د څارنی ارګان پیاوړو صلاحیتونو ته اړتیا لری. د صلاحیتونو حدودو چی د څارنی ارګان د استخباراتی معلوماتو د لاس ته راوړلو لپاره ورته اړتیا لری د اړوندو معلوماتو په ډول پوری اړه لری. د څارنی ارګان یواځی د پالیسیو د جوړولو دنده په غاړه نه لری بلکه تر زیاتی کچی د هغه دندو لمن د موضوعاتو قانونیت، اغیزمنتوب او بشری حقوقو ته درناوی ته پراخیږی، په همدی وجه هغه د دغو دندو د ترسره کولو لپاره باید له ربښتینو معلوماتو څخه برخه من وی. هغه ارګان نه یواځی کولای شی چی له عینی شاهدانو څخه معلومات او څرګندونی لاس ته راوړی، بلکه اسنادو ته د لاس اوږدولو ښکاره حق لری.[17] هغه په دی وجه هم د ضروری معلوماتو د لاس ته راوړنی لپاره لاس اوږدولی شی چی ورسپارل شوی مسؤلیت په سمه وجه تر سره کړی.

| |
|---|
| **۴۳ چوکاټ:**<br>**د معلومات د لاس ته راوړنی لپاره د ارجنټاین د ګډی کمیتی حق**<br><br>**۳۲ ماده:**<br>ګډه کمیته (داستخباراتی خدماتو او فعالیتونو د څارنی لپاره) د خپل ځان په هکله د څارنی او پلټنی لپاره بشپړ صلاحیت لری. د غوښتنی له مخی او د ۱۶ مادی له ټاکلو شوو احکامو سره سم، د استخباراتی سیستم اداره هغه معلومات او اسناد چمتو کوی چی نوموړی کمیتی د هغو لپاره غوښتنه کړی ده.سرچینه: د ملی استخباراتو قانون ۳۲ ماده ، شمیره ۲۵۵۲۰ ، کال ۲۰۰۱ |

د څارنی د ارګانونو په نقش کی توپیرونه د مختلفو هیوادونو د اساسی قانون په نظامونو کی د هغوی په صلاحیتونو کی توپیروالی څرګندوی. په ځینو هیوادونو، لکه امریکا متحده ایالاتو کی، حکم دا دئ چی اجرائیه قوه دنده لری چی د څارنی ارګان ته خبر ورکړی.

| |
|---|
| **۴۴ چوکاټ:**<br>**د استخباراتی فعالیتونو په هکله کانګرس ته په بشپړه او جاری توګه د خبرورکونی دنده**<br><br>۱ ـ جمهور رئیس ضمانت کوی چی د امریکا متحده ایالاتو د استخباراتی فعالیتونو په هکله د استخباراتو د څارنی کمیتو ته وخت په وخت خبر ورکړای شی چی په هغو کی د وړاندوینی وړ فعالیتونه، څرنګه چی د قانون د دی فصل په فرعی برخه کی یی هم غوښتنه شوی ده، شامل دی (...)<br>(ب) د غیر قانونی استخباراتی فعالیتونو په اړه رپوټونه. جمهور رئیس ضمانت کوی چی د هر غیر قانونی فعالیت په هکله په خپل وخت استخباراتی کمیتو ته خبر ورکول کیږی او همدا راز د د غو غیر قانونی فعالیتونو په اړه هر ډول اصلاحی اقدام چی پلان شوی او یا عملی شوی د هغه په هکله هم معلومات ورکول کیږی.<br>سرچینه: د متحده ایالاتو قانون، ۵۰ عنوان، ۴۱۳ برخه (a) |

سربيره پر دی، د کانګرس د څارنی له احکامو سره سم، جمهور رئيس د کانګس استخباراتی کميتی له پټو فعاليتونو څخه خبروی ( ۱۱ فصل دی وکتل شی). دغه لاندی چوکاټ په دی اړه اجرائيوی دندی بيانوی.

> **۴۵ چوکاټ:**
> **د امريکا متحده ايالاتو د کانګرس استخباراتی کميتو ته د پټو عملياتو رپوټ**
>
> **(...) ب ـ استخباراتی کميتو ته رپوټ**
> د حساسو استخباراتی چينو پوری د اړوندو نه بربنډيدو وړ اطلاعاتو د ساتنی د قانون سره سم د معلوماتو د چمتو کولو او د نورو حساسو استثنای موضوعاتو پوری د اړوندو متودونو يا معلوماتو برابرولو په اړه د مرکزی استخباراتی اداری رئيس او د امريکا د حکومت د ټولو څانګو، ادارو او بنسټونو رئيسان چی په يو پټ فعاليت کی لاس لری، دغه لاندی دندی يی په غاړه دی:
> ۱ ـ له ټولو پټو فعاليتونو څخه چی مسؤليت يی د امريکا د حکومت د يوی څانګی يا اداری په غاړه وی، په جاری توګه د استخباراتی کميتی خبرول، همدا راز که چيری فعاليتونه له ناکامی سره هم مخامخ شوی ويو بايد د هغو خبر ورکړای شی؛
> ۲ ـ استخباراتی کميتو ته او يا د هغو په غوښتنه د پټو عملياتو په هکله د معلوماتو او اسنادو چی د امريکا د يوی اداری يا څانګی په اختيار کی دی چمتو کول.
> ( c) د رپوټ ورکونی وخت؛ نتايجو ته لاس رسيدنه
> ۱ ـ جمهور رئيس ضمانت کوی چی د لاس ته راغلو شواهدو پخلی شوی او د قانون د دی برخی د (a) د جز له مخی، په خپل وخت ژرترژره ، له منظوری څخه وروسته او له پلی کولو څخه مخکی استخباراتی کميتو ته خبرورکول کيږی، مګر داچی د ۲ او ۳ پاراګرافونو احکام هغه استثنا وګرځوی.
> سرچينه: د امريکا متحده ايالاتو قانون، ۱۵۰ عنوان، ۴۱۳ (b)

د حساسو اسنادو د رپوټ ورکونی په هکله د سيستمونو چالچلند يو بل څخه توپير لری. په متحده ايالاتو کی د خبرتيا مسؤليت نه يواځی د څارنی ارګان بلکه اجرائيی پوری هم اړه لری. خو په آسټراليا کی پارلمانی کميته د اپراتيفی حساسو معلوماتو د غوښتلو اجازه نه لری او نه د هغو د بربنډولو؛[18] د اسنادو د لاس ته راوړلو لپاره هغه کميتی د استخباراتی اداری له رئيس يا د هغی د غړو څخه غوښتنه نه شی کولای، وزيران کولای د دا ډول اسنادو د ورکړی مخالفت وکړی. [19] د اسنادو د ورکړی د ويټو صلاحيت په سياسی ډګر کی د شخړی لامل ګرځی. هغه څه چی د اهميت وړ دی، دا دی چی د معلوماتو د لاس ته راوړنی صلاحيتونه بايد د پارلمانی څارنی د ارګان له واک او اختيار سره سمون ولری.

ځينو هيوادونو څرګنده کړی ده چی د څارنی ارګان حق لری د دواړو ادارو له کارپوهانو او همداراز له مدنی ټولنو( څيرن ايزو مؤسسو، پوهنتونونو او داسی نورو) څخه معلومات لاس ته راوړی، له دی کار سره پارلمان کولای شی چی په موضوعاتو کی د حکومت د دريځ سر بيره، مختلف او يا بديل نظرونه راټول کړی. دغه ډول احکام هغه وخت نور هم پياوړی کيږی چی د څارنی ارګان د شاهدانو د احضار صلاحيت ولری او د قسم پر بنست له هغو څخه اقرار واخلی.

**۴۶ چوکاټ:**
**له غیر حکومتی یا له ادارو څخه بهر کار پوهانو سره مشوره (لوکزامبورګ)**

کله چی د یوی ساحی پارلمانی کنترول د خاصو معلوماتو غوښتنه وکړی، د پارلمانی کنترول کمیته د استخباراتی اداری له رئیس سره له مشوری څخه وروسته له دوه پر دریمی رائیو سره کولای شی چی له یو کار پوه څخه د مرستی په لټه کی شی.
سرچینه: ۱۴ ماده (۴)،
Loi du 15 juin portant organisation du Servixe de

خو ډیری وخت د ډیرو هیوادونو د څارنی ارګانونه هلی ځلی لری ترڅو د غیر رسمی حساسو معلوماتو او اسنادو که یو وګړی یا ملی امنیت پوری اړه ولری، بربنډول منع کړی. د څارنی د ارګان د غړو یا د هغو د مرستندویو کار کونکو له خوا د غیر قانونی بربنډولو په اړه څرګند منع کونکی احکام موجود دی. د معلوماتو غیر رسمی بربنډونه نه یواځی ملی ګټو ته تاوان رسوی، بلکه هغه اعتماد ته ضربه وهی چی دڅارنی د ارګان او استخباراتی اداری تر مینځ د یوی اغیزمنی اړیکی په توګه ضروری ده.
دا تر یوی کچی د قانون یوه موضوع او تر یوی کچی د څارنی ارګان پوری اړه لری چی د پټو معلوماتو په هکله له احتیاط او پاملرنی څخه کارواخلی ( د متحده ایالاتو [20] او د ناروی [21]مثالونه دی وکتل شی.)

## غوره چالچلند

- د څارنی ارګان باید د پلټنی لپاره قانونی صلاحیتونه ولری؛
- د څارنی د ارګان غړی باید ټولو هغو معلوماتو ته چی د خپلی دندی تر سره کولو لپاره ورته اړتیا لری، په آزاده توګه لاس اوږد کړای شی؛
- د څارنی ارګان باید د شاهدانو د احضار او له هغو څخه د قسم په ورکولو سره د بیان د اخیستو لپاره صلاحیت ولری؛
- ترکومه ځایه چی د څارنی ارګان پوری اړه نیسی، اجرائیه باید د څارنی ارګان د مسایلو له بهیر څخه خبر کړای شی؛
- د څارنی ارګان باید په غیر قانونی توګه د معلوماتو د بربنډولو په مخ نیوی کی مناسب ګامونه واخلی؛
- هغه شخړه چی د معلوماتو د لاس ته راوړلو په سر د استخباراتی ادارو او دڅارنی د ارګان تر مینځ پیدا کیږی باید د یو تحلیل سره پارلمان ته وړاندی شی.

## نولسم فصل

# پارلمان ته رپوټ ورکونه

د پارلمانی کميتو رپوټونه د هغو مهمو پروسو له جملې څخه دی چی د پارلمانی څارنی په نسبت عام اعتماد پياوړی کوی. په ځينو هيوادونو کی هغه کميته ټول پارلمان يا د شخړو د حل لپاره يوی جرګه ګی ته چی له بيلابيلو ګوندونو څخه جوړه شوی وی او يا د هغی کميتی خپل رياست ته پرته له خپرولو څخه رپوټ ورکوی. په ځينو نورو هيوادونو کی چلند داسی دئ چی خلک کولای شی چی پارلمان ته ټول وړاندی شوی رپوټونه چی د عامه سندونو له جملی څخه شميرل کيږی ولولی.

خو د امنيت د ساتنی لپاره، ځينی حدود ټاکل شوی چی څه بايد د عامو خلکو خبرتيا ته وړاندی شی او څه ونه شی. سره له دی هم که چيری د څارنی کميته په خپله په دی برخه کی د پريکړی له واک څخه برخمنه نه وی، نو د څارنی سيستم اعتبار ښايی ونه لری نو دسرغړونو ګواښ موجود دی چی حقايق ښايی پټ کړای شی.

د پارلمان د څارنی کميته بايد د قانون له مخی دنده ولری چی لږترلږه په کال کی يو ځل د خپلو اجراآتو په هکله رپوټ ورکړی (۴۷ چوکاټ دی وکتل شی). په حقيقت کی د رپوټ ورکونی وخت او څرنګوالی مسؤليت بايد د يوی پارلمانی کميتی په خپله غاړه وی او دا تصميم هم خپله ونيسی چی يو رپوټ په عامه توګه خپور شی که نه. غوره دا ده چی د څارنی يو ارګان خپل رپوټ د حکومت له لاری نه بلکه نيغ پارلمان ته وړاندی کړی، ځکه دا کار « د پارلمانی کميتی خپلی واکمنی» ثابتوی. همدا راز ښه ده چی مخکی له مخکی د وروستی رپوټ يوه نسخه حکومت ته ورکړای شی ترڅو هغه وکړای شی د هغه د خپريدو په وړاندی خپل دريځ روښانه کړی. کومو ځايونو کی چی د رپوټ ورکونه د حکومت له لاری سرته رسيږی، وزيران بايد د قانون له مخی دنده ولری چی په يو ټاکلی وخت کی پارلمان ته رپوټ وړاندی کړی.

**۴۷ چوکاټ:**

**د څارنی د کميتی له فعاليتونو څخه د پارلمان او اجرائيه قوی خبرول ( جنوبی افريقا)**

۱- هغه کميته مکلفيت لری چی له ټاکل کيدو څخه وروسته د پنځو مياشتو او بيا د هر کال د مارچ له ۳۱ څخه وروسته د دو مياشتو په موده کی د خپل يو کال فعاليتونو په هکله رپوټ ورکړی. سربيره پر دی لاس ته راغلی سندونه او شواهد او خپلی سپارښتنی هم پارلمان ته وړاندی کړی او د خپل رپوټ يوه نسخه د جمهور رئيس او مؤظفو وزيرانو ته وسپاری.
۲- د پارلمان يا جمهور رئيس او يا د مؤظف وزير په غوښتنه د څارنی کميته د يوی موضوع په هکله د خپلو اجراآتو څخه رپوټ چمتو کوی او د هغه يوه نسخه د پارلمان، جمهور رئيس او د اړوند وزير په اختيار کی يی پريږدی.
سرچينه: د استخباراتی خدماتو د قانون سند، ۱۹۹۴، ۲۰۰۲

د حساسو معلوماتو د بربنډوو په هکله د څارنی د کميتی اندينښنی کيدای شی چی د يوی قانونی لاری څخه ليری کړای شی او هغه دا سی چی يوه کميته دی د لاس ته راغلو معلوماتو او اسنادو په هکله له

امنيتي او استخباراتي ادارو سره مشوره وکړي. دغه انديښنې کيداى شي چې د معلوماتو د يوې محدودې برخې ( د بيلګې په توګه د استخباراتو اپراتيفي پيژند) د نه خپرولو سره هم له مينځه يوړلې شي. خو حکومت او نوموړې ادارې په هيڅ حالت کې د هغې کميټې د پريکړو د مخ نيوى حق نه لري.

**۴۸ چوکاټ:**

## پارلمان ته د اسنادو او رپوټونو پر بربنډولو باندې محدوديت( آستراليا)

د څارنې کميټه پارلمان ته په خپل رپوټ کې د دغو لاندو ادارو په چارو کې د معلوماتو له ورکولو څخه مخ نيوى وکړي:
الف ـ د هغه يو سړي هويت چې د آستراليا د امنيتي او استخباراتي ادارې (ASIO)، د آستراليا د استخباراتي خدماتو (ASIO) کار کونکې او يا د هغو ادارو او يا د دفاعي زيګنالونو د ادارې (DSD) مخبر وي؛
ب ـ هغه معلومات چې له هغو څخه د يو وګړي هويت بربنډيږي؛
ج ـ حساس اپراتيفي معلومات يا هغه معلومات چې د دغو لاندو ادارو په هکله د مخکې له مخکې قضاوت لامل وګرځي:
۱ـ د آستراليا ملي امنيت يا د آستراليا د بهرنيو اړيکو مشرى؛
۲ـ د يوې ادارې د دندو اجراآت
سرچينه: د استخباراتي خدماتو قانون، ۲۰۰۱، لومړى برخه، ۷،۱ بند.

له ټولو څخه غوره چالچلند هغه دى چې د معلوماتو د خپرولو په برخه کې حکومت د ويتو يا فسخه کولو حق ونه لري. خو په هغو دولتونو کې چې حکومت ته د ويتو حق ورکړاى شوى دى، بايد د قانون له نظره روښانه کړاى شي چې د هغه يو رپوټ څخه چې د خپرولو لپاره چمتو کړاى شوى دى، کوم مسايل ليرې کړاى شي او د ليرې کولو لپاره هم بايد قانوني دليل موجود وي. دا کار د يوې پارلماني پروسې له لارې د يوې ژورې سياسي ارزونې لپاره لاره اواروي.

## غوره چالچلند

- د څارنې د پارلماني کميټې د رپوټ ورکونې او د هغه د څرنګوالي مسؤليت او د شواهدو د خپرولو لپاره پريکړه بايد د هغې کميټې خپل صلاحيت وي؛
- هغه کميټه لږ ترلږه په کال کې يو ځل او يا څو ځلې، تر کومه ځايه چې ورته اړتيا وي، پارلمان ته خپل رپوټ وړاندې کوي؛
- دا د څارنې د پارلماني کميټې خپل واک او اختيار دى چې د امنيتي دلايلو له امله پريکړه وکړي چې يو رپوټ په بشپړه او يا يوه برخه يې په عامه توګه خپور شي که نه.
- له خپريدو څخه مخکې بايد د هغه رپوټ يوه مسوده حکومت او استخباراتي ادارو ته وسپارل شي چې ضروري حذفوني په کې وشي.

# شلم فصل

# د بودجې کنترول

د بودجې کنترول د پارلماني څارنې په زړه کې ځای لري. ډېرو هيوادنو د بودجې د ارزونې او پريکړې لپاره منظمې او سيستماتيکې لارې جوړې کړې دي او يا يې جوړوي. په هر هيواد کې، پارلمان د امنيتي او استخبارتي خدماتو لپاره بيلابيل بودجوي او محاسبوي لارې چارې لري، د بيلګې په توګه په دې اړه کيدای شي چې له دغو دندو څخه نوم واخيستل شي: د بودجې د کنترول حدود، د بودجې د تعديل صلاحيت، د اضافي بودجې د غوښتنې د تصويب صلاحيت، پټو معلوماتو ته لاس اوږدونه ( ۱۸ فصل دې وکتل شي) او د خپلواک ملي څارونکو ټاکل. څومره چې په دې برخه کې پارلماني صلاحيتونه زيات وي، هومره له حکومت سره د شخړې ايزو بحثونو امکان زياتيږي. دمالي صلاحيتونو په پام کې نيونې سره د بودجوي او مالي مسايلو د کنترول لپاره درې ډوله پارلمانونه وجود لري:

- **د بودجې جوړونې پارلمانونه:** دغه ډول پا رلمانونه صلاحيت لري چې د استخباراتي او امنيتي ادارو لپاره وړاندې شوې بودجه تعديل او يا رده کړي او حتی صلاحيت لري چې خپل يو بديل وړانديز وکړي؛
- **په بودجه کې د لاس وهنې حق لرونکي پارلمانونه:** دغه ډول پارلمانونه يوازې د بودجې د تعديل او يا ردولو صلاحيت لري خو د بديل بودجې د وړانديز واک نه لري؛
- **د بودجوی محدود يا نه صلاحيت لرونکي پارلمانونه:** دغه ډول پارلمانونه د بودجې په برخه کې نه د تعديل او نه د ردولو او نه د يو بديل وړانديز صلاحيت لري، هغه يوازې د حکومت د وړاندې شوې بودجې په منلو پورې تړلي دي.[22]

دا هغه ډيرې لږې غوښتنې دي چې پارلمان بايد به بودجوی مسايلو کې د لاس وهنې حق ولري، ځکه استخباراتي خدمات د خلکو د ماليې د پيسو له لارې تمويليږي. د دې مسألې په پام کې نيونې سره د نړۍ پارلمانونه هڅه کوي چې د امنيتي او استخباراتي ادارو په بودجوي او محاسباتي پروسه کې نقش ولري.

هغه مالي صلاحيتونه چې د پارلمان له خوا ترې کار اخيستل کيږي، بايد په دو برخو کې وڅيړل شي ـ لومړی د بودجې د ټولې پروسې په سطح کې او دوهم د حکومت د خاصو فعاليتونو لپاره د ټاکل شوي پارلماني څارونکي ارګان په سطح کې.

## د بودجې پروسه

پارلمان کولای شي چې د بودجوي پروسې په ټولو پړوانو کې د امنيتي او استخباراتي خدماتو پورې اړوندو موضوعاتو ته پاملرنه وکړي، د بودجوي پروسې لپاره ډيرو هيوادنو يو بودجوی پلان، پروګرام او سيستم جوړ کړی دی:[23]

### د بودجې چمتوالی:

په عمومي توګه په دغه پړاو کې اجرائيه د مختلفو مقصدونو لپاره يوه اندازه پيسې ځانګړې کوي، خو پارلمان او د هغه غړی کولای شي چې له بيلابيلو لارو په رسمي او غير رسمي توګه په دغې پروسې کې ونډه واخلي.

**د بودجی تصویب:**

په دغه پړاو کی پارلمان باید د خلکو د ګټو په پام کی نیونی سره، تخصیص شوی پیسی تر غور لاندی ونیسی او هم کولای شی چی په ځینو حالتونو کی د امنیتی مسایلو په پام کی نیونی سره بودجی سره ځانګړی لارښوونی ونښلوی. د دغو ځانګړو لارښونو ښه مثال د امریکا متحده ایلاتو په کانګرس کی میندلی شی، څرنګه چی کانګرس د استخباراتی ادارو د مالی چارو حدود ( د څیرونو او دعملیاتو د ودی په شمول) او په مالی کال کی د استخباراتی ادارو د کار کونکو شمیرچی باید استخدام شی، ټاکی.[24]

**اجرآت او لګښت:**

په دغه پړاو کی پارلمان د حکومت لګښت تر غور او څارنی لاندی نیسی او ښایی هم هڅه وکړی چی روښانتوب (شفافیت) او حساب ورکونه پیاوړی کړی. همدا راز په دی پړاو کی پارلمان د اضافی بودجی لپاره غوښتنه تر غور او څیړنی لاندی نیسی ترڅو د بی ځایو لګښتونو مخه ونیوله شی. په ځینو هیوادونو، لکه امریکا متحده یالاتو کی، که چیری د استخباراتی ټولنی یو کار کونکی له یوه جاری حساب څخه بل ته پیسی لیږدولی کیږی، د کانګرس د استخباراتی څارنی کمیتی او د هغو فرعی کمیتی باید خبر کړای شی.[25]

**څارنه او کتنه:**

په دی پړاو ګی پارلمان ګوری چی آیا له تخْصص کړای شوو پیسو څخه ناوړه استفاده شوی ده که نه. سر بیره پر دی پارلمان وخت په وخت ټوله بودجه تر کتنی او ارزونی لاندی نیسی ترڅو حساب ورکونه، اغیزمنتوب او ځیرتیا تأمین شی. د څارنی د څانګو نقش په ۲۳ فصل کی بیان شوی دی.

**د بودجی کنترول او د پارلمانی څارنی د ارګان واک او اختیار**

د بودجی کنترول باید پراستخباراتو باندی د پارلمانی څارنی د صلاحیت په چوکاټ ګی څرګندتوب ولری. په ځینو هیوادونو کی دغه ارګان د خلکو د غږ د یوی مرجعی په توګه له پریکړنو ملی صلاحیتونو څخه برخه من دی. په ځینو نورو هیوادونو، لکه ناروی کی، د پارلمان له پریکړی سره سم، مالی صلاحیت د څارنی کمیتی ته( یا یوی خپلواکی کار پوه ډلی ته) نه دی سپارل شوی، بلکه هغه د پارلمان عمومی غونډی یا یوی پارلمانی کمیتی ته ورکړ شوی دی. په دی هکله استدلال داسی کیږی چی که چیری د بودجی د کنترول دنده د څارنی کمیتی ته ورکړ شوی وای، نو په دی صورت کی نوموړی کمیته د حکومت د پالیسی په مسؤلیت کی شریک ګڼل کیده. نو په ناروی کی دا لاره غوره ګڼله شوی چی د پارلمان د څارنی کمیته یوائی په دی هکله پاملرنه وکړی چی آیا استخباراتی او امنیتی اداری په مالی مسایلو کی له قانون سره عمل کړی او آیا بشری حققوقو ته یی درناوی کړی که نه. په همدی وجه هغی کمیتی د بودجی کنترول د پارلمان نورو ارګانونو ته پریښی دی. له دا ډول یو چالچلند سره د پارلمان د استخباراتی څارنی کمیته د استخباراتی ادارو د کنترول او څارنی په مسایلو کی کولای شی چی خپل خپلواکتوب وساتی.

خو په څینو نورو پارلمانونو، لکه ارجنتاین، هالند، آلمان او متحده ایالاتو کی د پارلمان د څارنی کمیته مالی صلاحیتونه هم لری چی له هغو څخه په کار اخیستو سره د استخباراتی او امنیتی ادارو د مالی لګښت په څرنګوالی کی د پارلمان لپاره د کتنی لاره اواروی. د زیاتی پاملرنی لپاره په ځینو هیوادونو لکه متحده ایالاتو او آلمان کی مالی صلاحیتونه د بودجی اود څارنی د کمیتو تر مینځ ویشل شوی دی.

د بودجی کمیته خپله زیاته پاملرنه د بودجی تخصیص او د څارنی کمیته د امنیتی او استخباراتی ادارو د پالیسیو او د منل شوی بودجی مسایلو ته پاملرنه کوی.

۴۹ چوکات په دی اړه د آلمان چالچلند تشریح کوی.

**۴۹ چوکاټ:**
## د آلمان د پارلمانی څارنی د جرګه ګی له خوا د مالی چارو څارنه

۲ـ دال ـ برخه
۱ـ رئیس، د هغه مرستیال او یو صلاحیت لرونکی غړی کولای شی چی د محرم کمیتی په غونډو کی ( د دغی کمیتی په غړو کی دپارلمان د بودجوی چارو لپاره ټاکله شوی کمیته هم شامله ده) چی د دفدرال د بودجی د قانون د لسمی الف برخی سره سم عمل کوی، د یو مشورتی اړخ په توګه برخه واخلی. همداراز رئیس، د هغه مرستیال او یو صلاحیت لرونکی غړی کولای شی چی د مشورتی اړخ په توګه د پارلمان د څارنی د جرګه ګی په غونډو کی ګډون وکړی.

۲ـ د هغو ادارو د کلنی اقتصادی پلانونو یوه مسوده د پارلمانی څارنی جرګه ګی ته د غور لپاره استول کیږی. د فدرال حکومت د بودجوی کال په موده کی د هغو پلانونو د تطبیق په اړه د پارلمانی څارنی د جرګه ګی ته معلومات ورکوی. د هغو ادارو د اقتصادی پلانونو او د هغو د تطبیق پر سر په بحثونو کی د دواړو جرګه ګیو غړی د یو بل په غونډو کی د مشورتی اړخ په توګه ګډون وکړی.

سرچینه: د پارلمانی څارنی او استخباراتی فعالیتونو په هکله د قانون سند، آلمان د ۱۹۷۸ کال د اپریل میاشت ( په ۱۹۹۲ او ۱۹۹۹ کلونو تعدیل)

د آلمان د پارلمانی څارنی د جرګه ګی (PKGr) د قانون د ۲ـ دال ـ برخی د ۲ پارګراف له مخی د استخباراتی ادارو د کلنی بودجی یوه مسوده د مشوری لپاره هغی جرګه ګی ته ورکوله کیږی. خو دغه مشوره په دی معنی نه ده چی د څارنی کمیته پر مسودی باندی هغسی غور کوی لکه چی د بودجی کمیته یی کوی. د دی پر ځای، د څارنی کمیته د استخباراتی ادارو عمومی فعالیتونه د بودجی او عمومی معلوماتو پر بنسټ (د ادارو جوړښت، د کارکونکو شمیر،د هغو ادارو پروژی او فعالیتونه) تر سیاسی ارزونی لاندی نیسی. د مشورو له بشپړیدو څخه وروسته د پارلمان ټاکل شوی محرم کمیتی غونډی ته یوه ارزونه وړاندی کیږی، دغه کمیته د بودجی پر مسودی باندی کتنه کوی. دفدرال حکومت همدا راز د پارلمان د څارنی جرګه ګی بودجوی کال د بودجوی چالچلند څخه خبروی.[26]

**روښانتیا ( شفافیت) او حساب ورکونه**

د بودجی په چارو کی روښانیتا او حساب ورکونه له مهمو او بنسټیزو مسایلو څخه شمیرل کیږی. د بودجی د جوړونی یوه روښانه پروسه د حساب ورکونی لپاره ډیره ښه لاره ده. د یوی بودجی په جوړونه کی د یوی رښتینی حساب ورکونی او روښانتیا لپاره باید دغه لاندی اصول په پام کی ونیول شی:[27]

**ړومبی صلاحیت:**
پارلمان باید د لګښت د ټاکلو لپاره اجرائیی ته صلاحیت ورکړی.

**وحدت:**
ټول لګښت او عايد بايد د بودجې په يو واحد سند کې پارلمان ته وړاندې شي.

**تنظيم:**
انتظار کيږي چې د اجرائيي له خوا پارلمان ته د بودجې د وړاندې کولو لپاره ( د مثال په توګه د هر پنځو کلونو پر ځای) په منظمه توګه يو زماني چوکاټ مراعات کړي. همدا راز د تخصيص شوو پيسو د لګښت لپاره بايد يو منظم زماني چوکاټ وټاکل شي.

**خصوصيت:**
د بودجې د هر قلم شمير او مشخصات بايد د حکومت لګښتونو ته د يوې کتنې سره روښانه کړای شي. معنی دا چې د بودجې د هر قلم مشخصات بايد تت او مبهم نه وي او يو قلم پورې اړوند لګښت بايد له غوښتل شوې بودجې څخه ډير زيات نه وي. که چيرې پارلمان ته د امنيتي او استخباراتي ادارو بودجه يواځې په ټوليزه توګه وړاندې شي، د دې انديښنه شته چې د خصوصيت له اصل څخه سرغړونه وشي.

**قانونيت:**
ټول لګښتونه او فعاليتونه بايد له قانون سره سم سمون ولري. د دې مسألې په پام کې نيونې سره هغه اداری اجازه نلري چې د دولت له بودجې څخه بهر پيسې وګټي ( مثلا د تجارتي فعاليتونو له لارې)

**لاس رسيدنه:**
انتظار کيږي چې اجرائيه د لګښت يو اټکلي پلان د پارلمان په اختيار کې کيږدي، دغه پلان بايد په پارلمان کې د ټولو غړو لپاره د پوهيدو وړ وي.

**بشپړتوب:**
د دولت بودجه چې د امنيتي او استخباراتي ادارو مختلفو اړخونو پورې اړه لري، بايد بشپړه او هراړخيزه وي. هيڅ لګښت بايد له حساب ورکونې څخه پاتې نه شي. د دې مسألې په پام کې نيونې سره «تور پروګرامونه» يا پټه بودجه چې د پارلمان د څارنې کميټې غړو ته يې جزئيات څرګند نه دي، په حقيقت کې له ياد شوي اصل څخه سرغړونه ده. د پارلمان د څارنې د کميټې او د بودجې د کميټې غړي بايد ټولو پټو معلومات ته لاس ورسيږي. د هنګرۍ د قانون ۱۴ برخه ۴.۹ پارګراف د بودجې د کنترول څرنګوالی او قانونيت تشريح کوي.

**۵۰ چوکاټ**

## د پارلمان له خوا د بودجې هراړخيز کنترول (هنګرۍ)

د کنترول کميټه، په داسې حال کې چې پارلماني کنترول سرته رسوي، د ملي امنيت د خدماتو د بشپړې بودجې د مسودې، د استخباراتي معلوماتو د راټولولو لپاره د ګمارل شوو سازمانونو د بودجې په هکله او همداراز د کلني بودجې دپلې کيدو د رپوټ په هکله خپل نظر څرګندوي او هم پارلمان ته د تصويب لپاره د وړاندې شوې مسودې په هکله خپل وړانديزونه څرګندوي (...)
سرچينه:د هنګرۍ د ملي امنيت د ۱۹۹۵ کال د قانون ۱۴ ماده ، g۴

**جوړښت:**
د پالیسیو، پلانونو، بودجی، لګښت او د لاس ته راغلی نتیجی تر مینځ باید جوړښت او اړیکه موجود وی.

**اغیزمنتوب:**
د بودجی شرح باید د بودجی هر برخه د لاندو ټکو په پام کی نیونی سره روښانه کړی:
الف ـ په کار اچول شوی امکانات، ب ـ اجراآت او لاس ته راغلی هدفونه، ج ـ د پروګرامونو د اټکل وړ نتایج. د تعدیل وړ یوه بودجه باید په دغو دری واړو یاد شوو حالاتو کی د بدلون اجازه ورکړی.

دغه اصول په عصری بودجی جوړونی کی باید د کیفیت د معیار په توګه په پام کی ونیول شی. دغه اصول غوښتنه کوی چی د غوري واکمني ( د دی کتاب سرایزی ته دی مراجعه وشی) اصول څرنګه چی د حکومت په نورو برخو کی د پلی کیدو وړ دی و باید د امنیتی او استخباراتی ادارو په برخه کی هم وی. استثنا ، مثلا د محرمیت له لحاظه، باید په قانونی توګه محدود وی.

که چیری د پارلمان غړی د امنیت په برخه کی مناسب معلومات په اختیار کی ونه لری، هغوی نه شی کولای چی د هغو ادارو د بودجی په موضوعاتو باندی خبر وکړی. په دی هکله ، لکه د دولت په نور برخو کی ساتونکی احکام باید وضع شی ترڅو د پټو معلوماتو د بربنډیو مخه ونیوله شی. پټو معلوماتو ته د پارلمانی غړو د لاس رسیدو په هکله په ۱۸ فصل کی بحث وشوو. بودجوی معلوماتو ته د عامو خلکو لاس رسیدو په هکله په ځینو هیوادونو کی لاری چاری میندلی شوی دی چی عام خلک کولای شی چی امنیتی او استخباراتی ادارو د بودجو په هکله معلومات لاس ته راوړی. په دی اړه بریتانیا ډیر ښه مثال دئ. [28]

## غوره چالچلند

- د څارنی ارګان باید ټولو بودجوی اسنادو ته لاس ورسیږی، البته په دی شرط چی داسی احکام وضع کړای شی چی د پټو معلوماتو د بربنډیو مخه ونیسی؛
- د استخباراتی او امنیتی ادارو پر بودجوی څارنی بادی هغسی اصول واکمن وی چی د حکومت پر نورو فعالیتونو باندی دی. په دی اړه استثنا باید د قانون له مخی روښانه کړای شی. له دی امله د بودجی د څارنی صلاحیت باید د استخباراتو د اختصاصی او څارنی کمیتو تر مینځ په ګډه توګه د عمل جامه واغوندی؛
- قدرت لرونکی پارلمانونه باید د بودجی د تصمیم نیونی حق ولری؛
- استخباراتی اداری باید له بودجی څخه یوازې د هغو فعالیتونو لپاره کار واخلی د قانون ارګان اجازه ورکوی،
- استخباراتی اداری باید اجازه ورنه کړی چی د تقنینی ارګان له اجازی پرته له هغو ادارو څخه پیسی بهر انتقال شی.

# د څلورمی برخی لمن لیکونه ـ د پارلمان نقش

1. دغه متن د لاندی رسالو پر بنسټ لیکل شوی دئ:
The following text is based on Leigh, I., 'Three Decades of Oversight', in Born, H Johnson, L., Leigh, I. (eds.), Who's Watching the Spies? Establishing Intelligence Service Accountability, (Dulles, VA: Potomac Books, Inc., 2005).

2. ځینو هیوادونوو لکه د امریکا متحده ایالاتو، آلمان او هالند د ۱۹۷۰ لسیزی له نیمایی څخه مخکی د خپلی پارلمانی څارنو اصول او قوانین جوړ کړی دی.
Some countries have institutionalised and legalised parliamentary oversight before the mid 1970s, such as the US, Germany and the Netherlands.

3. د آسترالیا د امنیتی سازمان د ۱۹۷۹ کال د قانون سند اود کانادا د امنیتی استخباراتو د ۱۹۸۴ کال د قانون سند:
Australian Security Intelligence Organisation Act 1979 (Cth) and Canadian Security Intelligence Service Act 1984, respectvely. Lustgarten, L, Leigh, I., In from the Cold: National Security and Parliamentary Democracy (Oxford: Clarendon Press, 1994.(

4. د پرتله کونکی کتنی لپاره دی دغه لاندی سرچینی وکتلی شی:
For other comparative reviews see: Brodeur, J-P., Gill, P., Töllborg, D., Democracy, Law and Security: Internal Security Services in Contemporary Europe (Aldershot: Ashgate, 2003); Assembly of the WEU, Parliamentary oversight of the intelligence services in the WEU countries – current situation and prospects for reform (Document A/1801, 4 December2002);<http://assemblyweu.itnetwork.fr/en/documents/sessions_ordinaires/rpt/2002/1801.html

5. د اروپا شورا، پارلمانی مجمع، ۱۹۹۹ کال ۱۴۰۲ شمیره سپارښتنه، دلویدیځی اروپا د یو والی مجمع، ۱۱۳ پریکړه، د ۲۰۰۲ کال د دسمبر د ۴ طرحه ( نهمه غونډه)
Council of Europe, Parliamentary Assembly, Recommendation 1402/1999; Western European Union Assembly, Resolution 113, adopted on 4 December 2002 (9th sitting.

6. د ۲۰۰۱ کال د استخباراتی خدماتو د قانون سند، شمیره ۱۵۲و ۲۰۰۱ کال، ۲۸ او ۲۹ برخی (د آسترالیا د امنیتی استخباراتی سازمان ASIO کمیته، د آسترالیا د پټو استخباراتو اداره ASIA او د آسترالیا د دفاعی زیګنالونو اداره DSD). په خاصه توګه په پام کی ولری: ۳۰ برخه
Intelligence Services Act 2001 No. 152, 2001,Sections 28 and 29 (Committee on ASIO, ASIS and DSD). Note in particular: Section 30.

۳. دغه لاندی چاری د کمیتی په دندو کی شاملی نه دی:

3The functions of the Committee do not include:

الف ـ د آسترالیا د استخباراتی سازمانونو د استخباراتی غونډو په ړومبنیو مسایلو باندی کتنه...

(a) reviewing the intelligence gathering priorities of ASIO, ASIS or DSD; or

ب - د معلوماتو پر سر چینو او عملیاتی مرستو یا عملیاتی متدونو کتنه چی د ASIO, ASIS، DSDپه اختیار کی دی

(b) reviewing the sources of information, other operational assistance or operational methods available to ASIO, ASIS or DSD; or

ج - د ځانګړو عملیاتوچی د ASIO, ASIS،DSD له خوایی وړاندیز شوی غور او کتنه

(c) reviewing particular operations that have been, are being or are proposed to be undertaken by ASIO, ASIS or DSD; or

دال - د هغو معلوماتو په هکله چی د یوی اداری یا بهرنی حکومت له خوا ورکړ شوی خو د بربنډیدو اجازه یی نه شته غور او کتنه؛

(d) reviewing information provided by, or by an agency of, a foreign government where that government does not consent to the disclosure of the information; or

هـ - د ASIO, ASIS ،DSD د فعالیتونو په یوی برخی چی د یو آسترالیایی وګړی په ژوند باندی اغیزه لری غور او کتنه؛

(e) reviewing an aspect of the activities of ASIO, ASIS or DSD that does not affect an Australian person; or

و - د دی سند د ۱۵ برخی لاندی پر احکامو باندی غور او کتنه؛

(f) reviewing the rules made under section 15 of this Act; or

ز - د آسترالیا د استخباراتی سازمانونو په هکله د فردی شکایتونو په اړه پوښتنی او ګرویځنی. ASIO, ASIS ،DSD.

(g) conducting inquiries into individual complaints about the activities of ASIO, ASIS or DSD.

د استخباراتی خدماتو د ۱۹۹۴ کال د قانون سند، ۱۰ پانه ( بریتانیا) د قانونی صلاحیت لرونکی امنیتی او استخباراتی کمیتی جوړول په لاندی مسایل: د پالیسیو په هکله تحقیقات، د (M15 ) د امنیتی اداری د مالی چارو څانګه، د پټو استخباراتی خدماتو (M16) او حکومتی مخابراتی چارو مقرGCHQ

Intelligence Services Act 1994, s. 10 (UK) establishing the Intelligence and Security Committee with jurisdiction to investigate the policy, administration and finance of the Security service (MI5), the Secret Intelligence Service (MI6) and GCHQ .

7. د آلمان پارلمان، د پارلمانی کمیسیون دارلانشاء، په آلمان کی د پارلمان له خوا د استخبارتی ادارو کنترول.

German Bundestag, Secretariat of the Parliamentary Control Commission, Parliamentary Control of the Intelligence Services in Germany. (Berlin: Bundespresseamt, 2001)

8. که څه هم پر امنیتی استخباراتو باندی د کتنی یوه کمیته ( دغه کمیته له پټو مشاورینو څخه جوړه شوی وه) د کانادا د ۱۹۸۴ کال د امینتی استخباراتی خدماتو د قانون له مخی جوړه شوه، تر ۲۰۰۴ کال پوری د کانادا پارلمان د څارنی کمیته نه درلوده ، پریکړه وشوه چی ډیر ژر د پارلمان د څارنی کمیته جوړه شی:

Until 2004 there was no oversight committee in the Canadian Parliament although the Security Intelligence Review Committee (a statutory body composed of Privy Counsellors) was established under the Canadian Security Intelligence Service Act 1984. A parliamentary oversight committee is soon to be established: see Farson, S., 'The Delicate Balance Revisited: Parliamentary Democracy, Intelligence, and the War against Terrorism in Canada', in: Born, H. et al, Who's Watching .

9. د استخباراتی خدماتو د ۱۹۹۴ کال د قانون سند ۱۰برخه

Intelligence Services Act 1994, s. 10.

10. د استخباراتی خدماتو د ۲۰۰۱ کال د قانون د سند ۱۴ برخه. صدراعظم باید له نومونی څخه مخکی په پارلمان کی د نورو گوندونو له مشرانو سره مشوره وکړی.

Intelligence Services Act 2001, s. 14. The Prime Minister is required to consult the leaders of all other parliamentary parties before making the nominations: s. 14(2).

11 .د فدرال د استخباراتی خدماتو،PKGrG، د فعالیتونو د پارلمانی کنترول لپاره قانون (په ۱۹۷۸،۱۹۹۲ او ۲۰۰۱ کلونو کی تعدیلات). د PKGrG د قانون له مخی د آلمان پارلمان د خپل کار د هری دوری په پیل کی د پارلمانی جرگه گی، PKGr، غړی د پارلمان له له غړو څخه ټاکی او د ټاکل شوی قانون له مخی د PKGr د شمیراو جوړښت او د هغه د کار څرنگوالی د یوی پریکړی له لاری طرحه کیږی.

جوړښت: د پارلمان کمیسیون د ۱۹۹۵ کال د مقرراتو تعدیل سره د هغی کمیتی شمیر ۹ ته لوړ کړای شوو. د هر غړی انتخاب باید د آلمان د پارلمان له اکثریت ملاتړ څخه برخمن وی.

Law on the Parliamentary Control of Activities of the Federal Intelligence Services (PKGrG) (1978; 1992, 1999 and 2001 amended version). The PKGrG stipulates that at the beginning of each legislative period the German Bundestag shall elect the members of the PKGr from amongst its midst (§4 para 1 PKGrG), and that the number of the PKGr's members, its composition and its working practices shall be laid down in a resolution of establishment (§4 para 2).

Composition: The amendment of the Parliamentary Commission Regulation Act (1995) increased the number of members to nine. To get elected, each member of the PKGr needs the support of a majority of members of the Bundestag (§4 para 3 PKGrG).

12.د استخباراتی او امنیتی خدماتو د څارنی او مراقبت لپاره ( د ناروی د پارلمان د استخباراتی څارنی کمیته ، EOS ), ۱۹۹۵، لومړی برخه:

کمیته د رئیس او مرستیال په گډون ۷ غړی لری چی هر یو یی د پارلمان، Storting، په سپارښتنه د پارلمان له خوا د ۵ کلونو لپاره ټاکل کیږی . په یوه وخت کی له څلور څخه د زیاتو غړو د بدلو د مخ نیوی لپاره باید ځینی اقدامات لاس لاندی ونیول شی."

Instructions for Monitoring of Intelligence, Surveillance and Security Services (EOS), 1995, Section 1 .

'The Committee shall have seven members including the chairman and vice-chairman, all elected by the Storting, on the recommendation of Presidium of the Storting, for a period of a maximum of five years. Steps should be taken to avoid replacing more than four members at the same time'.

13. د بیلگی په توگه د آسترالیا د استخباراتی خدماتو د ۲۰۰۱ کال د قانون سند د یوکتل شی.

For example, see Intelligence Services Act 2001, s. 16 (Australia).

14. د آسترالیا استخباراتی خدماتو د ۲۰۰۱ مال د قانون سند، ۱۴ (۵) برخه؛

Intelligence Services Act 2001, s. 14(5) (Australia;(

15. د بیلگی په توگه د آسترالیا د استخباراتی خدماتو د ۲۰۰۱ کال د قانون د سند ۱۴(۶) دی وکتل شی.؛

For examples see Intelligence Services Act 2001, s. 14(6) (Australia) ;

16. د بیلگی په توگه د آسترالیا د استخباراتی خدماتو د ۲۰۰۱ کال د قانون د سند ۱۴ (۶) دی وکتل شی.

See for example Intelligence Services Act 2001, s. 15(1) (Australia;(

17.د بیلگی په توگه، د اسنادو د لاس ته راوړلو لپاره، د آسترالیا د استخباراتی خدماتو د ۲۰۰۱ کال د قانون سند، ۳۰ پانه ، ۲ (۴)

For examples of powers to obtain documents see Intelligence Services Act 2001, s. 30.2; (4) (Australia).

18. د آسترالیا د استخباراتی خدماتو د قانون سند، ۲۰۰۱؛ ددغه قانون له مخی هغه معلومات چی د آسترالیا ملی امنیت او یا د هغه هیواد بهرنیو اړیکو چالچلند ته ښایی تاوان ورسوی، باید بربنډ نه شی.

Intelligence Services Act 2001, s. 30 (Australia); nor must it require to be disclosed ‘information that would or might prejudice Australia’s national security or the conduct of Australia’s foreign relations.’

د دغه قانون د ۲۹ برخی له مخی « اپراتیفی حساس معلومات عبارت دی له:

Under Section 29 of same Act: ‘operationally sensitive information’ means information:

الف ـ د معلوماتو سر چینی ، نور اپراتیفی وسایل یا عملیاتی متودونه چی دASIO, ASIS DSD په اختیار کی دی؛

(a) about sources of information, other operational assistance or operational methods available to ASIO, ASIS or DSD; or

ب ـ خاص عملیات چی د ASIO, ASIS، DSD له خوا یی وړاندیز کیږی او یا سرته رسول کیږی ؛

(b) about particular operations that have been, are being or are proposed to be undertaken by ASIO, ASIS or DSD; or

ج ـ هغه معلومات چی د یوی اداری یا بهرنی حکومت له خوا ورکول کیږی او د هغو د عام بربنډولو اجازه یی نه ده ورکړی؛

(c) provided by, or by an agency of, a foreign government where that government does not consent to the public disclosure of the information.

د یوی موضوع په هکله د کتنی لپاره له مسؤل وزیر څخه مقصد د هغی موضوع پوری د اړوندی اداری د مسؤل وزیردئ.

‘ responsible minister’, in relation to the review of a matter, means the minister responsible for the agency concerned in relation to that matter.

19. د استخباراتی خدماتو د ۲۰۰۱ کال قانون، ۳۲ برخه ( آسترالیا). دغه سندونه په محکمه کی تر پوښتنی لاندی نیول کیدای نه شی، خو په پارلمان کی باید پری کتنه وشی. سره له دی دغه

قانون د څارنې صلاحیتونه محدودوی او همدا راز اجازه نه ورکوی چې په سیاسی صحنه کې تر بحث لاندې ونیول شی.

Intelligence Services Act 2001, s. 32 (Australia). These certificates cannot be challenged in court but must be deposited in Parliament. Although this restricts the powers of the oversight body it also places the refusal of

information firmly into the political arena, where it can be justified or challenged.

20. د متحده ایالاتو د مقرراتو ۴۱۳ برخه. د کانګرس له خوا د عمومی څارنې احکام، دال.

United States Code Section 413. General Congressional Oversight Provisions, (d) .

21. د ناروی د امنیتی او استخباراتی خدماتو د څارنې او مراقبت پورې اړوند قانون، ۱۹۹۵، ۸ برخه، له پارلمانی کمیتې او دهغې له دارلانشاء څخه غواړی چې د محرمو اسناد د ساتنې او له هغو څخه د کار اخیستو مقررات مراعات کړی.

The Act relating to the Monitoring of Intelligence, Surveillance and Security Services, 1995, Section 9, (Norway) requiring the Committee and its secretariat to observe a duty of secrecy and comply with regulations for the handling of documents.

22. د Norton, P لیکنه ....

Adapted from Norton, P., Does Parliament Matter?, (New York: Harvester (Wheatsheaf, 1993

23. د ښاغلو .... لیکنې

Born, H., Fluri, Ph., Johnsson, A. (eds.), Parliamentary Oversight of the Security Sector: Principles, Mechanisms and Practices (Handbook Nr. 5 for Parliamentarians), (Geneva: IPU-DCAF), p. 130.

24. د ۲۰۰۴ کال لپاره د استخباراتی اختیاراتو د قانون سند، ۱۰۲ برخه

Intelligence Authorisation Act for Fiscal Year 2004 , Sec. 102 .

25. د متحده ایالاتو د قوانینو ۴۱۴ او ۴۱۵ برخې دی وکتل شی.

See eg section 414 and 415 of the US Code.

26. د آلمان پارلمان، د پارلمانی کنترل د کمیسیون دارلانشاء (PKGr)، په آلمان کې د استخباراتی خدماتو پارلمانی کنترول، جولای ۲۰۰۱

German Bundestag, Secretariat of the Parliamentary Control Commission (PKGr), Parliamentary Control of the Intelligence Services in Germany, July 2001.

27. د ښاغلی هانس بورن د پارلمانی څارنې لیکنه .......ړ

Born, H. et al., Parliamentary Oversight, pp. 131-132.

28.د ۲۰۰۴ کال د اختصاصی قانون سند، ۹ فصل، ۲ چوکاټ، ۴۸ برخه:

Appropriation Act 2004, Chapter 9, Schedule 2, Part 48 ‘Security and Intelligence Agencies, available at:
<http://www.legislation.hmso.gov.uk/acts/acts2004/40009-az.htm#sch2pt48>

## پنځمه برخه

# د پلټنې د بهرنيو ارګانونو نقش

## يو ويشتم فصل

# د وګړو شکايتونو ته د حل لاره ميندل

امنيتی او استخباراتی اداری اکثره له ځانګړو صلاحيتونو څخه برخمه من دی، لکه څارنه او امنيتی تصفيه. که چيری له دغو صلاحيتونوڅخه ناوړه يا غلطه استفاده وشی، نو ښايـی چی فردی حقوق سخت تاوانی کړی. نو په دی وجه هغه کسان چی فکر کوی چی د هغوی په برخه کی بيعدالتی شوی ده د هغوی پر مخ بايد داسی لاری پرانيستی وی چی وکړای شی خپل اعتراضونه او شکايتونه عنوان کړی. د بيلګی په توګه هغه کسان چی فکر کوی چی د هغوی شخصی ژوند يا د هغوی کسب او دندی ته تاوان اوښتی دئ. سربيره پر دی لکه د دولت په نورو ارګانونو کی، په يوی استخباراتی يا امنيتی اداری کی هم داسی امکانات بايد موجود وی چی د اعتراضونو او شکايتونو له لاری د هغو ادارو غلطيو ته ګوته ونيوله شی او اړوند چاروکی د هغو په اصلاح لاس پوری کړی. خو دا چی استخباراتی فعاليتونه اکثرا په پټه توګه سرته رسول کيږی او له هغو ادارو څخه د دی قانونی خنډ ګواکی حساس معلومات بايد بربنډ نه شی، د اسناد او شواهدو لاس ته راوړل ګران دی، نو په عادی محکمو کی د هغو ادارو د سرغړونو پلټل چندان اغيزمن کار نه دی. له بلی خوا دا هم بايد يقينی کړای شی چی د اعتراض او شکايت په پلمه د هغو ادارو د کار د څرنګوالی په هکله د معلوماتو لاس ته راوړل مقصد نه دی. شکايتونو ته د غوږ نيونی او د هغو د حل کولو په سيستم کی د ناپلتوب، قدرت او عدالت او امنيتی حساسيتونو د خوندی ساتنی تر مينځ د انډول ساتل يو ستره ننګونه ده ، خو دا نا شونی کار هم نه دئ.

له دوو مختلفو لارو کيدای شی چی شکايتونو ته د حل لاره وميندله شی:

- غير قضايی لاره ( خپلواک پلټونکی او يا پارلمانی کميتی)
- قضايی لاره ( محکمی او تريبونالونه)

## له قضايی لاری شکايتونو ته د حل لار ميندل

د څارنی مختلف ارګانونه له مختلفو لارو شکايتونو ته غوږ نيسی. يو خپلواک ارګان، مثلا ناپلوئ ريوټ ورکونکی يا پلټونکی کولای شی چی له داسی صلاحيتونو څخه برخه من وی چی دهغو له مخی وکړای شی د يوی امنيتی اداری په هکله پلټنی وکړی او په دی اړه يو ريوټ چمتو کړی ( دغسی يو چالچلند په هالند کی شته دی، ۵۱ چوکاټ دی وکتل شی). په ځينو نورو هيوادونو کی د استخباراتی او امنيتی چارو کی يو خپلواک عمومی پلټونکی دنده لری چی د هغو ادارو په هکله شکايتونو او اعتراضونو ته غوږ ونيسی او هغو ته ځوابونه پيدا کړی ( ۲۱ فصل دی وکتل شی). دغه ډول چالچلند په نوی زيلاند او جنوبی افريقا کی سرته رسول کيږی. سربيره پر دی، د معلوماتو د آزادی او د اطلاعاتو د ساتنی د قانون له مخی، ځينی دفترونه جوړ شوی دی چی هغوی هم د امنيتی او استخباراتی ادارو پرضد د شکايتونو په پلټلو کی نقش لری.

خپلواک ريوټ ورکونکی چی د شکايت کونکو په استازيتوب په پلټنی لاس پوری کوی، ډير زيات په رسمی پلټنی تکيه کوی. هغوی ډيري د اداری نيمګړتياو د ميندلو په لټه کی دی نه د قانونی سرغړونو او غلطيو. هغوی ډير لږ په دی پروسه کی د شکايت کونکو د برخی اخيستو او شفافيت باندی ټينګار کوی. هغوی د خپل کار په پای کی يواځی د يو ريوټ په چمتو کولو او په راتلونکی کی د غلطيو د مخ نيوی لپاره په ځينو سپارښتنو لاس پوری کوی، نه دا چی په دی برخه کی قضاوت وکړی او يا د رسمی حل وړانديز وکړی.

**۵۱ چوکاټ:**

## شکایتونو ته د حل لاری میندل: د هالند ملی خپلواک پلټونکی

**۸۳ ماده**

هر وګړی حق لری چی د دولت د وزیرانو، د امینتی ادارو د رئیسانو، همآهنک کونکو او د هغو ادارو د کار کونکو پرضد د دغه قانون او یا د امنیتی تحقیقاتو د قوانیونوله مخی ملی خپلواک پلټونکی ته شکایت وکړی.

سرچینه: د هالند د استخباراتی او امنیتی خدماتو د قانون سند، ۳۸ ماده ، ۲۰۰۲ کال.

د خلکو شکایتونو او اعتراضونو ته د پارلمان د څارنی د کمیتی له لاری هم کیدای شی چی پاملرنه وشی. د دغه چالچلند نمونه په آلمان او ناروی کی میندل کیږی ( ۵۲ چوکاټ د وکتل شی).

**۵۲ چوکاټ:**

## شکایتونوته د حل لار میندل: د ناروی د پارلمانی استخباراتی څارنی کمیته

د شکایتونو د رسیدنی سره، هغه کمیته د شکایتونوسره سم په اداری پلټنو لاس پوری کوی. له کومی څرګندونی څخه پرته کمیته په لومړی سر کی پریکړه کوی چی آیا دغه شکایتونه تر کومی کچی معقول دی او آیا د نورو اقداماتو د لاس لاندی نیولو غوښتنه کوی که نه.

د شکایت په اړه څرګندونی باید تر کومه ځایه چی امکان لری بشپړی او روښانه وی، پرته له دی چی پټ معلومات بربنډ کړای شی. خو د امینتی خدماتو د څارنی د فعالیتونو پر خلاف د شکایت په ځواب کی څرګندونی یواځی دا روښانه کوی چی آیا شکایت معقول دلیلونه لری که نه. که چیری کمیتی تشخیص وکړ چی شکایت د نور پلټنو غوښتنه کوی ، هغه باید اړوند وزارت ته وړاندی شی.

که چیری یوه شکایت د ګوت نیونی لپاره قانع کونکی دلیلونه او یا نوری داسی تبصری یی درلودی، د امینتی او استخباراتی ادارو د رئیسانو او یا اړوند وزارت ته دی یو معقول بیان وړاندی شی. د شکایتونو په اړه باید تل د هغی اداری چی شکایت تری شوی دی، د رئیس په نامه یو لیک واستول شی.

سرچینه: د امنیتی او استخباراتی څارنی او مراقبت لپاره لاربښونی (EOS)، ۸ برخه ، د ناروی د استخباراتی او امنیتی خدماتو د څارنی قانون، ۱۹۹۵ ، ضمیمه لومړی برخی ته.

که څه هم شکایتونو ته غوږ نیونه د پارلمان د څارنی د صلاحیت له حدودو څخه بهر ده، خو ورسره اړه لری. له پارلمانی غړو څخه غوښتنه کیږی چی د دولتی ادارو پر خلاف د وګړو شکایتونو ته پاملرنه وکړی. له بلی خوا د امنیتی او استخباراتی ادارو پر ضد عنوان شوو شکایتونو ته پاملرنه د پارلمان د څارنی کمیتی په ګټه هم ده، ځکه د شکایت له وړاندی کولو سره دا لاره اوراپړی چی د هغو ادارو په پالیسیو، قانونیت او اغیزمنتوت کی نیمګړتیاو ته له دننی څخه کتنه وشی. خو له بلی خوا، که چیری د پارلمان د څارنی کمیته له هغو ادارو سره له نژدی په تماس کی اوسی اویا له نژدی د هغوی چاری او پټ فعالیتونه وڅاری، ښایی دا شکایتونو ته د غوږ نیونی او د حل لار میندنی لپاره ګټه ونه کړی. ښایی شکایت کونکی احساس وکړی چی شکایت ته د پاملرنی پروسه ناپلوی نه ده. که چیری شکایتونو ته د پاملرنی لپاره یو خپلواک ارګان ټاکل کیږی، غوره ده چی د هغه د دغی دندی لپاره ځانګړی قانونی چوکات جوړ کړای شی. لنډه داچی ښه ده چی دغه دوه ماموریتونه یعنی پر امنیتی او

استخباراتی ادارو څارنه او شکایتونو ته پاملرنه، دوو مختلفو ارګانونو ته وسپارل شی. خو دغه پروسه باید داسی سره جوړه شی چی د څارنی ارګان د وګړو د شکایتونو له ټولو اغیزو څخه خبرتیا ومومی.

په ځینو هیوادونو کی نه یواځی وګړی، بلکه د امنیتی او استخباراتی ادارو خپله کارکونکی اجازه لری چی د خپلواکو پلټونکو او یا د پارلمان د څارنی د کمیټی پام د هغو ادارو موضوعاتو ته واړول شی. د بیلګی په توګه، په آلمان کی اړوند چارواکی دغه ډول موضوعات د پارلمان د څارنی جرګه ګی ته یادوی، خو نه په هغه صورت کی چی هغوی په خپله ګټه یا د هغو ادارو د نورو غړو په ګټه کار کوی، «البته هغوی دغه ډول شکایتونه هغه وخت عنوانوی چی د اداری رئیس اړوندی موضوع ته پاملرنه ونه کړی. د هغو ادارو کار کونکی د دا ډول شکایتونو له عنوانولو سره باید نه له ګواښ سر مخامخ شی او نه ورته کومه سزا ورکړای شی.»

## د قضا له لاری شکایتونو ته پاملرنه

همدا راز دا امکانات هم شته چی د یو تریبونال له لاری د استخباراتی او امنیتی ادارو پرضد شکایتونو او یا له ځانګړو صلاحیتونو څخه ناوړو استفادو ته پاملرنه وشی، څرنګه چی په بریتانیا کی دا ډول چلند معمول دئ. او یا د یو ځانګړی څارونکی ارګان له خوا شکایتونو ته غوږ نیول کیږی، څرنګه چی په کانادا کی معمول دئ ( ۵۳ چوکاټ دی وکتل شی).

**۵۳ چوکاټ:**

### شکایتونو ته پاملرنه: د کانادا د امنیتی استخباراتی پلټنی کمیته

د کاندا د امنیتی او استخباراتی خدماتو د ۱۹۸۴ کال د قانون د سند له مخی، د امینتی استخباراتو د پلټنی کمیته (SIRC) چی له پټو پلټونکو څخه جوړه شوی قانونی څارونکی ارګان دی، مسؤلیت لری ترڅو د هغو ادارو د چالچلند پرضد د وګړو شکایتونو ته غوږ ونیسی او پاملرنه وکړی (۴۱ برخه) او هغه ننګونی هم تر کتنی او ارزونی لاندی ونیسی چی امنیتی تصفیه ردوی (۴۲ برخه). شکایت کونکی له دغو ډول امکاناتو څخه استفاده کوی. هغوی باید په لومړی سر کی د حکومت اړوندی اداری ته موضوع راجع کړی او بیا دی په لیکلی توګه (SIRC) ته شکایت وړاندی کړی. په دی برخه کی پلټنی په پټه توګه سرته رسول کیږی، البته شکایت کونکی ته موقع ورکوله کیږی چی خپل ځان ته یو استازی یا وکیل وټاکی. نه شکایت کونکی او نه اړوندی اداری ته اجازه ورکوله کیږی چی د یو بل وکیلانو سره ووینی. (SIRC) د احضار صلاحیت لری او کولای شی چی د قسم په ورکولو سره له شاهدانو څخه بیان واخلی. د پلټنی د ریوټ په پام کی نیونی سره د پلټنی کمیته دنده لری چی:
**الف ـ** د دغه قانون د ۴۱ برخی له مخی د شکایت په اړه د چمتو کړای شوی ریوټ څخه وروسته ، له ځینو سپارښتونو سره د هغه یوه نسخه د وزیر او د اړوندی اداری د رئیس په اختیار کی کیښودل کیږی.
**ب ـ** په عین وخت کی او یا د ریوټ د بشپړولو څخه وروسته، **د الف** د پارګراف له مخی، د پلټنی د ریوټ یوه نسخه د شکایت کونکی په نامه استول کیږی، که چیری قانون اجازه ورکړی له ځینو لازمو سپارښتنو سره.
سرچینه: د کانادا د ۱۹۸۴ کال د امنیتی او استخباراتی پریکړی یوه مسوده.

په قضایی پروسو کی محاکموی غوږنیونه تل شامل نه وی. د امنیتی او استخباراتی فعالیتونو په اړه شکایتونو ته د ځواب ورکولو لپاره د یوی عادی محکمی په پرتله یو تریبونال غوره دی: تریبونال کولای شی چی په امنیتی او استخباراتی ساحه کی یو ډول ځانګړی تخصص ته وده ورکړی، قاضیان او وکیلان تر کومه ځایه چی امکان لری پلټنی لاندی ونیسی او د حساسو معلوماتو څخه د کار اخیستو

لپاره د یوی خاصی لاری چاری به لټه کی شی. خو د یوی موضوع د خصوصیت په پام کی نیونی سره، له دی لاری په داسی تریبونالونو کی د یوی هر اړخیزی عامی قانونی غوړ نیونی محاکمی دایرول امکان نه لری. له بلی خوا، حتی که چیری یو تریبونال شکایتونو ته د غوړ نیونی محاکمی دایری هم کړای شی، ښایی د خپلو ادعاوو د ثابتولو لپاره له ستونزو سره مخامخ شی. ځکه هغه نه شی کولای چی د شکایتونوپه اړه هغو شواهدو او اسنادو ته لاس اوږد کړی چی دامنیتی او استخباراتی ادارو په اختیار کی دی او یا قضیه چی د هغو ادارو له نظره بیان شوی ده، تر آزموینی لاندی ونیسی. د دا ډول مشکلاتو د حل لپاره په کانادا او برتانیا کی یو ځانګړی مشورتی قضایی اداره وجود لری. دغه اداره دنده لری چی امنیتی مسایلو پوری تړلی دلایل، په خاصه توګه هغه چی شکایت کونکی ته ښکاره کیدای نه شی، تر غور لاندی ونیسی. دغه کار تریبونال سره مرسته کوی ترڅو وړاندی شوی دلایل او شواهد تر ارزونی لاندی ونیسی او پر هغو بیطرفانه قضاوت وکړی.

## د بشری حقوقو او د بنسټیزو آزادیو د ساتنی لپاره اروپایی منشور(ECHR) او شکایتونو ته غوړ نیونه

د ECHR لاس لیک کونکی دولتونه د هغه منشور د ۶، ۸ او ۱۳ مادو له مخی د مختلفو حقوقو د مراعاتولو په وړاندی ځینی مکلفیتونه په غاړه لری. ۶ ماده په جنایی موضوعاتو کی د یوی خپلواکی او ناپلوی محکمی د دایرولو حق خوندی ساتی او هم د یو فرد مدنی حقوق او مکلفیتونه ټاکی. په یوی جنایی محکمه کی د ۶ مادی له تطبیق سره کیدای شی چی له مخبرینو او دولتی کارکونکو څخه د شواهدو د لاس ته راوړلو لپاره کار واخیستل شی.[2] همدارز له دی مادی څخه د هغو مقرراتو په اړه چی د عامه په ګټه له شواهدو څخه کار اخیستل او د هغو بربنډول محدودوی، کیدای شی چی هم په جنایی او هم مدنی محکمو کی کار واخیستل شی.[3] د بشری حقوقو لباره د اروپایی محکمی له خوا د یوی عادلانه محکمی د حق د خوندی ساتنی لپاره د هغی محکمی د ۶ مادی له مخی له مشورتی قضایی اداری څخه د کار اخیستو سپارښتنه شوی ده.[4]

حتی که چیری په ځینو حالاتو کی ۶ ماده هم د پلی کیدو وړ نه وی، په شکایتی قضیو کی د ۸ او ۱۳ مادو له مخی د محاکمی اصولو د خوندی ساتنی لپاره غوښتنه کیږی. دغه مادی په امنیتی اقداماتو کی یو ډول بهرنی یا وروستنی کنترول خوندی ساتی چی د هغو په جمله کی په شخصی مسایلو کی د امنیتی څارنه شامله ده. خو په ځینو نور مسایلو ( د بیلګی په توګه، حتمی نه ده چی تر څارنی لاندی یو سړی تل وروسته له پیښی څخه خبر کړای شی چی دی تر څارنی لاندی دی)[5] د اروپایی منشور کومه مسوده وجود نه لری. که چیری له یو منل شوی منشور څخه سرغړونه وشی، ۱۳ ماده د یوی ملی مرجعی په وړاندی د اعتراض کولو حق خوندی ساتی. حتمی نه ده چی دغه مرجع یوه محکمه وی. د امنیتی مسایلو په اړوند د بشری حقوقو اروپایی محکمه دی نتیجی ته رسیدلی ده چی د څارنی د ارګانونو او شکایتونو ته د ځواب میندلو له مراجعو څخه دی یو ګډ پلاوئ جوړ شی ترڅو دغو ډول ستونزو لپاره د حل لاره پیدا کړی.[6] څرنګه چی د اروپا د چارو یو شورا په دی اړه وایی:

> **د هغی محکمی د قانون له مخی د ۸ او ۱۳ مادو له احکامو څخه داسی نتیجه اخیستل کیدای شی چی:د یوی سرغړونی د اغیزمنی تلافی او جبران لپاره یواځی دا بسیا نه کوی چی یوی محکمی ته دی رسیدو امکانات موجود وی، بلکه باید د څارنی د یوی اداری ټول میکانیزم او د هغه اغیزمنتوب لاره پرانیتسی وی.**

د شکایتونو د وړاندی کولو په موخه د اعتبار وړ ارګانونو د جوړولو لپاره مهم معیارونه دغه لاندی دی:

- له یوی امنیتی او استخباراتی اداری سره نه اړیکی درلودل؛
- د لازمو صلاحیتونو درلودل او هغو معلوماتو ته لاس غزول چی د شکایتونو لپاره د ګمارل شوو مراجعو په اختیار کی دی؛
- د یو حکم د ورکولو صلاحیت درلودل په دی موخه چی که چیری شکایت پرځای وی، د هغه تلافی کول او که پر ځای نه وی د هغه د ردولو لپاره لازمی څرګندونی وړاندی کول.

د دی لپاره چی شکایت کونکی وکړای شی چی به ښه وجه خپل اعتراضونه عنوان کړای شی، د یو لړ مرستندویو لارو چارو درلودل ضروری دی. همداراز یوه شکایت کونکی ته باید موقع ورکړای شی چی د شکایت د پلټنی په پروسه کی خپله شخصا ونډه واخلی ترڅو په پروسه کی د عدل له خوندی ساتنی څخه ډاډه شی، دا کار په هغه صورت کی هم باید وشی چی هغه ته د غوږ نیونی محاکمه دایریږی که نه. ښایی د پلټنی پروسه د ضرورت له مخی، هغه دلیلونه او معلومات چی د یو شکایت کونکی په اختیار کی پریښودل کیږی، محدود کړی. خو دغه محدودیت باید له ضرورت څخه زیات نه وی. د داسی محدودیت لګول باید د هغه شخص یا ارګان صلاحیت وی چی شکایت باندی کتنه کوی. دغه محدودیت هم باید په یو ډول تلافی شی ( مثلا، د قضایی مشورتی اداری له مشورو څخه کار اخیستل).

# غوره چالچلند

- هغه مقام یا تریبونال چی شکایتونو ته غور نیسی، باید هغه کسان وی چی د حقوقی او قانونی شخصیت او د خپل ماموریت به دوره کی له خپل مقام څخه د نه گوښه کیدو له قانونی مصؤنیت څخه برخه من وی؛
- هڅه دی وشی چی شکایتونو ته د ځواب ورکونی پروسه د خلکو په حضور کی بشپړه شی. که چیری پروسه په یوه برخه کی د عامو خلکو په مخ تړل کیږی، خو د شکایت کونکی او یا د هغه د وکیل په مخ باید هیڅکله ونه تړل شی؛
- که چیری د کومی ملی گټی د مصلحت له مخی لازمه وگڼله شی چی د پلټنی په پروسه کی شکایت کونکی هم باید برخه ونه لری، دغه تصمیم باید یوائی د هغه یو مقام یا تریبونال صلاحیت باید وی چی د شکایت په پلټلو لاس پوری کوی او تلافی کونکی مرجعی (لکه خاصی مشورتی شورا) ته باید داډ ورکړ شی چی پروسه په عدل او ناپلویتوب سرته رسیږی؛
- تریبونال یا پلټونکی مقام باید د الزامی پریکړو صلاحیت ولری ترڅو شکایت کونکی، که چیری شکایت یی پر ځای وی، تلافی کړای شی. همدارا ز په دی اړه د هغو اسنادو او شواهدو د له مینځه وړو صلاحیت هم باید موجود وی چی امینتی او استخباراتی اداری د شکایت کونکی به هکله ټول کړی دی.
- د پلټنی او تحقیق حدودو باید په قانون کی ځرگندتوب ولری، هغه باید یوائی د امنیتی او استخباراتی ادارو د کار د چلند پوری محدود نه وی بلکه لمن یی باید د هغو ادارو بشپړ چالچلند پوری پراخه وی.

## دویشتم فصل

# د خپلواکو چارواکو له خوا د حکومت د اداری په دننه کی د ادارو څارنه

د سیاسی انحصار د مخ نیوی لپاره امنیتی اداری د سیاسی هدایاتو په وړاندی د ځان ساتنی لپاره له یو ډول قانونی محافظتی احکامو څخه برخه من دی. که چیری داسی وی ، نو پوښتنه دا ده چی حکومت څنګه کولای شی چی له هغو ادارو څخه د لازمو معلوماتو لاس ته راوړلو لپاره ډاډه شی او هم څنګه پوه شی چی هغه اداری د حکومت له پالیسی سره سم عمل کوی. په همدی وجه ځینو هیوادونو ځینی دفترونه او اداری لکه د عمومی پلټنی اداره، قضایی کمیساری او یا د کتنی او غور کونی دفترونه پرانیستی دی ترڅو د امنیتی ارګانونو فعالیتونه وپلټی. او د قانونی صلاحیتونو درلودلو سره د هغو ادارو معلوماتو او کارکونکو ته لاس رسیدنه ولری.[8]

دغه مفکوره په لومړی سر کی د امریکا متحده ایالاتو په استخباراتی ټولنه کی پیدا شوو چی اوس د عمومی پلټنی څودفترونه لری. هغوی ټول له امینتی او استخباراتی ادارو څخه خپلواک عمل کوی. خو د هغو دفترونو د تأسیس په پام کی نیونی سره ځینی توپیرونه په کی شته دی: ځینی یی د مقننه قوی له خوا جوړ شوی دی (لکه د مرکزی استخباراتی اداری او د دفاع وزارت لپاره د پلټنی عمومی دفتر)، هغه دفترونه چی یواځی پر حکومتی ادارو تکیه کوی، د اړوند وزیر له خوا جوړ شوی دی ( لکه د دفاعی چارو د استخباراتو اداره او اطلاعاتو د کشف اداره). د دغو توپیرونو سر بیره، د هغوی ځینی یی د خپلو اجراآتو په هکله کانګرس او د اجرائیی ځینو برخو ته رپوټ ورکوی. د دغو دفترونو ځینی یی په دغو برخو کی دندی لری: کفایت او توانمندی، د ناوړه استفادو مخ نیوی، پلټنه او له قانونیت او د پالیسی سره له عمل کونی څخه څارنه.

عام پلټونکی په محرمی حلقی کی ځای لری: هغوی دنده نه لری چی د امنیتی او استخباراتی ادارو د ځواب ورکونی او حساب ورکونی په هکله عامو خلکو ته خبرتیا ورکړی. د هغوی دنده په لومړی سر کی دا ده چی د اجرائیه قوی په وړاندی د هغو ادارو د ځواب ورکونی پروسه غښتلی کړی. د کانادا قانون د یو داسی دفتر په هکله روښانه څرګندونه کوی. د کانادا عام پلټونکی د خپلو دندو د ترسره کولو لپاره د هغو معلوماتو د لاس ته راوړنی لپاره له نامحدودو صلاحیتونو حخه برخه من دی چی د هغو ادارو په اختیار کی دی.

| ۵۴ چوکاټ: |
|---|
| **د کانادا د عام پلټونکی دندی**<br>عام پلټونکی د حکومت د اړوندی اداری د مقام ( د عمومی حقوقو د مشاور مرستیال) په وړاندی مسؤل دی او دغه لاندی دندی لری: **الف -** د امنیتی او استخباراتی اداری د چلند څارنه د هغی د عملیاتی پالیسی سره سم؛ **ب -** د هغی اداری د عملیاتی فعالیتونو باندی له سره کتنه؛ **ج -** وزیر ته د کلنی رپوټ پخلئ په دی هکله چی آیا عام پلټونکی د امنیتی او استخباراتی اداری له کلنی رپوټ څخه خوښ دئ که نه او بل دا چی آیا هغی اداری د قانون او د وزیر له هدایاتو سرم عمل کړی دی که نه ، او هم د دی مسألی پخلی چی آیا هغی اداری له خپلو صلاحیتونو څخه ناوړه یا بی ځایه استفاده کړی ده که نه.[9]<br>سرچینه: د کانادا د امنیتی او استخباراتی اداری د قانون سند، ۳۰ او ۳۲ برخی، ۱۹۸۴ |

همدا راز په بوزنيا او هرزګووينا کی عام پلټونکی د قانون د ۳۳ مادی له مخی داستخباراتی او امنيتی اداری مسؤليت په غاړه لری. د هغه دندی عبارت دی له : د هغی اداری پر فعاليتونو له سره کتنه، د شکايتونو پلټنه، د پلټنی ابتکار، څارنه، تحقيق او د سپارښتنو ورکول. دغه عام پلټونکی دنده لری چی لږترلږه په هر شپږ مياشتو کی استخباراتی امنيتی کميتی ته رپوټ وړاندی کړی او د اجرائيی مهم مقامات به منظمه توګه له بدلونونو څخه خبرکړی. د عام پلټونکی په صلاحيتونو کی د هغو ادارو له کارکونکو څخه پوښتنه او د هغو ادارو مقر او معلوماتو ته لاس غزول شامل دی.

نور هيوادونه، په خاصه توګه جنوبی افريقا [10] عام پلټونکی ته دنده ورکوی چی پارلمان ته هم رپوټ ورکړی. له داسی يوی دندی سره د جنوبی افريقا عام پلټونکی د محرمی حلقی او د عامو خلکو تر منيځ يو پل جوړوی، څرنګه چی هغه پارلمان ته د خپل رپوټ له وړاندی کولو سره عام خلک هم د امنيتی او استخباراتی اداری له فعاليتونو څخه خبروی. خو بياهم ډير هغه مواد چی د هغو پر بنسټ رپوټ جوړ شوی دی، په محرمه حلقه کی خوندی پاتی کيږی، دغه مواد کيدای شی چی د څارنی له نورو ارګانونو سره شريک کړای شی.

حتی ځينی عام پلټونکی چی يواځی اجرائيی ته د رپوټ ورکونی دنده په غاړه لری، کولای شی چی په غير رسمی توګه له پارلمانی ارګانونو سره اړيکی ټينګی کړی. دغه ډول يو مثال، څرنګه چی پاس يی يادونه وشوه په آسترالیا کی ميندل کيږی. همداراز د امريکا متحده ايالاتو ځينی عام پلټونکی وخت په وخت کانګرس ته رپوت ورکوی.

د دی مسألی له پام نيونی څخه برته چی عام پلټونکی چاته (حکومت ياپارلمان ته) رپوټ ورکوی، په دواړو حالتونو کی د هغه مقام د قانونی اختياراتو څرګندتوب او خپلواکتوب له ټولو څخه مهم دی. له خپلواکو مقاماتو څخه غوښتل کيږی چی د يو څو معيارونو په پام کی نيونی سره د هغو ادارو اجراآت تر کتنی لاندی ونيسی: قدرت او توانمندی، د حکومت له پاليسيو او له ټاکل شوو هدفونو سره سم عمل کول، ړومبيتوبونه او قانونيت. په دی ټولو حالتونو کی عام پلټونکی دی ته اړتيا لری چی د يوی هراړخيزی او باور وړ ارزونی د چمتو کولو لپاره د هغو ادارو دوسيو او کار کونکو ته د لاس غزونی امکانات بايد ولری. په عمل کی ښايي يو خپلواک مقام د دی توان ونه لری چی د يوی امنيتی او استخباراتی اداری د يوی برخی څخه د زياتی پلټنه وکړای شی. ځينی خپلواک دفترونه داسی کار کوی چی د هغو ادارو دوسيی يا کارونه دنمونی په توګه تر غور لاندی نيسی. دغه ډول پلټنه، هغه اداری دی ته هڅوی چی د خپلو فعاليتونو هری برخی ته پاملرنه ولری، ځکه مخکی له مخکی نه پوهيږی چی کومه دوسيه يا کوم کار تر څارنی او پلټنی لاندی نيول کيږی. ځينی عام دفترونه قضايی صلاحيتونه هم لری ترڅو انفرادی شکايتونو ته غوږ ونيسی(څرنګه چی په آستراليا کی دغسی يو چلند معمول دی). [11]

## غوره چالچلند

- د امنیتی او استخباراتی ادارو د کارونو ارزونه باید د خپلواکو او ناپلوو مقاماتو ( لکه خپلواک رپوټ ورکونکو یا عام پلټونکو) له خوا سرته ورسیږی او له لاندو معیارونو سره سمون ولری؛
- هغه مقام چی د کارونو ارزونه سرته رسوی باید له حقوقی او قانونی شخصیت او د خپل ماموریت په موده کی د ګوښه کیدو له مصؤنیت څخه برخه من وی؛[12]
- د ارزونی او کتنی د صلاحیت حد او حدود باید په قانون کی صراحت ولری او نه یواځی د کارځرنګوالی بلکه د امنیتی او استخباراتی ادارو اپراتیفی کارونه هم په کی شامل وی؛
- هغه مقام چی د ارزونی او کتنی لپاره ټاکل کیږی باید په کافی اندازی له قانونی صلاحیت څخه برخه من وی تر څو هغه موضوعات او شواهد چی د امنیتی او استخباراتی ادارو صلاحیتونو څخه کار اخیستو پوری اړه لری ارزونه وکړای شی؛
- هغه مقام باید نامحدود واک او اختیار ولری ترڅو د یو حکم یا رپوټ یا یوی پریکړی چی د ارزونی په پروسه کی نیول کیږی، شکل، حد او حدود وټاکی.

## درویشتم فصل

# د محاسباتی پلټنی خپلواک دفترونه

د استخباراتی خدماتو د بودجی له تصویب سره د اجرائیی او پارلمان دندی پای ته نه رسیږی. نه یوازې اجرائیه بلکه پارلمان هم باید خپلی د محاسباتی پلټنی او څارنی دندی سرته ورسوی. د یادونی وړ ده چی پارلمان ته د محاسباتی پلټنی د یو بشپړ رپوټ وړاندی کول د دیموکراتیکی پروسی یوه برخه ده او په محاسباتی پروسه کی باید هم حسابی پلټنی او هم اجرائی پلټنی شاملی وی. د امنیتی او استخباراتی ادارو حساب او کتاب او کلنی رپوټونه د پارلمانی لپاره مهمی سرچینی دی ترڅو په دی مسألی باندی غور او کتنه وکړی چی په تیر مالی کال کی عامه پیسی څرنګه او په کومو لار لګولی شوی دی.

### د خپلواکتوب تضمین

په ډیرو هیوادونو کی د محاسباتو د پلټنی ملی دفتر( په مختلفو هیوادونو کی مختلف نومونه لری لکه: د محاسباتو عام پلټونکی، د ملی محاسباتو دفتر، د بودجی دفتر او د ملی محاسباتو دیوان) د قانون له مخی د یو خپلواک ارګان په توګه جوړیږی. د دی لپاره چی د هغه خپلواکتوب خوندی وساتل شی، د محاسباتو عام پلټونکی باید:

- د پارلمان له خوا وټاکل شی او د ماموریت موده یی څرګنده وی؛
- قانونی امکانات او سرچینی چی عملی بڼه ولری، باید د هغه په اختیار کی وی ترڅو خپل ماموریت په خپلواکی سره سرته ورسوی؛
- خپلواک صلاحیت باید ولری ترڅو پارلمان او د هغه بودجوی کمیتی ته د لګښتونو په هکله، هر وخت چی وغواړی، رپوټ ورکړی.

ګه چیری د چارواکو یا سیاسی ارګانونو له خوا له دولتی سرچینو څخه ناوړه استفاده وشی، پارلمان باید په دی لټه کی شی چی د قانون له مخی قضایی تعزیرات ولګول شی او پلی کړای شی.

### د امنیتی او استخباراتی خدماتو محاسباتی پلټنه

دامنیتی او استخباراتی خدماتو محاسباتی پلټنی په دی موخه په لاره اچولی کیږی تر څو ډاډ لاس ته راشی چی د هغو ادارو لګښتونه له قانون سره سم او په اغیزمنه توګه په کار لویدلی دی. دغی موخی ته د رسیدو لپاره هغه اداری باید په بشپړه توګه د محاسباتی پلټنی پرمخ پرانیستی وی، البته هغه لږ محدودیت چی د ځینومعلوماتی سر چینو د هویت د ساتلواو یا د ځینو حساسو عملیاتو د جزیئاتو د نه بربنډولو لپاره لګول کیږی، له دی امر څخه استثنا دی.[13]

دا چی هغه اداری دمحرم توب تر نامه لاندی عمل کوی، ځله ایزی خبری رسنی او مدنی ټولنه نه شی کولای چی د هغو ادارو د فعالیتونو په هکله عامو خلکو ته خبر ورکړی. نو په دی وجه خورا اهمیت لری چی محاسباتی پلټونکی پټو معلوماتو ته په پراخه توګه لاس اوږد کړای شی. یوازې له همدی لاری سړی کولای شی چی ډاډه شی چی آیا امنیتی او استخباراتی ادارو عامه پیسی د قانون په چوکاټ کی په مصرف رسولی او یا که په غیر قانونی لارو ( لکه اختلاس یا نوری ناوړه استفادی).

## ۵۵ چوکاټ:
## د محاسباتو عام پلټونکی

دا چې د محاسباتو د پلټنې دفتر یا دیوان د اجرائیي، مقننې یا قضایي تر لاس لاندې وي یا نه وي، مهمه خبر دا ده چې هغه دیوان باید په بشپړه توګه خپلواک وي. دغه دیوان د خپل ماموریت د ترسره کولو لپاره باید په کافي اندازې سرچینې او امکانات په اختیار کې ولرې. د هغه دندې کیدای شي چې په درې برخو وویشل شي:

**مالي څارنه**
د محاسباتو د پلټنې دفتر یا دیوان باید د ټولو اجرائیي ارګانونو او عامه ادارو د مالي چارو د سمون، رښتینولې او بشپړتیا تر پلټنې لاندې ونیسي. هغه دیوان باید د دې خبرې پخلې وکړي چې آیا ټول مالي اجرآآت پر عامه پیسو د لګول شوو قوانینو او مقرراتو سره سم سرته رسیدلې دي که نه. د څارنې د همدې دندې په چوکاټ کې د محاسباتو دیوان باید د هغو چارواکو په اړه چې د پیسو د ورکړې صلاحیت لرې، یو قضایي ماموریت هم سرته ورسوي. هغوی ټول باید د هغو پیسو په اړه چې په مصرف یې رسولې دي، د حساب ورکونې لپاره چمتو اوسي. خصوصا کله چې هغوی له خپلو دندو څخه ګوښه کیږي. د ناوړه استفادو او یا اختلاس په صورت کې، د محاسباتو دیوان دنده لرې چې په دې اړه یو رپوټ چمتو کړي او موضوع قضا ته وړاندې کړي.

**قانوني څارنه**
د محاسباتو د پلټنې دفتر یا دیوان باید د دې پلټنه وکړي چې آیا ټول عامه لګښتونه او عایدات په بودجې باندې د واکمن قانون له مخې سرته رسیدلې که نه.

**له عامه پیسو څخه په ښه وجه کار اخیستل**
د محاسباتو د پلټنې یو پرمختلې دیوان چې د غوره واکمنې په ګټه کار کوي باید ډاډ ورکړي چې له عامو پیسو څخه د لاندو درې معیارونو له مخې کار اخیستل کیږي:
**۱- پیسو ته ارزښت ورکول:** ډاډینه باید وشي چې له مالي سرچینو څخه له کمې او کیفي لحاظه ستره ګټه اخیستل شوې ده؛
**۲- اغیزمنتوب:** په دې هکله د ځینو اقداماتو لاس لاندې نیول ترڅو وکتل شي له عامه پیسو څخه د کار اخیستو سره ټاکل شوي هدفونه ترکومې کچې لاس ته راغلي دي؛
**۳- ګټورتوب:** په دې هکله د ځینو اقداماتو لاس لاندې نیول ترڅو وکتل شي چې له عامه پیسو څخه استفادې سره هغه نتیجې لاس ته راغلې چې انتظار یې کیده.
دغه بهرنې څارنه د محاسباتو د پلټنې د دیوان په نوښت یا د پارلمان له خوا په لاره اچول شوې دي.
سرچینه: د پا رلمان او بودجوي پرسو په هکله د بین الپارلماني اتحادیي د سیمینار په هکله یو عمومي رپوټ، (Bamako, Mali, November 2001)

د غوره واکمنې د یو عمومي اصل په توګه دمحاسباتو د پلټنې مقررات چې د حکومت د نورو فعالیتونو په برخه کې د پلې کیدو وړ دي، باید د امنیتي او استخباراتي ادارو د لګښتونو د محاسباتي پلټنې په برخه کې د پلې کیدو وړ وي، البته له ځینو محدودیتونو سره چې پاس ترې یادونه وشوه. هغه څه چې د هغو ادارو محاسباتي پلټنې له نورو عادي پلټنو حخه توپیروي، هغه د رپوت ورکونې میکانیزم دی. د عملیاتو د دوام د ساتنې لپاره، د هغو ادارو میتود او سرچینې په ډیرو هیوادونو کې د رپوټ ورکونې میکانیزم پورې تړلې دي. د بیلګې په توګه، په بریتانیا کې تر کومه ځایه چې پارلمان پورې اړه لرې یوازې د پارلمان د عامه حسابونو د کمیتې رئیس او د پارلمان امنیتي او استخبارتي کمیته د مالي پلټنې

له نتيجو څخه خبرول کيږي. د دغو کميتو په نامه رپوټونو کې د لګښتونو د قانونيت او ګټورتوب او د احتمالي مالي ګډوډيو مسايل شامل دي. په دې رپوټونو کې دې مسألې ته هم اشاره کيږي چې آيا هغو ادارو د بودجو لپاره د ټاکل شوي چوکاټ له مخې عمل کړی دی که نه. په آلمان کې د استخباراتي ادارو د حسابونو او مالي منجمنت کنترول د يو دری ګوني پلاوی (Dreikollegium) له خوا سرته رسول کيږي دغه ارګان د فدرال د محاسباتو د ديوان(Bundesrechnungshof) په چوکاټ کې جوړ شوی دی. د فدرال د محاسباتو ديوان د استخباراتي خدماتو د حسابي او مالي منجمنت د کنترول څخه لاس ته راغلي نتايج د پارلمان د بودجوی کنترول يو خاصې کميتې، د استخباراتي څارنې لپاره د پارلمان د کنترول جرګه ګۍ، د لومړي وزير دفتر او همداراز د ماليې وزارت ته رپوټ ورکوی.[14] پارلمان ( البته نه استخباراتي اداره) پريکړه کوی چې د استخباراتي اداری د بودجې کومه برخه بايد پټه وساتله شي.[15]

سربيره پردې، په ډيرو هيوادونو کې د امنيتي او استخباراتي خدماتو کلنی رپوټونه لکه ( په پولند کې) يا د څارنې د ارګان رپوټونه مثلا په ( بريتانيا کی) د پلټنې د مالي نتايجو څخه عبارت دی.[16]
په لاندې چوکاټ کې روښانه شوې ده چې څرنګه محاسباتي پلټونکي په نامه د هغو ادارو په هکله د معلوماتو بربنډول ترتيب کړای شی.

**۵۶ چوکاټ**

## د محاسباتو پلټونکی ته د استخباراتی ادارو د معلوماتو د قانونی بربنډول (بريتانيا)

د استخبارتي ادارو د مسؤليت د سرته رسولو لپاره، څرنګه چې لازمه ده، معلومات بايد بربنډ کړای شي، البته په دې شرط چې دغه بربنډونه د هغو چلندونو له مخې وی چې د بهرنيو چارو د وزارت له خوا تصويب شوی او هم په دې شرط چې دا هغه معلومات وی د محاسباتو پلټونکی د خپل مسؤليت د تر سره کولو لپاره ورته اړتيا لری.
سرچينه: د ۱۹۹۴ کال د استخباراتي خدماتو د قانون سند، ۲(۳) ب برخه، بريتانيا

همداراز په ډيرو هيوادونو کی د محاسباتو د پلټنې ديوان د ځينو پروژو قانونيت، ګټورتوب او اغيزمنتوب تر پلټنې لاندې نيسی، مثلا د استخباراتي ادارو د مقر لپاره د ودانی جوړول په کانادا او بريتانيا کی يا د استخباراتي زيګنالونو د نوو سيستمونو اخيستل په بريتانيا کی يا د تروريزم پرضد د مبارزې لپاره د استخباراتي ادارو تر مينځ د معلوماتو تبادله په هالند کی. ۵۸ چوکاټ کی هغه مثال ښودل شوی چی په کانادا کی د محاسباتوعام پلټونکی په يوه تحقيقاتی مسأله کی څه واک او اختيار کيدای شی چی ولری.

د ملی محاسباتو ديوان هسی بی بنسټ عمل نه کوی، بلکه دغه ارګان د مالی حساب ورکونی د چالچلند په يو سيستم کی د قانون پر اصل ولاړ دئ. معمولا د مالی حساب ورکونی قوانين په ټوليزه توګه او د استخباراتی خدماتو قوانين په خاصه توګه دا ټاکی چی په دی برخه کی د حساب ورکونی کوم نورمونه او احکام بايد د پلی کيدو وړ دی. ۵۷ چوکاټ کی د لوکزامبورګ د استخباراتی خدماتو د مالی حساب ورکونی لاری چاری تشريح کوی. د لوکزامبورګ مثال د مالی پلټنی د نظام له دری مهمو عنصرونو څخه خبری کوی. لومړی دا چی، د استخباراتی خدماتو د مالی چارو مسؤل د وزير له خوا ګمارل کيږی نه استخباراتی خدماتو د رئيس له خوا. دغه ډول چلند په هغو ادارو کی د مالی چارو د مسؤل دريځ غښتلی کوی او د هغه د مقام له خپلواکتوب سره مرسته کوی. دوهم داچی، د محاسباتو د پلټنی د ديوان د اختياراتو په جمله کی يو هم دا دی چی هغه وخت په وخت د استخباراتی ادارو هغه چاری تر پلټنی لاندی نيسی چی د مالی مسايل پر بنسټ سرته رسولی کيږی. د يو داسی صلاحيت له درلودلو

سره، هغه دیوان له هغو اختیاراتو څخه یو ګام وړاندی اخلی چی هغه ته د لګښتونو د ارزونی، حساب ورکونی او قانونیت او همدا راز د استخباراتی ادارو د کفایت، ګټورتوب او اغیزمنتوب د تشخیص لپاره ورکړل شوی دی. دریم داچی، قانون هدایت ورکوی چی پر دولتی بودجه ، حساب ورکونی او خزانی باندی واکمن قانون د استخباراتی ادارو په برخه کی هم د پلی کیدو وړ دی ( پرته له خاصو حالتونو څخه). لېده دا چی د قانون موخه دا ده چی هغه یو حالت باید رامینځ ته کړای شی چی هلته د یو روغ مالی منجمنت چلندونه تطبیقی بڼه ولری.

**۵۷ چوکاټ:**

## مالی حساب ورکونه (لوکزامبورګ)

۱ـ د استخباراتی خدماتو لګښتونه د استخباراتی اداری د ځانګړی حسابدار له خوا چی د بودجی په چارو کی د مسؤل وزیر له خوا ټاکل کیږی، د بودجی، حساب ورکونی او خزانی په هکله د ۱۹۹۹ کال د جون د ۸ د تعدیل شوی قانون د ۶۸ مادی له مخی اداره او څارل کیږی.
۲ ـ د نوموړی قانون د ۶۸ تر ۷۳ مادو په هکله استثناوی په لاندی ډول دی:

- وخت په وخت د استخباراتی خدماتو د منجمنت کنترول چی ملی محاسباتو د دیوان له خوا شوی وی،
- هغه پیسی چی د ځانګړی حسابدار له خوا تر لاسه شوی وی، د استخباراتی خدماتو د لګښتونو لپاره ځانګړی شوی وی اود ځانګړی حسابدار په بانکی حساب کی قید شوی وی؛
- د کال په هر دری میاشتو کی ځانګړی حسابدار هغه مقام ته چی د لګښتونو صلاحیت لری د ټاکلی شوی مودی کی د استفاده شوو پیسو په هکله رپوټ ورکوی؛
- د لګښت لپاره هغه پیسی چی د مالی کال په موده کی په مصرف نه وی رسیدلی، بیرته د دولت خزانی نه استولی کیږی. د دی پر ځای دغه پیسی د استخباراتی ادارو په اختیار کی قید پاتی کیږی او د راتلونکی مالی کال لپاره په پام کی نیولی کیږی؛
- هغه مقام چی د لګښت لپاره صلاحیت لری د ځانګړی حسابدار ملی رپوټ د پخلی لپاره د ملی محاسباتو دیوان ته وړاندی کوی؛
- د ملی محاسباتو د پلټنی دیوان دغه حسابونه له خپلو کتنو سره یو ځای صدراعظم او د دولت په چارو کی وزیر ته وړاندی کوی؛
- د هر مالی کال په پای کی صدراعظم، د دولت په چارو کی وزیر هغه یو وزیر ته چی د بودجی د چارو مسؤل دئ څرګندونه کوی چی آیا هغوی د ځانګړی حسابدار له رپوټ او اجراآتو څخه خوښ دی که نه. دا چی ایا ځانګړی حسابدار خپله دنده په ښه وجه سرته رسولی که نه، باید د هغه مالی کال د دسمبر د ۳۱ له پای څخه مخکی تصمیم ونیول شی چی ځانګړی حسابدار د ماموریت د کال څخه وروسته راځی.

سرچینه:
Loi du 15 juin portant organisation du Service de Renseignement de l'Etat, Article 7, Memorial - Journal Officiel du Grand-Duche de Luxembourg, A-No. 113

**۵۸ چوکاټ:**

## د پروژو خپلواکه پلټنه:

## مثال:د کانادا د محاسباتو د عام پلټونکی له خوا د هغه هیواد د استخباراتی خدماتو(CSIS) د ودانی د مقر د پروژی محاسباتی پلټنه

**هدف:**
دغه پلټنه په دی موخه په لاره واچوله شوه ترڅو ومیندل شی چی آیا نوموړی ودانی د (CSIS) ټاکل شوی غوښتنی یی پوره کړی دی او آیا د مالی هیأت له پریکړو سره سم عمل شوی او آیا دغه پروژه له اقتصادی نظره ګټوره ده که نه.

**معیار:**
زمونږد محاسباتی پلټنی معیار د پروژو لپاره د اختصاصی پانګی د پلټنی له مقرراتو او همداراز د مالی هیأت د لارښوونو او پالیسیو څخه اخیستل شوی دی.

**حدود:**
محاسباتی پلټنی د دغی پروژی ټول پړاونه تر کتنی لاندی ونیول. مونږ په خاصه توګه د دغی پروژی لپاره د اړتیاو څرګندونی، د انتخاب تحلیلونه، د پروژی خپله تعریف، دیزاین او طرحه، د ټرون پروسه، په پروژه کی د بدلون راوستلو مسایل، د پروژی منجمنت، چاپیریالی ارزونه، اداره او د پروژی له بشپړید څخه وروسته بهیر تر غور او پلټنی لاندی ونیول. زمونږ پلټنه د ۱۹۹۵ کال د نومبر په میاشت کی پیل او ۱۹۹۹ کال د مارچ په میاشت کی بشپړ شوه. د پروژی د ستروالی او د هغه کم وخت چی مونږ په اختیار کی درلود، په پام کی نیونی سره مونږ بریالی شوو چی د پروژی د مالی سوابقو جزئیات وپلټوو. (...) دغی پلټنی د (CSIS) اختیاراتو ته اشاره کړی ده. خو د دی خبری سره مونږ موافق یو چی د دغی ودانی د جوړولو لپاره اړتیا وه. دغه اړتیاوی د اوسنی اختیاراتو په بنسټ ولاړی وی او پر ځای دی.

**لاره چاره:**
د پلټنی شواهد د هغی پروژی د ودانولو له کارکونکو او همداراز د (CSIS) له کارکونکو سره چی له دغی ودنی څخه استفاده کوی، له مرکو څخه چمتو کړای شوی دی. مونږ د پروژی د پلان اسناد، مالی هیأت د وړاندی شوی اسناد، د پروژی رپوټونه، د پروژی د مشورتی کمیتی او د منجمنت د غونډو مسودی، لیکونه، د ټرنونو اسناد او کلنی رپوټونه ټول تر غور او پلټنی لاندی ونیول. مونږ دغه ودانی له بام څخه تر بنسټه پوری او همدا راز د دفترونو ستروالی، د خاصو غونډو لپاره سالونونه او داسی نورځایونه په پوره غور ولیدل او پلټل. مونږ سره ډیره غوره همکاری وشوه (...). د (CSIS) د چالچلندونو او د هغی ودانی په اړه د امنیتی ملاحظاتو په پام کی نیونی سره مونږ سره د همکاری کچه ربښتیا هم چی د ستاینی وړ ده.
سرچینه: د کانادا د محاسباتو د عام پلټونکی د ۱۹۹۶ کال رپوټ په دغی انترنتی پاڼی کی موجو دئ:
http://www.oag-bvg.gc.ca

خو په دی اړه یو خبره د یادونی وړ ده. هغه دا چی استخباراتی او امنیتی خدمات د حکومت له نورو ارګانونو سره د پرتله کیدو وړ نه دی. د ځینی دلایلو له امله په دغی برخی کی ډیر زیات خطر موجود دی، د هغو ادارو له مسؤلیتونو څخه د بهرنی فکتورونو په پام کی نیونی سره ، که چیری سمه پاملرنه ونه شی، ټولی اچول شوی پانګی ښایی بی ځایه او ضایع شی. منتخب استازی باید د پلټنی نتایج په

ډیری زیرتیا سره تر غور لاندی ونیسی. د محاسباتو د عام پلټونکی رپوټونو ته د یو غیر انډول ځواب او یا د هغو د نتایجو بربنډولو سره ښایی د هغو ادارو ټولو عملیاتو ته تاوان واړوی، د هغو کار ته خنډ پیدا کړی او له ټولو څخه سخته دا چی د سیاسی مشری او استخباراتی اداری د ریاست تر مینځ د بی اعتمادی فضا رامینځ ته کړی.

## غوره چالچلند

- د محاسباتو د دیوان د خپلواک توب د خوندی ساتنی لپاره باید د هغه چالچلندونه د قانون پر بنست ولاړ وی، هغه دیوان باید پارلمان ته رپوټ ورکړی او د محاسباتو د پلټنی دیوان رئیس باید د پارلمان له خوا وټاکل شی؛
- پر هغه دیوان باندی واکمن قانون باید د هغه دیوان د اختیاراتو، د رپوټ ورکونی میکانیزم، د رئیس ټاکل او همدارز پټو معلوماتو ته د لاس غزولو حد او حدود ښکاره کړی؛
- عام پلټونکی باید پټو معلوماتو ته بشپړه لاس رسیدنه ولری ترڅو نه یواځی په مالی پلټنو لاس پوری کړی، بلکه د ځینو خاصو پروژو اجرائیی توانمندی هم تر پوښتنی لاندی ونیسی؛
- د پلټنی دیوان باید صلاحیت ولری ترڅو نه یواځی په مالی پلټنو لاس پوری کړی ، بلکه د ځینو خاصو پروژو اجرائیی توانمندی له جزئیاتو سره تر غور لاندی ونیسی؛
- دا چی دپلټنی دیوان له پټو معلوماتو سره اړیکی لری، باید د قانون ساتونکی احکام وضع شی ترڅو د پلټنی د نتایجو د خپریو او یا د هغو د یوی برخی له خپریو څخه مخ نیوی وشی.

## د پنځمی برخی لمن لیکونه - د پلټنی د بهرنی ارګانونو نقش

1. د پارلمانی کنترول د جرګه ګی(PKGR) لپاره د آلمان د پارلمان دارالانشاء، په آلمان کی د استخباراتی خدماتو پارلمانی کنترول (برلین: د فدرال مطبوعاتی دفتر، ۲۰۰۱)

German Bundestag Secretariat of the Parliamentary Control Commission (PKGR), Parliamentary Control of the Intelligence Services in Germany,(Berlin: Bundespresseamt, 2001), pp. 19-20.

2. په دی اړه دغه سرچینی دی وکتلی شی :

Windisch v Austria, (1991) 13 European Human Rights Reports 291; Van Mechelen v Netherlands, (1998) 25 European Human Rights Reports 647, Teixeira de Castro v Portugal, European Court of Human Rights, Judgment of 9 June 1998.

3. په دی اړه دغه سرچینی دی وکتلی شی:

Rowe and Davis v UK, (2000), 30 European Human Rights Reports 1; Tinnelly and McElduff vUK, E Ct HR, Judgment, 10 July 1998 .

4. په دی اړه دغه سرچینی دی وکتلی شی:

Chahal v UK, (1997) 23 E.H.R.R. 413; Tinnelly and McElduff v UK, (1999) 27 E.H.R.R. 249.; Edwards and Lewis v UK, European Court of Human Rights, Judgment 22 July 2003 and 27 October 2004.

5. په دی اړه دغه سرچینی دی وکتلی شی:

Klass v Germany, para. 15 (as regards Art. 8); Leander v Sweden, para. 68 (as regards Art. 13.(

6. په دی اړه دغه سرچینی دی وکتلی شی:

Leander v Sweden, para. 78.

7.د کورنی امنیتی خدماتو په هکله د سپارښتنو د عملی امکاناتو په هکله رپوټ:

‘Report on the Feasibility of Recommendations on Internal Security Services’, adopted by the PC-S-SEC at its second meeting (9 - 11 October 2002), p. 15.

8.د پرتله کولو لپاره په مختلفو هیوادونو کی د عام پلټونکی صلاحیتونو ته دی کتنه وشی:

For comparison of the powers of Inspectors-General in different countries, see: Intelligence and Security Committee (UK), Annual Report for 2001-2, Cm 5542, Appendix 3.

9. د کانادا د امنیتی استخباراتی خدماتو د قانون سند، پانه ۳۳.۲ . د هغی اداری کلنی رپوټ او هم عام پلټونکی تصدیق دی د څارنی کمیتی ته واستول شی.

CSIS Act, s. 33.2. Both the Service’s Annual Report and the Inspector-General’s certificate are required to be sent to the oversight body, SIRC.: s. 33.3 CSIS Act 1984.

10. د استخباراتو د عام پلټونکی دفتر

Office of the Inspector General of Intelligence.

11. د امنیتی او استخباراتی چارو د عام پلټونکی په هکله د ۱۹۸۶ کال د قانون سند، ۱۰ تر ۱۲ برخی پوری

Inspector-General of Security and Intelligence Act 1986, sections 10-12.

12. د بیلګی په توګه د بوزنیا او هرزګووینا د استخباراتی او امنیتی اداری قانون، ۳۲ ماده دی وکتل شی:

" عام پلټونکی د صدراعظم د وړاندیز له مخی د وزیرانو د شورا له خوا ټاکل کیږی او ګوښه کیږی.عام پلټونکی د یوی څلور کلنی دوری لپاره ټاکل کیږی او دا دوره یواځی یو ځل تکراریدلی شی. د عام پلټونکی ماموریت د هغه د خپلی غوښتنی له مخی یواځی په لاندو شرایطو کی د ټاکلی شوی دوری څخه مخکی پای ته رسیږی؛ که چیری هغه په دایمی توګه د ماموریت په اجراء کولو کی خپل توان او کفایت له لاسه ورکړی؛ که چیری هغه ونه شی کړای چی د قانون له مخی عمل وکړی؛ که چیری هغه ونه شی کړای چی د هغی اداری د سرپرستی لپاره لازم اقدامات عملی کړی؛ که چیری د هغه پر خلاف د جنایی جرم، سرغړونو، له خپل مقام څخه د ناوړه استفادی، د دولتی، پوځی او یا نورو رسمی اسرارو د بربنډولو په وجه کومه دعوا وړاندی شی؛ که چیری د هغه پر خلاف د یو جنایی جرم یا سرغړونی په خاطر د محکمی وروستی پریکړه صادره شی؛ او یا هغه ونه شی کړای چی د قانون له مخی یوه پلټنه او یا یو تحقیق په لاره واچولای شی.

See, for example, Law of the Intelligence and Security Agency of Bosnia Herzegovina, Article 32:

‘An Inspector General shall be appointed and dismissed by the Council of Ministers upon the proposal of the Chair. The Inspector General shall serve a four-year term, which may be renewed once. The Inspector General may be dismissed before the expiration of his/her mandate upon his/her own request; if s/he permanently loses the capacity to execute his/her duties; fails to comply with applicable legislation or regulations; fails to implement measures for supervision of the Agency; if criminal proceedings for the criminal offences of abuse of office or disclosing a State, military or official secret have been instituted against him/her; if a final imprisonment sentence for a criminal offence which makes him/her unworthy of executing such duties is rendered against him/her; or if s/he fails to conduct an investigation, inspection or audit in a timely and lawful manner ’.

13. دغه محدودیتونه د بریتانیا د کنترولر او عام پلټونکی په برخه کی پلی کړای شی. د کنترولر او د عام پلونکی رپوت دی وکتل شی،

These restrictions apply to the UK Comptroller and Auditor-General, see Report by the Comptroller and Auditor-General, Thames House and Vauxhall Cross, HC Session 1999-2000, 18 February 2000, point 8. Available at:
http://www.nao.org.uk/publications/nao_reports/9900236.pdf

14. د فدرالی آلمان د بودجی مقررات، ۱۹۶۹، پارګراف ۳۱۰ الف؛ د آلمان د پارلمانی کنترول جرګه ګی د ارلانشاء، په آلمان کی پر استخباراتو پارلمانی کنترول ـ مواد،( برلین: پارلمان، ۲۰۰۳)، سرچینی او د استخباراتو انترنتی پاڼه....:

German Bundeshaushaltsordnung (BHO) (1969), Para. 10a (3); Secretariat of the German Parliamentary Control Panel, Die Parlamentarische Kontrolle der Nachrichtendienste in Deutschland – Materialien, (Berlin: Bundestag, 2003), p. 42; Website of the German Intelligence Service (Bundesnachrichtendienst) at:>http://www.bundesnachrichtendienst.
de/auftrag/kontrolle.htmBundeshaushaltsordnung .<

15.د فدرالی آلمان د بودجی مقررات ، ۱۹۶۹، پارگراف ......
German Bundeshaushaltsordnung (BHO) (1969), Para. 10a (2.)

16. د بیلگی په توگه د هالند د استخباراتی او امنیتی خدماتو کلنی رپوټ، ۲۰۰۳، په انترنتی پاڼه:
See, for example, Annual Report of the General Security and Intelligence Services of the Netherlands (2003), available at:
>http://www.minbzk.nl/contents/pages/9459/annual_report_2003_aivd.pdf>, pp. 69-70; Intelligence and Security Committee Annual Report 2002-2003, presented to parliament by the prime Minister by Command of Her majesty, june 2003, London, pp 8-13

# غوره چالچلندونو ته یوه لنډه کتنه

## اداره

### د اختیاراتو تعریف

- د یوې امنیتي او استخباراتي ادارې نقش باید په ښکاره او څرګنده توګه تعریف شي او هغوموضوعاتو پورې محدود شي چې جزئیات مشخص وي او په هغو کې هغه ګواښونه وښودل شي چې رښتیا هم د ملي امنیت او د مدني ټولنې جوښت ته ځیر وي؛
- ملي امنیت او مدني ټولنې جوړښت ته ځیر شوي احتمالي ګواښونه باید د قانون له مخې مشخص شوي وي؛
- د یوې استخباراتي ادارې کورنۍ واک او اختیار باید په روښانه توګه تعریف شي او هم هر هغه یو صلاحیت چې له هیواد څخه بهر عملي کیږي، باید د قانون د احکامو سره سم وي؛
- د هغې ادارې دندې او قدرت باید د هغې د صلاحیت په چوکاټ کې په هغه یو قانون کې روښانه کړای شي چې د پارلمان له خوا تصویب شوي وي؛
- په خاصه توګه په هغو دولتونو کې چې پخوا مطلق العنان رژیمونه یې درلودل، د قانون ساتونکې احکام ضروري دي ترڅو د سیاسي مخالفینو پرضد د امنیتي او استخباراتي ادارو د ناوړه استفادو مخه ونیوله شي.

### د امنیتي او استخباراتي ادارو د رئیس ټاکل

- تقنیني ارګان باید د امنیتي او استخباراتي ادارې د رئیس د ټاکلو او ګوښه کولو لپاره هغه قانون او مقررات وضع کړي چې نوموړې مقام ته د هغه د ټاکلو لپاره د اهلیت او کفایت اصغري معیارونه او د هغه د ګوښه کولو لپاره لاملونه تشریح کړي؛
- د حکومت د اجرائیه قوې سر بیره پارلمان هم باید د ټاکلو په پروسه کې د لاس وهنې حق ولري؛
- غوره ده چې په پارلمان کې دحکومت مخالف اړخ هم په دې ټاکلو کې د تصرف حق ولري؛
- باید د نوموړې ادارې پر رئیس باندې د فشار راوړلو او له هغه مقام څخه د ناوړه استفادې پر ضد قانون کې ساتونکې احکام موجود وي. همداراز د امنیتي ادارې د مسؤل له خوا د سرغړونې په صورت کې د هغه د ګوښه کیدو لپاره ساتونکې احکام خورا مهم دي؛
- د ټاکلو او ګوښه کولو لپاره باید په قانون کې معیارونه څرګند وي؛
- غوره ده چې د ټاکلو په پروسه کې د کابینې له یوه غړي څخه زیات ګډون ولري، د بیلګې په توګه د دولت د رئیس یا صدراعظم سربیره د کابینې اړوند وزیر.

## له ځانګړو اختیاراتو څخه د کار اخیستو لپاره اجازه ورکول

- د قانون د واکمنی یو غوښتنه دا ده چی د استخباراتی او امنیتی ادارو خانګړی صلاحیتونه باید قانونی بسټ ولری؛
- قانون باید روښانه، ځغرده او هراړخیز وی ترڅو هغه اداری ونه شی کړای چی له کمزورو قانونی امکاناتو حخه استفاده وکړی؛
- په هر قانون کی چی د څارنی لپاره جوړیږی باید انډول خوندی وساتل شی؛
- د استخباراتی و امنیتی ادارو له خوا د ځانګړو اختیاراتو حخه د ناوړه استفادی د مخ نیوی لپاره باید له هغو ادارو څخه بهر څارونکي وټاکل شی.
- ټول هغه اقدامات چی د هغو ادارو له خوا د تروریزم پرضد د مبارزی لپاره لاس لاندی نیول کیږی، باید بشری حقوق او د قانون واکمنی مراعات کړی. په یو وګړی باندی د تروریستی فعالیتونو د تور یا د هغو د کولو سره سره، امنیتی او استخباراتی اداری باید د هغه بنستیزبشری حقوق ( لکه ژوند کول، نه ربړول او داسی نور)، څرنګه چی د اروپا د بشری حقوقو محکمی او د مدنی او سیاسی حقوقو نړیوال منشور منلی دی، پښو لادی نه کړی؛
- له ځانګړو صلاحیتونو څخه د ناوړه کار اخیستو او زورزیاتو د مخی نیوی او بشری حقوقو د خوندی ساتنی لپاره باید د هغو ادارو چلند تر څارنی او ارزونی لاندی ونیول شی.

# معلومات او دوسیی

- د استخباراتی ادارو قانونی اختیارات باید د هغو مقصدونو او په هغو شرایطو کی چی د یو وګړی په هکله معلومات راټولیږی او دوسیه پرانیستله کیږی، د هغو ادارو د قانونی هدفونو سره سمون ولری؛
- قانون باید په دی موخه چی دغه معلومات د څه مودی لپاره وساتل شی، له هغو څخه د استفادی څرنګوالی څنګه دئ او د چا په اختیار کی دی، د یو اغیزمن کنترول لپاره لاره اواره کړی او هم د معلوماتو د ساتنی له نړیوالو اصولو سره سمون ولری. په دی برخه کی باید یو روښانه پروسه موجوده وی، څرنګه چی له هغو ادارو څخه بهر کسان صلاحیت ولری چی د دغی لاربښودنی د پلی کیدو څارنه وکړی؛
- امنیتی او استخباراتی اداری باید د معلوماتو ورکونی له حق او د قانون وثیقو ته د لاری درلودو څخه بی برخی نه وی. هغوی باید اجازه ولری، تر کومه ځایه چی امکان ولری، د ملی امنیت پوری اړوند اصول او د هغو ادارو صلاحیتونه بربنډ کړی؛[14]
- محکمی او نور خپلواک تأسیسات چی د قانون پر بنسټ جوړیږی، باید په دی برخه کی پوره آزادی ولری چی د هغو ادارو معلوماتی دوسیی ته لاس رسیدو سره پلټنه وکړی چی آیا د یو وګړی د شکایت په هکله قانون پلی شوی دی که نه.
- کله چی معلومات له بهر یا کومی نړیوالی مؤسسی له خوا لاس ته راشی، هغه باید هم استونکی او هم د اخیستونکی هیوادونو د کورنیو قوانینونو د څارنی د معیارونو تر کنترول لاندی ونیول شی؛
- یواځی په هغه صورت کی دی بهرنیو امنیتی ادارو یا وسلوالو ځواکونو یا یوی نړیوالی اداری ته معلومات وسپارل شی چی هغوی هم لکه د استونکی هیواد په څیر له معلوماتو څخه د استفادی لپاره ورته قوانین او معیارونه لری.

### کورنی لارښونه او د اداری کنترول

- استخباراتی اداری باید له قانون څخه لوړی نه وی. په همدی وجه هغه کار کونکی چی د ادارو په دننه کی د غیر قانونی چالچلندونو او چارو په هکله شک او له هغو څخه خبرتیا پیدا کوی ، دنده لری چی په دی هکله رپوټ ورکړی؛
- یو ډول چالچلند باید موجود وی چی د هغ له مخی د اداری د پټو غړو امنیت او مصؤنیت خوندی وساتل شی.
- د استخباراتی دارو کا ر کونکی باید د اخلاقی چلندونو په برخه کی وروزل شی. د زده کړو دغه ډول کورسونه باید د کار په ټوله موده کی دایر شی.
- د کورنی ادارو پالیسی باید د یو روښانه قانون په چوکاټ کی تعریف شی؛
- هغه موضوعات چی د حساس قوانینو په هنداره کی منعکس کیږی ، باید د کورنی اداری پالیسیو تر احکامو لاندی ونیول شی.

## د اجرائیه قوی نقش

### د وزارت د مقام له خوا د استخباراتو څخه خبرتیا او د هغو کنترول

- استخباراتی قانون باید هغه ته د لاس رسیدولپاره له دوو بیلابیلوحقونو څخه برخه من وی: د اجرائیه قوی حق چی وکړای شی هغو معلوماتو ته لاس اوړد کړی چی د استخباراتی ادارو په واک کی دی او د هغو ادارو حق چی وکړای شی له اړوند وزیر سره اړیکه ولری؛
- وزیر باید د قانون له مخی د امنیتی او استخباراتی موضوعاتو په هکله د پالیسی د بیانولو مسؤلیت ولری. همداراز هغه د قانون له مخی حق لری چی د هغو ادارو له خوا ورته په منظمه توګه رپوټ ورکړ شی او هغه د حساسو سیاسی موضوعاتو د پریکړی مسؤلیت هم لری.

### په پټو عملیاتو کنترول

- ټول پټ عملیات باید د پارلمان د تصویب شوو قوانینوله مخی د اجرائیه قوی د مسؤل غړی له خوا تصویب شی. په دی اړه باید منظم رپوټ چمتو شی؛
- داسی یو عمل باید د یو حکومتی مقام له خوا تر دی نامه لاندی چی ګواکی د یو پټ پروګرام یوه برخه ده تصویب نه شی چی د نړیوالو بشری حقوقو خلاف وی.

### نړیوالې همکاری

- نړیوالی همکاری باید د وزیرانو په اجازه سرته ورسیږی او د دی لپاره چی هغه له کورنی قانون او نړیوالو قانونی ژمنو سره سمون ولری، باید د قانون د ساتونکو احکامو سره جوخت وی؛
- ساتونکی احکام باید له قانون سره ضمیمه وی تر څو له استخباراتی معلوماتو څخه ګډه استفاده د بشری حقوقو پر معیارونو یا د کورنی معیارونو پر څارنی باندی د معاملی سبب نه شی.

### د وزارت د مقام له خوا د ناوړه استفادی مخ نیوئ

- استخباراتی قانون باید د وزیرانو له خوا د ناوړه استفادو د مخ نیوی او د هغو ادارو د سیاسی کولو پرضد ساتونکی احکام ولری. به دی لاره کی د قانون بیلابیل ساتونکی احکام کیدای شی چی په پام کی ونیول شی. د بیلګی په توګه، د وزیر ټول هدایتونه په یو لیکل شوی توګه وړاندی شی او یا هغه له اجرائیی حخه بهر یو پلټونکی ارګان ته د څیرینی لپاره وسپارل شی. بل دا چی په پارلمان کی مخالفو ګوندنو ته د استخباراتو د چالچلندونو په هکله معلومات ورکړی؛
- استخباراتی اداری باید د یوه سیاسی ګوند په ګټه کار ونه کړی؛
- استخباراتی اداری باید اعتصابونه، د حکومت پلویان یا مخالفین چی د یو دیموکراتیک جریان غړی دی او د قانون سره سم جوړ شوی او عمل کوی تر پوښتنی لاندی ونه نیسی.

# د پارلمان نقش

## د پارلمانی څارنی د ارګانونو واک او اختیار

- **د اختیاراتو افقی حدود**: د ټولو څانګو او فرعی چارواکو په ګډون ټوله استخباراتی ټولنه باید د پارلمان د یوه یا څو څارونکو ارګانونو تر څارنی لاندی وی؛
- د اختیاراتو عمودی حدود: د پارلمان د څارنی د ارګان اختیارات کیدای شی چی د لاند مسایلو پوری تړلی وی:

  الف ـ قانونیت، ب ـ ګټورتوب، ج ـ اغیزمنتوب، دال ـ د بشر د حقوقو د اړوندو تړنونو سره سمون، هـ ـ پالیسی/ د استخباراتی خدماتو اداری اړخونه؛
- ټولی دغه برخی باید د پارلمان د څارنی د ارګان یا د دولت د نورو ارګانونو تر پوښښ لاندی وی، د بیلګی په توګه د ملی څارنی دفتر، عام پلټونکی، محکمه. د ارګانونو د تضاعف او تداخل مخه باید ونیوله شی؛
- د یو پارلمانی ارګان اختیارات باید ښکاره او څرګند وی؛
- د پارلمانی څارنی سپارښتنی او رپوټونه باید: الف ـ سپارښتنی وشی، ب ـ په پارلمان کی تر بحث لاندی ونیول شی، ج ـ د دی مسألی په پام کی نیونی سره چی آیا هغه د حکومت له خوا او که د استخباراتی ادارو له خوا پلی کیږی، باید د هغو څارنه وشی،
- مالی منابع او قانون واک چی د پارلمانی څارنی د ارګان په اختیار کی پریښودل کیږی باید د هغه له صلاحیتونو سره سمون ولری.

## د پارلمانی څارنی د ارګان جوړښت

- پارلمانی ارګانونه باید په ښکاره توګه د پارلمان په تصرف کی وی؛
- پارلمان باید د هغی کمیتی د غړو د ټاکلو او ګوښه کولو مسؤلیت په غاړه ولری چی د پارلمان په استازیتوب د څارنی دنده لری؛
- په پارلمان کی ټول ګوندونه باید د څارنی په کمیته کی استازی ولری، البته د هر ګوند د خپل سیاسی غښتلتوب په کچه؛[14]

- د ځارنی په ارګانونو کی باید د حکومت وزیران غړیتوب ونه لری (هغه غړی چی د حکومت په کابینه کی دنده اخلی هغوی باید د ځارنی له ارګانونو څخه استعفا وکړی)، پرته له دی د هغو ارګانونو خپلواکتوب تر پوښتنی لاندی راځی.[15] عین دا مسأله د امنیتی او استخباراتی ادارو د پخوانیو غړو په برخه کی هم د تطبیق وړ ده؛
- د کمیتی غړی باید د پارلمان له غوښتنی سره سم د خپل مقام له مصؤنیت څخه برخه من وی، نه دا چی د حکومت د رئیس له خوا؛
- د کمیتی رئیس باید د پارلمان یا خپله د کمیتی له خوا وټاکل شی، نه د حکومت له خوا.

## د ځارنی د ارګان پلټنه او تصفیه

- پارلمانی غړی باید یوازې هغه وخت تر پلټنی لاندی ونیول شی چی دځارنی کمیته له اپراتیفی حساسو اسنادو او موادو سره کار ولری؛
- کله چی د پارلمانی غړو امنیتی تصفیه د استخباراتی و امنیتی ادارو له خوا ونه منل شی، باید هغه لاری چاری ومیندلی شی چی له رامینځ ته شوی شخړی سره له قانون سره سم چلند وکړی او خپل وروستی نتایج پارلمان او یا د هغه ریاست ته وړاندی کړی.
- د پلټنی معیارونه باید روښانه، عام، ټینګ او مضبوط اوسی تر څو د یموکراتیکی کتنی تأمین شی.

## د معلوماتو او اسنادو د لاس ته راوړنی لپاره پارلمانی صلاحیتونه

- د ځارنی ارګان باید د پلټنی لپاره قانونی صلاحیتونه ولری؛
- د ځارنی د ارګان غړی باید ټولو هغو معلوماتو ته چی د خپلی دندی تر سره کولو لپاره ورته اړتیا لری، په آزاده توګه لاس اوږد کړای شی؛
- د ځارنی ارګان باید د شاهدانو د احضار او له هغو څخه د قسم په ورکولو سره د بیان د اخیستو لپاره صلاحیت ولری؛
- ترکومه ځایه چی د ځارنی ارګان پوری اړه نیسی، اجرائیه باید د ځارنی ارګان د مسایلو له بهیر څخه خبر کړای شی؛
- د ځارنی ارګان باید په غیر قانونی توګه د معلوماتو د بربنډولو په مخ نیوی کی مناسب ګامونه واخلی؛
- هغه شخړه چی د معلوماتو د لاس ته راوړلو په سر د استخباراتی ادارو او دځارنی د ارګان تر مینځ پیدا کیږی باید د یو تحلیل سره پارلمان ته وړاندی شی.

## پارلمان ته ریپوټ ورکونه

- د ځارنی د پارلمانی کمیتی د ریپوټ ورکونی او د هغه د څرنګوالی مسؤلیت او د شواهدو د خپرولو لپاره پریکړه باید د هغی کمیتی خپل صلاحیت وی؛
- هغه کمیته لږ ترلږه په کال کی یو ځل او یا څو ځلی، تر کومه ځایه چی ورته اړتیا وی، پارلمان ته خپل ریپوټ وړاندی کوی؛
- دا د ځارنی د پارلمانی کمیتی خپل واک او اختیار دی چی د امنیتی دلایلو له امله پریکړه وکړی چی یو ریپوټ په بشپړه او یا یوه برخه یی په عامه توګه خپور شی که نه.
- له خپریدو څخه مخکی باید د هغه ریپوټ یوه مسوده حکومت او استخباراتی ادارو ته وسپارل شی چی ضروری حذفیات په کی وشی.

## د بودجی کنترول

- د څارنی ارګان باید ټولو بودجوی اسنادو ته لاس ورسیږی، البته په دی شرط چی داسی احکام وضع کړای شی چی د پټو معلوماتو د بربنډیو مخه ونیسی؛
- د استخباراتی او امنیتی ادارو پر بودجوی څارنی باید هغسی اصول واکمن وی چی د حکومت پر نورو فعالیتونو باندی دی. په دی اړه استثنا باید د قانون له مخی روښانه کړای شی. له دی امله د بودجی د څارنی صلاحیت باید د استخباراتو د اختصاصی او څارنی کمیتو تر مینځ په ګډه توګه د عمل جامه واغوندی؛
- قدرت لرونکی پارلمانونه باید د بودجی د تصمیم نیونی حق ولری؛
- استخباراتی اداری باید له بودجی څخه یوائی د هغو فعالیتونو لپاره کار واخلی د قانون ارګان اجازه ورکوی،
- استخباراتی اداری باید اجازه ورنه کړی چی د تقنینی ارګان له اجازی پرته له هغو ادارو څخه پیسی بهر انتقال شی.

# د پلټنی د بهرنیو ارګانونو نقش

## د وګړو شکایتونو ته د حل لاره میندل

- هغه مقام یا تریبونال چی شکایتونو ته غوږ نیسی، باید هغه کسان وی چی د حقوقی او قانونی شخصیت او د خپل ماموریت په دوره کی له خپل مقام څخه د نه ګوښه کیدو له قانونی مصؤنیت حخه برخه من وی؛
- هڅه دی وشی چی شکایتونو ته د ځواب ورکونی پروسه د خلکو په حضور کی بشپړه شی. که چیری پروسه په یوه برخه کی د عامو خلکو په مخ تړل کیږی، خو د شکایت کونکی او یا د هغه د وکیل په مخ باید هیڅکله ونه تړل شی؛
- که چیری د کومی ملی ګټی د مصلحت له مخی لازمه وګڼله شی چی د پلټنی په پروسه کی شکایت کونکی هم باید برخه ونه لری، دغه تصمیم باید یوائی د هغه یو مقام یا تریبونال صلاحیت باید وی چی د شکایت په پلټلو لاس پوری کوی. او تلافی کونکی مرجعی (لکه خاصی مشورتی شورا) ته باید داډ ورکړ شی چی پروسه په عدل او ناپلویتوب سرته رسیږی؛
- تریبونال یا پلټونکی مقام باید د الزامی پریکړو صلاحیت ولری ترڅو شکایت کونکی، که چیری شکایت یی پر ځای وی، تلافی کړای شی. همداراز په دی اړه د هغو اسنادو او شواهدو د له مینځه وړو صلاحیت هم باید موجود وی چی امینتی او استخباراتی اداری د شکایت کونکی به هکله ټول کړی دی.
- د پلټنی او تحقیق حدودو باید په قانون کی څرګندتوب ولری، هغه باید یوائی د امینتی او استخباراتی ادارو د کار د چلند پوری محدود نه وی بلکه لمن یی د هغو ادارو بشپړ چالچلند پوری پراخه وی.

## د خپلواکو چارواکو له خوا د حکومت د اداری په دننه کی د ادارو څا رنه

- د امنیتی او استخباراتی ادارو د کارونو ارزونه باید د خپلواکو او ناپلوو مقاماتو له خوا( لکه خپلواک رپوټ ورکونکو یا عام پلټونکو) سرته ورسیږی او له لاندو معیارونو سره سمون ولری؛
- هغه مقام چی د کارونو ارزونه سرته رسوی باید له حقوقی او قانونی شخصیت او د خپل ماموریت په موده کی د ګوښه کیدو له مصؤنیت څخه برخه من وی؛[12]
- د ارزونی او کتنی د صلاحیت حد او حدود باید په قانون کی صراحت ولری او نه یواځی د کارځرنګوالی بلکه د امنیتی او استخباراتی ادارو اپراتیفی کارونه هم په کی شامل وی؛
- هغه مقام چی د ارزونی او کتنی لپاره ټاکل کیږی باید په کافی اندازی له قانونی صلاحیت څخه برخه من وی تر څو هغه موضوعات او شواهد چی د امنیتی او استخباراتی ادارو صلاحیتونو څخه کار اخیستو پوری اړه لری ارزونه وکړای شی؛
- هغه مقام باید نامحدود واک او اختیار ولری ترڅو د یو حکم یا رپوټ یا یوی پریکړی چی د ارزونی په پروسه کی نیول کیږی، شکل، حد او حدود وټاکی.

## د محاسباتی پلټنی خپلواک دفترونه

- د محاسباتو د دیوان د خپلواکتوب د خوندی ساتنی لپاره باید د هغه چالچلندونه د قانون پر بنسټ ولاړ وی، هغه دیوان باید پارلمان ته رپوټ ورکړی او د محاسباتو د پلټنی دیوان رئیس باید د پارلمان له خوا وټاکل شی؛
- پر هغه دیوان باندی واکمن قانون باید د هغه دیوان د اختیاراتو، د رپوټ ورکونی میکانیزم، د رئیس ټاکل او همدارز پټو معلوماتو ته د لاس غزولو حد او حدود ښکاره کړی؛
- عام پلټونکی باید پټو معلوماتو ته بشپړه لاس رسیدنه ولری ترڅو نه یواځی په مالی پلټنو لاس پوری کړی، بلکه د ځینو خاصو پروژو اجرائیی توانمندی هم تر پوښتنی لاندی ونیسی؛
- د پلټنی دیوان باید صلاحیت ولری ترڅو نه یواځی په مالی پلټنو لاس پوری کړی ، بلکه د ځینو خاصو پروژو اجرائیی توانمندی له جزئیاتو سره تر غور لاندی ونیسی؛
- دا چی دپلټنی دیوان له پټو معلوماتو سره اړیکی لری، باید د قانون ساتونکی احکام وضع شی ترڅو د پلټنی د نتایجو د خپریدو او یا د هغو د یوی برخی له خپریو حخه مخ نیوی وشی.

# د وسلوالو ځواکونو د دیموکرا تیک کنترول لپاره د جینوا مرکز (DCAF)

د وسلوالو ځواکونو د دیموکراتیک کنترول لپاره د جینوا مرکز (DCAF) چی په ۲۰۰۰ کال کی د سویس د حکومت په نوښت جوړ شوو، دولتی او غیر دولتی مؤسسی د وسلوالو او امنیتی ځواکونو د دیموکراتیک کنترول لپاره په خپلو هڅو کی تشویقوی او ملاتړ تری کوی او همداراز هغه امنیتی سمونوالئ چی له دیموکراتیکو کچو سره برابر وی وده او پراختیا ورکوی.

د ستونزو د پیژندلو، له تجربو څخه د زدکړو اوپه امنیتی برخی کی د دیموکراتیکی واکمنی لپاره د غوره چالچلندونو د وړاندی کولو په موخه هغه مرکز د معلوماتو د راټولولو او دخیړنو د سرته رسولو لپاره کار کوی. دغه مرکز د عمل په ډګر کی د کارپوهانو د کار له لاری او له خپلو مرستو سره د ټولو مینه والو، بیا په خاصه توګه حکومتونو او پارلمانونو، پوځی مراجع، نړیوالو سازمانونو، د غیر حکومتی مؤسسو او علمی کړیو په خدمت کی دئ.

په لومړی سر کی د DCAF د کار ساحه د اروپا ـ اتلانتیک (اروپا ـامریکا) سیمی ته ځیر ده ، خو په اوږده موده کی هغی پوری نه محدودیږی.

د وسلوالو ځواکونو د دیموکراتیک کنترول لپاره د جینوا مرکز یو نړیواله مؤسسه ده چی د سویس د حکومت د قانون پر بنسټ کار کوی. د DCAF شورا په ۲۰۰۵ کال کی د سویس په شمول له ۴۶ حکومتونو، د اروپاـ اتلانتیک د سیمی له ۴۱ دولتونو، دری افریقایی او د جینوا د کانتون څخه جوړه شوه. د DCAF مشورتی جرګه له یوی ۶۰ کسیزی ډلی څخه جوړه شوی چی په مختلفو برخو کی فعالیت لری. د هغه مرکز د کار کونکو شمیر لږترلږه پنځوسو کسانو ته رسیږی چی د نړی د څه ناڅه دیرش هیوادونو څخه دی. د DCAF د بودجی زیاته برخه د سویس د دفاع وزارت ، د ملکی او سپورتی چارو او د بهرنیو چارو د وزارت له خوا ورکوله کیږی.

د DCAF په هکله تفصیلی معلومات په انترنتی پانه www.dcaf.chکی میندلی شی.

اړیکه او پته

Geneva Center for the democratic Control of Armed Forces (DCAF)
Rue e Chantepoulet 11, PO Box 1360,
CH-1211 Genva 1, Switzerland
Tel: 0041 22 741 7700; fax:0041227417705
e-mail:info@dcaf.ch;
website: www.dcaf.ch

# د دورهام (Dorham)
# د پوهنتون د بشری حقوقو مرکز

دغه مرکز په ۲۰۰۱ کال کی د بریتانیا د دورهام د پوهنتون د حقوقو د څانگی په چوکاټ کی تأسیس شوو ترڅو د هغی څانگی د مینی وړ موضوعات او د هغه د غړو د فعالیتونو تر مینځ د بشری حقوقو په ټولو ساحو کی همغږی رامینځ ته کړی. د هغی څانگی له نیمایی څخه زیات د بشری حقوقو په برخه کی څیړنیز پروگرامونه لری او په دی اړه یی ډیر کتابونه او مقالی خپری کړی دی. د هغوی د مینی وړ په موضوعاتو کی د بشری حقوقو له نړیوالو قوانینو څخه نیولی(د سیمه ایزو بنسټونو له قوانینونو لکه د اروپا شورا او د اروپا اتحادیه) تر د بریتانیا د ۱۹۹۸ کال د بشری حقوقو د قانون تر تطبیق پوری شامل دی. د بشری حقوقو په سر د بحث او خبرو څرنگوالی او متدودولوجی د دورهام د پوهنتون د بشری د حقوقو د مرکز د پاملرنی په زړه کی ځای لری چی په دی اړه څرkگه استدلال او څرنگه قضاوت وشی. دغه مرکز د بشری حقوقو ځینو خاصو اړخونو او د خاصو موضوعاتو پالیسی ته پاملرنه لری.

دغه مرکز له مسلکی او قضایی حلقو سره د فعالی همکاری په لټه کی دئ. دغه مرکز د مشاورینو د یو کوچنی ډلی سره چی د میرمن Justice Black له خوایی لارښونه کیږی، کار کوی. په دغی ډلی کی د نورو قضایی سیستمونو مسلکی حقوق پوهان هم گډون لری. د دورهام د پوهنتون د بشری حقوقو مرکز هر کال د کلنی ویناوو یو رساله خپروی. د خپرونو دغه لړی د اریون د لکچرونو یا ویناوو په (The Irvine Lectures in Human Rights) په نامه یادیږی.
دغه لړی د Lord Irvine of Lairg له خوا په ۲۰۰۲ کال کی پیل شوه.

دغه مرکز ته د فرهنگی او بشری څیړنو د بورډ(Arts and Humanities Research Board) له خوا د بشری قوانینو پر بنسټ د قضایی استدالال د یوی پروژی لپاره ۱۳۹ زره پونډ مالی مرسته ورکړای شوی ده. په دغی پروژی کی د بشری حقوقو د قوانینو پر بنسټ د قانون په خاصو ساحه کی د قضایی استدلال سیمینارونه شامل دی چی د مونوگراف په توگه خپریږی.

پته او اړیکه

Proessor Ian Leigh, Co-Director
50North Bailey, Durham DH1 3ET, United Kingdom
Phone: 00 44 191 374 2035
Fax: 00 44 191 374 2044
Email: ian.leigh@durham.ac.uk
Website.http://www.dur.ac.uk/Law

# د ناروی د پارلمان
# د استخباراتی څارنی کمیته

له ۱۹۹۶ کال څخه را په دی خوا د ناروی د استخباراتی خدماتو څارنه د هغه هیواد د یو پارلمانی څارونکی ارګان له خوا ترسره کیږی چی د ناروی د پارلمان د استخباراتی څارنی د کمیتی په نامه یادیږی. دغه کمیته د ناروی د امینتی پولیسو ارګان، استخباراتی اداره او د ملی امنیت اداره تر څارنی لاندی نیسی. د دغی کمیتی غړی د پارلمان له خوا چی د Stortinget په نامه یادیږی له خوا ټاکل کیږی. خو دغه غړی نه شی کولای چی د پارلمان غړیتوب هم ولری. دغه شرط په دی وجه اینسودل شوی چی د څارنی ارګان باید له حکومت څخه جلا او په خپلو فعالیتونو کی له پارلمان څخه خپلواکتوب ولری.

دغه څارنی په منظمه توګه هغه اداری تر پلټنی لاندی نیسی. دغه کمیته هغو شکایتونو ته هم پاملرنه کوی چی په ناروی کی د یو وګړی یا سازمان له خوا د هغو ادارو په هکله عنوان شی. دغه کمیته یواځی یو سازمانی جوړښت نه دی، بلکه د دندو له مخی د هغی د مسؤلیت ساحه څرګنده شوی ده. د دغه ډول څارنی موخه په لومړی سر کی د وګړو د مدنی حقوقو خوندی ساتل دی. همداراز دغه کمیته غواړی چی د عمومی څارنی له لاری ډاډمنه شی چی د امنیتی او استخباراتی ادارو فعالیتونه د قانون په چوکاټ کی ترسره شوی دی او تر سره کیږی. دغه کمیته د خپلو فعالیتونو په هکله هر کال داسی یو رپوټ پارلمان ته وړاندی کوی چی پټه بڼه نه لری. البته د اړتیا په صورت کی هغه کولای شی هر وخت د خاصو موضوعاتو په هکله رپوټونه وړاندی کړی.

دغه کمیته معلوماتو او ادارو ته د لاس غزولو په برخه کی له پراخو صلاحیتنو حخه برخه منه ده. په همدی وجه د هغی غړی مکلف دی چی د اسرارو په ساتلو کی له ډیری زیاتی پاملرنی څخه کار واخلی. دغه کمیته د څیړنو پر بنسټ د څارنی له اصل څخه کار اخلی.

پته او اړیکه

The Norwegian Parliamentary Intelligence Oversight committe
Postal address: Sortinget, 0026, Oslo
Office address: Nedre Vollgate 5-7
Tel: 00 47 23 31 09 30 - Fax: 23 31 09 40
e-mail: post@eos-utvalget.no
website: www. eos-utvalget.no

# ونډه اخیستونکی

## مؤلفین

Dr. Hans Born
د وسلوالو ځواکونو د دیموکراتیک کنترول لپاره د جینوا د مرکز لوړ پوړی غړی
Senior Fellow, Geneva Centre for the Democratic Control of Armed Forces, Geneva, Switzerland.

Professor Ian Leigh
د حقوقو استاد، د دورهام د پوهنتون د بشری حقوقو د مرکز مدیر، بریتانیا
Professor of Law, Co-Director of the Human Rights Centre, Durham University, Durham, United Kingdom.

## د لیکونکی ډلی مرستیالان

Mr. Thorsten Wetzling
د څیړنی مرستیال، د وسلوالو ځواکونو د دیموکراتیک کنترول د جنیوا مرکز، سویس
Research Assistant, Geneva Centre for the Democratic Control of Armed Forces, Geneva, Switzerland.

Ms. Ingrid Thorburn
د څیړنی مرستیال، د وسلوالو ځواکونو د دیموکراتیک کنترول د جنیوا مرکز، سویس
Research Assistant, Geneva Centre for the Democratic Control of Ared Forces, Geneva, Switzerland.

## د مشورتی بورد غړی

( دهغوی د شخصی امکاناتو په چوکاټ کی)

Professor Iain Cameron
د عامه نړیوال قانون په برخه کی استاد، د سویدن اوپسلا پوهنتون
Professor in Public International Law, Uppsala University, Uppsala, Sweden.

Mr. Alistair Corbett
د استخباراتی او امنیتی کمیتی منشی، لندن، بریتانیا
Clerk to the Intelligence and Security Committee, London, United Kingdom.

Mr. Alain Faupin
د وسلوالو ځواکونو د دیموکراتیک کنترول د جینوا د مرکز د ریاست پخوانی مرستیال، جینوا، سویس
Former Deputy Head of Think Tank, Geneva Centre for the Democratic Control of Armed Forces, Geneva, Switzerland.

Mr. Hakon Huus-Hansen
د ناروی د پارلمان د استخباراتی څارنی د کمیتی د دارلانشاء آمر، اوسلو، ناروی

Head of the Secretariat, Norwegian Parliamentary Intelligence Oversight Committee, Oslo, Norway.

Mr.Kalman Kocsis

د استخباراتی اصلاحاتو لپاره د متخصصینو د کمیسیون رئیس، د لوړی نمایندګی دفتر، سارابیو، بوزنیا او هرزګووینا، د هنګری د بهرنیو استخباراتی خدماتو پخوانی آمر

Chairman of the Expert Commission on Intelligence Reform, Office of the High Representative, Sarajevo, Bosnia and Herzegovina; Former Head of Hungarian Foreign Intelligence Service.

Dr. Fredrik Sejersted

د حقوقی مسایلو وکیل، د لوی څارنوالی دفتر، اوسلو، ناروی

Attorney at Law, Office of the Attorney-General, Oslo, Norway .

Mr. Fred Schreier

سر مشاور، د وسلوالو ځواکونو د دیموکراتیک کنترول مرکز، جینوا، سویس

Senior Consultant, Geneva Centre for the Democratic Control of Armed Forces, .Geneva, Switzerland

**مشوره ورکونکی**

(د شخصی امکاناتو په چوکاټ)

Dr. Andrew Butler

جزایی حقوق، ویلینګټن، نوی زیلاند

Crown Law, Wellington, New Zealand.

Ms. Marina Caparini

د وسلوالو ځواکونو د دیموکراتیک کنترول مرکز، جینوا، سویس

Senior Fellow, Geneva Centre for the Democratic Control of Armed Forces, Geneva, Switzerland.

Dr. Richard B. Doyle

د عامه بودجی جوړونی لپاره د پروفیسور مرستیال، ناوال پست ګرجویت سکول، د امریکا متحده ایالات

Associate Professor of Public Budgeting, Naval Postgraduate School, Monterey, USA.

Dr. Willem F. van Eekelen

د ګرونینګتن په پوهنتون کی د اروپایی امنیت د مطالعاتو د مرکز د مشورتی بورد رئیس، د وسلوالو ځواکونو د دیموکراتیک کنترول د جینوا د مرکز اود سولی د تحقیقاتو لپاره د ستهکلم د انستیتوت د مشورتی بورد غړی ، د هالند د سنا پخوانی غړی، د هالند د دفاع پخوانی وزیر، د اروپا د اتحادیی پخوانی عمومی منشی.

President of the Advisory Board of the Centre for European Security Studies at the University of Groningen, Member of the Advisory Boards of the Geneva Centre for the Democratic Control of Armed Forces and of the Stockholm Institute Peace Research Institute, former Member of the Netherlands' Senate, former Minister of Defence of the Netherlands and former Secretary-General of the Western European Union.

Prof. Dr. Peter Gill

د لیورپول د جان موریس په پوهنتون کی د سیاست او امنیت پروفیسور، بریتانیا

Professor of Politics and Security at Liverpool John Moores University, United Kingdom.

Mr. George B. Lotz II

د استخباراتی څارنی په چارو کی د دفاع وزارت معین، واشنګتن دی سی. د امریکا متحده ایالات

Assistant to the Secretary of Defense for Intelligence Oversight, Washington DC, USA.

Dr. Barry R. Wickersham

د زدکړو مدیر، د استخباراتی څارنی د چارو لپاره د دفاع وزیرد مرستیال دفتر، واشنګتن دی سی، د امریکا متحده ایالات .

Director of Training, Office of the Assistant to the Secretary of Defense for Intelligence Oversight, Washington DC, USA.

# د اصطلاحاتو د معنی فهرست

**استخبارات**

هغه معلومات چې حکومت يې راټولوي او له هغو څخه کار اخلي، استخبارات نوميږي.
په يو څه باندې پوهيدل، څه په ټوليزه توګه يا په خاصه توګه د دولتي چارو د هنر يوه برخه ده (John Keegan). په حکومت کې د استخباراتو اصطلاح معمولا يوه محدوده معنی لري. استخبارات له نړيوالو اړيکو، دفاع، ملي امنيت، له پټو فعاليتونو او هغه کارپوهو تأسيساتو سره چې استخبارات نومول کيږي، اړيکې او تړاو لري (Michael Herman). استخبارات کيداى شي چې يو ډول معلومات وي، کيداى شي چې سازمان وي چې د معلومات د ميندلو په لټه کې دي او کيداى شي چې يو فعاليت وي چې استخباراتي سازمان يې په لاره اچوي(Sherman Kent). د حکومت په چوکاټ کې د استخباراتو بنسټ پر يو شمير سازمانونو چې د «استخباراتي خدمات ياديږي» اينودل شوي دي. هغه څه چې هغوی تر سره رسوي، د استخباراتي فعاليتونو په نامه ياديږي (Michael Herman).

**امنيت**

کله چې له امنيت څخه نوم اخيستل کيږي مقصد يې ډيرې وخت ملي امنيت دی او موخه يې د يو اولس پر خلاف د ګواښونو او يا د ګواښونو د خطر مخ نيوی دی. سر بيره پر دی امنيت هغه يو چلند دی چې دهغه په مرسته له ټولنيز، سياسي، چاپيريالي او اقتصادي لحاظه د يو وګړي آزادي، ژوند او بشري کرامت خوندي ساتل کيږي.

**احضار**

که چيرې يوه پارلماني کميته د احضار صلاحيت ولري اجازه لري چې يو سړي د پوښتنې او ګرويځنې لپاره وغواړي.

**د خپل يو همکار بربنډول**

د کار په ساحه کې بربنډونه هغه وخت رامينځ ته کيږي چې يو مامور بل مامور له قانون څخه د سرغړونو يا د خپل ماموريت د مقرراتو د کار د پاليسی په خلاف عمل وکړي. ډير هيوادونه د بربنډونې پر اهميت باندې پوه شوي دي، په همدې وجه ځينې مقررات يې تاکلي ترڅو د هغو پر بنسټ هغه کسان چې خپل همکار مامور بربنډوي، له جزايي څارنې او تعقيب څخه خوندي وساتل شي. يو عمل هغه وخت بربنډونه ګڼل کيږي چې يو مامور د بل په هکله چې له قانون څخه يې سرغړونه کړې ده، د امنيتي اداری څخه بهر خبرې وکړي. معمولا دغه ډول بربنډونې او شکايت حکومت يا د حکومت اجرايي ارګان ته کيږي. خو که چيرې د اداری په دننه کې دغه ډول بربنډونه يا شکايت عنوان شوی، هغه ته ماموريتي بربنډونه نه وې او دا قانوني محافظت نه لري. همداراز خبرې رسنيو ته بربنډونه هم قانوني حفاظت نه لري خو د پارلمان د غړو په وړاندې بربنډونه د قانون له ساتنې څخه برخه منه ده.

**پلټنه او بيلانس**

دغه طرح له اساسي قانون او نورو قوانينو څخه اخيستل ميکانيزمونه تشريح کوي او د هغو هدف د يو ګونديز واکمنی مخ نيوی دی. پر استخباراتي خدماتو باندې د څارنې په پام کې نيونې سره، اجرائيه، قضائيه او مقننه د استخباراتي ادارو د حساب او ځواب ورکونې په پروسه کې خورا مهم نقش لوبوي. د امنيتي خدماتو ديموکراتيک کنترول دی وکتل شي.

**قضایی پلټنه**
قضایی پلټنه د قانون په مختلفو نظامونو کی مختلف تعریف لری. د قانون په هغو نظامونو کی چی د اساسی قانون محکمه شته دی، معمولا په اساسی قانون کی دهغی محکمی صلاحیت څرګند شوی دی ترڅو یو قانون یا د حکومت د یوه کار کونکی رسمی چلند له قانونی لحاظه تر پلټنی لاندی ونیسی. د اساسی قانون محکمه صلاحیت لری ، که چیری یو قانون یا د اجرائیه قوی چلند یا د حکومت یو کار کونکی کړه وړه له قانون سره سمون ونه لری، هغه قانون فسخه کړی او یا په هغه کی د بدلون لپاره غوښتنه وکړی. په بریتانیا کی قضایی تفتیش هغه یو صلاحیت ته وایی چی محکمی ته د حکومت د اجراآتو د څارنی لپاره تری استفاده کوی، د بیلګی په توګه محکمه صلاحیت لری چی ومومی چی آیا د حکومت چلند د قانون او اروپایی منشور سره سمون لری که نه. په دی کتاب کی له قضایی پلټنی څخه مقصد هغه یو محدود صلاحیت دی چی محکمو ته ورکړ شوی ترڅو د استخباراتی ادارو د حکومت د وزیرانو چلند وپلټی چی آیا هغه له اساسی قانون سره سمون لری که نه.

**تناسبتوب**
تناسبتوب په دری اړخونو پوری تړلی دی: ۱- د یو اعتراضی اقدام او د هدف تر مینځ د یوی معقولی اړیکی شته والی؛ ۲- ډیر زیاته هڅه په دی موخه چی بشری حقوقو او آزادیو ته تاوان ونه رسیږی؛ ۳- د اقداماتو د محدودولو او قانونی هدفونو تر مینځ یو مناسب انډول (د کانادا ستره محکمه).
د اروپا د بشری حقوقو منشور د تناسبتوب له اصل څخه په دی موخه کار اخلی تر څو د دولتی چارواکو صلاحیتونه کنترول او اختیارات خوندی وساتل شی.

**پلټنه او تصفیه**
ځینی ماموریتونه او دندی شته دی چی د امنیتی تصفیو لپاره غوښتنه کوی. دغه ماموریتونه او دندی د حکومت او امنیتی تصمیم نیونو د ټولو ارګانونو په کچه کی موجود دی، لکه استخباراتی خدمات، د وزارت مقام او وسلوالو ځواکونو مقامونه. همداراز د پارلمان د څارنی د کمیتی غړی هم کیدای شی چی تر امینتی تصفیی لاندی ونیول شی. د یادونی وړ ده چی ټول پارلمانونه نه غواړی چی دهغوی د څارنی کمیتی غړی دی تر امنیتی تصفیو لاندی ونیول شی ځکه دغه ډول تصفیه د دی معنی لری چی پارلمان د اجرائیه قوی د یوی څانګی تر لاس لاندی دئ. امنیتی تصفیه د یوی بریالی پلټنی په پروسی پوری تړلی ده. له دی ډول یوی تصفیی سره دا روښانه کیږی چی یو سړی پټو معلوماتو ته د لاس اوږدولو لپاره د اعتماد په کومه سطحه کی قرار لری.

**مدنی ټولنه**
مدنی ټولنه هغو تأسیساتو، سازمانونو او هغو چالچندونو ته ویل کیږی چی د دولت، سوداګری د نړی او د کورنی ترمینځ ځای لری. په خاصه توګه غیر انتفاعی او خیریه سازمانونه، بشری مؤسسی، ټولنیز او سیاسی غورځنګونه، بیلابیل ټولنیز فعالیتونه او فرهنګی ارزښتونه چی هغوی پوری تړلی دی ، ټول مدنی ټولنی کی شامل دی.

**ځواب ورکول او حساب ورکول**
د صلاحیتونو او دندو په تر سره کولو کی د استازو که انتخاب شوی او یا ټاکل شوی وی، استعداد او توان ته ځواب ورکول او حساب ورکول ویل کیږی. دغه مسأله همداراز د امنیتی خدماتو د کارکونکو په برخه کی د پلی کیدو وړ ده. حساب ورکول د اجرائیه د پلټنی لپاره یو سیاسی هدف دی چی په نتیجه کی یی له قدرت څخه د ناوړه استفادی امکان کمزوری کوی او هم هغه یو اپراتیفی هدف دی ترڅو حکومتونه وکړای شی چی په اغیزمنه توګه کار وکړی.

**غوره واکمنی**
د غوره واکمنی بنسټیزی ستنی دا دی چی حکومت د خلکو پر ارادی ولاړ وی، عادل او حساب ورکونکی وی او په پلان جوړولو کی سلا مشوره وکړی. حکومت باید په عامه اداری برخه کی اغیزمن او ګټور وی او د مدنی ټولنی ( نړیوال بانک) د ونډی په لټه کی وی او د هغی لپاره لاره اواره کړی.

**بشری حقوق**
هغو حقوقو او آزادیو ته وایی چی ټولو انسانانو پوری اړه ولری او د هغو په پلی کولو کی حکومت باید خنډ پیدا نه کړی. دغه حقوق عبارت دی د ژوند کولو او خپلواکی حق، د فکر اود بیان آزادی او د قانون په وړاندی مساوات. دغه حقوق د بشری حقوقو په نړیوالو تړونونو کی څرګند شوی دی لکه د بشر د حقوقو په نړیوالی اعلامیی (UNDHR) کی، د اقتصادی، ټولنیزو او فرهنګی حقوقو په هکله نړیوال منشور (ICESCR) ،د اروپا د بشری حقوقو منشور (ECHR) او ځینی نور سیمه ایزی ژمنی لکه د بشر او خلکود حقوقو په هکله د افریقا تړون، د بشری حقوقو په هکله امریکا یی تړون او د بشری حقوقو په هکله آسیایی تړون.

**د قانون واکمنی**
قانون چی په هغه کی د بشری حقوقو قانون هم شامل دی باید د یو دیموکراتیک حکومت له خوا وضع او عملی شی او په منظمه توګه د یو خپلواک قضایی صلاحیت لرونکی ارګان له خوا پلی کړای شی. د قانون واکمنی د حساب ورکولو لپاره هم په عامه او هم په خصوصی سکتور کی یو حتمی شرط دئ. د قانون د واکمنی پایښت له قوانینو څخه د پوره خبرتیا، پرته له توپیر څخه د هغو تطبیق او اغیزمنو اجراآتو پوری اړه لری. قانون باید د وړاندوینی او اجراآتو وړ وی، قانون باید له هغو متودونو څخه برخه وی چی په هغه کی بدلونی راوستلی شی او وګړی هغه د عدل او انصاف وړ وکڼی او له هغه څخه اطاعت وکړی.

**دیموکراسی**
دیموکراسی یعنی د خلکو استازیتوب د خلکو له خوا اود خلکو لپاره. آزاد انتخابات، د قانون واکمنی، خپلواک صلاحیتونه، بشری حقوقو ته درناوی د دیموکراسی ځانګړی نښی نښانی دی. بشری حقوق دی وکتل شی.

**د اداری رئیس**
د امنیتی او استخباراتی اداری رئیس د اړوند وزیر له خوا ټاکل کیږی. هغه د نوموړی اداری کنترول او منجمنت په غاړه لری او دنده لری چی د هغی اداری ماموریتونه او د هغی د مشری امرونه او سیاسی لارښونی په خپل وخت سره سرته ورسوی.

**روښانتیا (شفافیت)**
په حکومت یا د حکومت په ادارو کی تأسیسات، شبکی او د چارو عادی بهیر چی په منظمه توګه د پارلمان او نورو بنسټونو او یا د مدنی ټولنی په ټولنیزو او اقتصادی ساحو کی تر څارنی لاندی نیول کیږی، دغه ډول څارنی ته روښانتیا یا شفافیت وایی.

**شکایت یا اعتراض**
شکایت یا اعتراض دی ته وایی چی یو وګړی یا یو ډله د څارنی یو ارګان ته د بشری حقوقو څخه د سرغړونی په وجه عرض وړاندی کړی.

**د قانون د احکامو د اجرآتو د څارنی او د استخباراتو د څارنی تر مينځ توپير**

د قانون د اجراآتو څارنه اصولا هغه یو میکانیزم دی چی د تورن کسانو د جنایی فعالیتونو په هکله اسناد او شواهد ټولوی، حال دا چی استخباراتی څارنه دی ته وایی چی د ملی امنیت پر خلاف د ګواښونو په هکله معلومات ټولوی. البته هرمرو نه ده چی دغه معلومات جنایی فعالیتونو یا جرایمو پوری اړه ولری. د څارنی لپاره د استخباراتی ادارو اختیارات ډیری وخت څرګندوالی نه لری، بلکه ډیری وخت پر اټکلونو او امکاناتو ولاړ دی، په همدی وجه هغه کسان چی تر داسی څارنی لاندی نیول کیږی، دیر زیات د بشری حقوقو له ساتنی څخه برخه من نه دی. د ډیری استخباراتی عملیاتو د څارنی موده د جنایی جرمونو د څارنی د مودی په پرتله اوږده ده. دغه سرچینی دی وکتلی شی:
(Cameron,I, ; see also Broddeur, J-P. And Gill,P)

**د استخباراتو د کنترول او د استخباراتو د څارنی او د استخباراتو د پلټنی ترمينځ توپير**

د کنترول درلودلو معنی په یو سپارل شوی استخباراتی ماموریت باندی د اداری او نفوذ لپاره د دندی، مسؤلیت او صلاحیت درلودلو معنی ده. څارنه د کنترول په پرتله بله معنی لری، څارنه د دی غوښتنه نه کوی چی یو « څارونکی سړی» دی دنده یا مسؤلیت ولری ترڅو د هغو د تصمیم نیونی او یا یی نتیجی اغیزمنی کړی. پلټنه هغه یو ماموریت دی چی له استخباراتی ادارو څخه بهر ارګانونه د استخباراتی ادارو کار او قانونیت او فعالیتونه تر څارنی لاندی نیسی.

**قانونيت**

د Nullum,crimen, nulla poene sine lege چی دقانونیت د اصل په نامه هم یادیږی، حکم کوی چی جنایی عمل هغه وخت د سزا وړ دی چی: ۱- د عمل په وخت کی داسی قانونی حکم موجود وی چی هغه عمل جنایی وګڼی، ۲- د عمل په وخت د هغه جرم په اړه یو قانونی حکم وضع شی.

**د قانون آزمايښت د کيفيت له لحاظه**

په یوه دیموکراتیکه ټولنه کی ځینی بشری حقوق لکه د شخصی مسایل ساتنه، د فکر، وجدان او دین آزادی، د بیان آزادی او د ټولنو جوړلولو آزادی کیدای شی چی د ملی امنیت او د عامه ښیګڼو په وجه محدود کړای شی. خو د اروپا د بشری حقوقو منشور (ECHR) وایی چی دغه ډول محدودیت باید له قانون سره سم وی. د اروپا د بشری حقوق د محکمی(ECHtR) قوانین وایی چی امنیتی او استخباراتی خدمات یوائی هغه وخت کولای شی چی له ځانګړو صلاحیتونو څخه کار واخلی چی د قانون پر بنسټ یی پریکړه شوی وی. د دی لپاره چی یو قانون ته د «د کیفیت د آزمایښت» له نظره قانون وویل شی باید دغه لاندی شرطونه پوره کړی:

۱- یو نورم یا قانون باید په کافی اندازی د کار اخیستو وړ وی او په پوره ځیرتیا هغسی بیان شی چی د اولس هر وګړی وکړای شی د هغه له مخی خپل چلند سمبال کړی؛

۲- یو نورم یا قانون باید د وړاندوینی وړ وی او باید له صلاحیتونو څخه د نا محدودو کار اخیستو لپاره اجازه ور نه کړی؛

۳- یو قانون باید د لاس وهنی لپاره لړترلږه د چالچلندونو څرنګوالی وټاکی.

**د اجرائيی له خوا کنترول/ د وزيرانو له خوا کنترول**

د اجرائیی قوه د حکومت د مرکزی او سیمه ایز یا محلی ادارو له خوا د استخباراتی خدماتو کنترول کوی. د اجرائیی قوه د امنیتی او استخباراتی ادارو بودجه، عمومی پالیسی او د هغو ادارو د فعالیتونو ړومبیتوبونه ټاکی. د دی لپاره چی د اجرائیه قوی اغیزمن کنترول د ډاډ وړ وګرځی وزیران باید هغو معلوماتو او ارزونو ته لاس اوږد کړای شی چی د امنیتی او استخباراتی ادارو په اختیار کی دی. د دغو معلوماتو او ارزونو له لاری وزیران کولای شی چی د اړتیا په صورت کی د هغو ادارو د فعالیتونو او چلندونو په هکله عامو خلکو ته ریوټ ورکړی. له بهر څخه د هغو ادارو کنترول د ځینو خاصو

دفترونو او ارګانونوله خوا لکه د استخباراتی هم غږیو کمیساری، د استخباراتی څارنی بورد، د پالیسی د پلټنې کمیتی او عامی پلټنی دفترونه چی په مستقیمه توګه وزیرانو ته رپوټ ورکوی، سرته رسول کیږی.

**داخلی کنترول**
د دی لپاره چی ډاډینه وشی چی د استخباراتی خدماتو مامورین د دیموکراتیکو معیارونو له مخی یی عمل کړی دی که نه، د استخباراتی خدماتو په چوکاټ کی باید یو ډول د قانون ساتنی میکانیزم موجود وی. د چالچلند لپاره یو لارښود لیک باید جوړ شی چی د هغو ادارو کارکونکی د هغه له مخی عمل وکړی. سربیره پر دی د ناوړه استفادو او د سرغړونو د مخی نیوی لپاره باید د استخباراتی ادارو کارکونکی وروزل شی چی څرنګه د خپل یو آمر د غیر قانونی سپارښتنی او امر په وړاندی څه ډول چلند وکړی. د استخباراتی خدماتو په چوکات کی باید داجراآتو د داخلی کنترول لپاره یو خاص ارګان جوړ کړای شی.

**عام پلټونکی**
په عمومی توګه د عام پلټونکی اصطلاح د حکومت هغه پوځی یا ملکی مامور ته ویل کیږی چی د تحقیقاتو دنده په غاړه لری. د استخباراتو په چوکاټ کی عام پلټونکی د اجرائیه قوی له خوا د یو لړ ماموریتونو د تر سره کولو لپاره ټاکل کیږی، د بیلګی په توګه له قانون او د حکومت له پالیسو سره د استخباراتی خدماتو د سمونوالی څارنه او داستخباراتی ادارو د فعالیتونو پلټنه؛ سربیره پردی، عام پلټونکی دنده لری خپل اجراآت په منظمه توګه اجرائیی (یاپه ځینو حالاتو کی پارلمان) ته رپوټ ورکړی.

**پټ معلومات**
سری یا پټ معلومات د ملی امنیت د هغو موادو او معلوماتو څخه دی چی د هغو غیر مجاز بربنډول د یو هیواد ملی دفاع او یا بهرنیو اړیکو ته تاوان ورسوی. نو په دی وجه غوښتنه کیږی چی دغه مواد او معلومات پټ وساتل شی. د دغو مواو د پټوالی یا محرمیت کچه د هغو حساسوالئ څرګندوی. ډیر وخت داسی هم پیښیږی چی حساس معلومات د ځینو اړتیاوو له مخی خپاره کیږی. دغه لاندی مثال چی د امریکا متحده ایالاتو له استخباراتو حخه اخیستل شوی، د معلوماتو د پټوالی یا محرم توب کچه ښکاره کوی: **۱- د لومړی درجی پټوالی:** دا هغه معلومات دی چی په ډیر لوړه کچه باید پټ وساتل شی او داسی تعریف شوی چی د هغو د بربنډیدو په صورت کی ملی امنیت ته سخت تاوان رسول کیږی؛ **۲- د دوهمی درجی پټوالی:** دا هم هغه معلومات دی چی باید پټ وساتل شی او د هغو د بربنډیدو سره هم ملی امنیت ته سخت تاوان رسیږی؛ **۳- باوری اسناد:** دا هغه معلومات دی چی د پټوالی کچه یی لږ څه راټیټه ده اود هغو بربنډولو سره هم ملی امنیت ته تاوان اوړی؛ **۴- حساس خو ناپټ یا غیر سری:** دا هغه معلومات دی چی ملی امنیت پوری اړه نه لری خو د هغو بربنډول هم د تاوان لامل ګرځی؛ **۵- ناپټ - په غیر تخنیکی توګه پټ:** دا هغه معلومات دی چی نیمګړتیاوی لری او د حساسو معلوماتو په جمله کی نه راځی، دا ډول معلومات کیدای شی چی پرته له کوم خنډ څخه د عامو خلکو په اختیار کی پریښودل شی. هغه معلومات چی د هغو د پټوالی موده تیره شوی وی او یا یو صلاحیت لروکی ارګان د عامه کتو لپاره د هغو پټ ساتل لازم نه ګڼی، کیدای شی چی د ناپټ معلوماتو په کچه کی درجه بندی شی.

**په دیموکراتیکه توګه داستخباراتی خدماتو ځواب ورکونه**
که څه هم پټوالئ د استخباراتی خدماتو د کار یو بنسټیز شرط دی، خو په یو لیبرال دیموکراتیک حکومت کی استخبارات باید د قانون د واکمنی، پلټنی، انډول ساتنی او روښانتیا (شفافیت) سره سم خپل مسؤلیت تر سره کړی، په دیموکراتیکه توګه د استخباراتی خدماتو ځواب ورکونه د ټاکل شوی قانونی چوکاټ کی د هغوی د چالچلندونود اغیزمنتوب ښکارندوی دی. د هغوی ځواب ورکونی مسؤلیت پر

پنځو ستنو ولاړ دی: **۱- د اجرائیی کنترول؛ ۲- پارلمانی څارنه؛ ۳- قضایی پلټنه؛ ۴- د عامو خلکو په استازیتوب خپلواکه څارنه؛ ۵- خپله د استخباراتی ادارو له خوا داخلی کنترول.**

**د قانون مشروعیت**

د یو قانون یا د قانون جوړونی د یو ارګان او یا د قانون د پلی کونکي مشروعیت هغه یوه څه ته وایی چی په ټولنه کی اړوند اړخونه دا منی چی هغوی ټول د قانون پر بنسټ جوړ شوی، له اعتماد څخه برخه من دی، ارښت لری او هغو ته درناوی کیږی.

**خپلواک څارونکی**

هغه یو مقام دی چی دنده لری ترڅو هغه شکایتونه وپلټی او د هغو په هکله یو رپوټ برابر کړی چی خلکو د حکومت یا د عامه ادارو په هکله کړی دی. د دی لپاره چی له اجرائیه قوی او استخباراتی ادارو څخه د دغه مقام خپلواکتوب د ډاد وړ وګرځی، خپلواک څارونکی چی په ځینو هیوادونو کی د ځانګړی رپوټ ورکونکی په توګه هم یادیږی، د پارلمان له خوا ټاکل کیږی. هغه دنده لری چی پارلمان ته رپوټ ورکړی.

**خپلواکه څارنه**

د استخباراتی ادارو د ځواب ورکونی د پنځو ستنو یا بنسټونو څخه یوه هم خپلواکه څارنه ده. د دی کتاب د کار له چوکات سره سم په استخباراتی ادارو باندی خپلواکه څارنه د هغو ارګانونو له خوا کیږی چی د هغوی خپلواکتوب د قانون له مخی تنظیم شوی وی. د دغو خپلواکو څارنو د ارګانونو مثالونه دا دی: د پلټنی ملی دفتر، ځانګړی رپوت ورکونکی یا خپلواک څارونکی، خپلواک عام پلټونکی او عام تریبونال، مدنی ټولنه او څیړنیز یا نظریاتی مرکزونه .

**پارلمانی څارنه**

د مقننی یا قانون جوړونی قوه چی د قانون تصویبولو له لاری استخباراتی اداری تعریفوی او تنظیموی او هم د هغو صلاحیت او بودجه ټاکی، پارلمانی څارنه هم کوی. د مقننی په چوکاټ کی باید داسی میکانیزم موجود وی چی پارلمانی غړی وکړای شی د استخباراتی خدماتو کارکونکی د ځواب ورکونی لپاره احضار کړای شی. دغه میکانیزمونه عبارت دی له:

۱- د استخباراتی څارنی لپاره یو فعاله کمیته؛

۲- د استخباراتی خدماتو د بودجی د کنترول امکانات؛

۳- پټو معلوماتو ته د لاس اوږدولو امکانات؛

۴- د مدنی ټولنی له کارپوهانو سره د مشوری امکانات؛

۵- د پارلمان، حکومت، استخباراتی ادارو او مدنی ټولنی ترمینځ د رپوټ ورکونی د یو اغیزمن میکانیزم شته والی؛

۶- د غوړ نیونی د غونډی د جوړولو امکانات؛

۷- د څیړنو لپاره صلاحیت درلودل.

**څیړنیز او نظریاتی مرکزونه**

څیړنیز یا نظریاتی مرکزونه هغه مؤسسی دی چی د مسایلو، پیښو او چارو په څیړنو او ارزونو لاس پوری کوی او خپل اړوند نظریات څرګندوی. د مدنی ټولنو د تأسیساتو په توګه نظریاتی مرکزونه ځینی مهم نقشونه په غاړه لری چی هغه عبارت دی له:

۱- د حکومت او خلکو تر مینځ د مینځګړیتوب نقش؛

۲- د جاری مسایلواو یا د پیښیو په حال کی د موضوعاتو تشخیص اوارزونه، د اړوندو ستونزو په هکله د حل د لارو چارو لپاره وړاندیزونه؛

۳ـ د پاليسيو په موضوعاتو باندې  د فکرونو او ستونزو اړول؛
۴ـ د يوې خپلواکې او خبرلرونکې مرجعې  په توګه د پاليسيو په بحثونو کې خپل نظر څرګندول؛
۵ـ د هغو کسانو لپاره چې د پاليسيو په جوړولو کې ونډه لري د نظرياتو، افکاراو معلوماتو د رد اوبدل کولو لپاره غونډې جوړول (James Mc Gamm).
په حقيقت کې څېړنيز او نظرياتی مرکزونه عامو خلکو ته د حکومت له خوا د وړاندې شوی معلومات بديل وړاندې کوی.